د افغانستان اسلامي جمهوري دولت
اقتصاد وزارت

# د کابل ولایت پروفایل

## اقتصادي او ټولنيزې پراختیا ته یوه کتنه



د کابل ولایت د اقتصاد ریاست
وری - ۱۳۹۸



# د مطالبو لړلیک

**اختصارات / لنډیزونه ........................................................................... ۱**

**سریزه ........................................................................................ ۲**

**مننلیک......................................................................................... ۳**

**د کابل د والي پیغام........................................................................... ٤**

درود و تمنیات نیک تقدیم تان باد!................................................................. ٤

**لنډیز .......................................................................................... ٥**

**میتودولوژي(د جوړولو طریقه):.................................................................. ٦**

**د  سند پېژندنه ................................................................................. ۷**

موخې ........................................................................................... ۷

ځانګړنې ........................................................................................ ۷

د دغه سند جوړښت.............................................................................. ۷

## لومړی څپرکی ............................................................................. ۸

پوښتنلیکونه او د موادو  راټولولو وسایل:........................................................... ۸

موده:........................................................................................... ۸

د موادو د راټولولو میتودونه:...................................................................... ۸

د موادو  تحلیل: ................................................................................. ۹

رهبري او تخنیکي همکاري: ...................................................................... ۹

د موادو د راټولولو ټیم:........................................................................... ۹

**د کابل ولایت پېژندنه............................................................................ ۱۲**

د کابل د تسمیې وجه............................................................................. ۱۲

**د کابل ولایت عمومي وضعیت.................................................................... ۱۲**

په کابل ولایت کې امنیت: ........................................................................ ۱۲

په کابل ولایت کې حکومتوالي ................................................................... ۱٤

په کابل ولایت کې ملي او نړیوالې نادولتي ادارې .................................................. ۱٦

مدني ټولنې او سیاسي گوندونه ........................................................................ ۱۶
الف: مدني ټولنې ..................................................................................... ۱۶
په دې ولایت کې د سیاسي گوندونو نوملړ: ........................................................... ۱۸
خصوصي سکتور ...................................................................................... ۲۵
نفوس او سرشمېرنه ................................................................................. ۲۵
په کابل ولایت کې اقتصادي او ټولنیزه پراختیا......................................................... ۲۸
په کابل کې د جندر تحلیل .......................................................................... ۳۰
ټولنیز مکلفیت ....................................................................................... ٤۱
په کابل ولایت کې د اداري فساد تحلیل ............................................................. ٤۱
په کابل ولایت کې د نشه یي توکو تحلیل: ........................................................... ٤۳

## دویم څپرکی ................................................................ ٤٥

دعمومی وضعیت تحلیل................................................................................ ٤٥
دوامداره پرمختیایي موخې.............................................................................. ٤٥
په ښوونځیو کی د اسانتیاو سلنه : ..................................................................... ٤٥
لاندي جدول د هغه ښوونکو سلنه ښایې چې حدآقل د ښوونکو روزنی یا تربیه معلم زده کړې څخه فارغ شوې وې.... ٤٦
سرچینه: د پوهنی ریاستپه دولتي ادارو کې د ښځینه کارکوونکو تناسب د نارینه کارکوونکو پر وړاندې:............ ٤٦
د پنځه کلنی څخه په کم عمره ماشومانو کې د کم وزنی خپریدل.......................................... ٤٧
په کابل ولایت کې د پنځه کلنی څخه د کم عمره کوچنیانو د مړینې کچه: ................................ ٤٧
د یو کلنو کوچنیانو شمېره، چې د شرې پر وړاندې واکسین شوي دي د هغو کوچنیانو په نسبت، چې واکسین شوي نه
دي: ................................................................................................ ٤٨
په دې ولایت کې د میندو د مړینې کچه:............................................................... ٤٨
په کابل کې پر HIV/AIDS ناروغی د اخته ناروغانو شمېر او د هغو چې تشخیص شوي: ..................... ٤٩
د کابل ولایت د هغه وگړو شمېر (د ۱۵ – ۴۹ کلونو تر منځ عمر لري) چې د HIV/AIDS په اړه کافي او هر اړخیزه پوهه
ولري: ............................................................................................... ٤٩
په دې ولایت کې د ملاریا خپرېدنه، د ملاریا پورې تړلې د مړینې پېښې او وقایې او درملنې تدابیر:.................. ٥۰
توبرکلوز له امله مړینې، تشخیص شوې او درمل شوې پېښې:............................................. ٥۰
بریښنا................................................................................................. ٥۱
د اوبو زیرمې ........................................................................................ ٥۱
مهاجرین: ............................................................................................ ٥۲

د ژوند د چاپېریال ساتنې یقیني کول ........................................ ۵۲
د امنیت سکتور ........................................ ۵۳
لاندې جدول په کابل ولایت کې د ناچاوده توکو په اړه د عامه پوهاوي پروګرامونو شوونه کوي: ........................................ ۵٤
د سولې تحلیل ........................................ ۵۸
د حکومتوالۍ، قانون حاکمیت او د بشر حقوقو سکتور ........................................ ۵۹
لاندې جدول د هرې ادارې د کارمندانو په اړه پوره معلومات وړاندې کوي: ........................................ ۵۹
لاندی جدول د کابل په ولایتی ادارو کې د انټرنیټ د اسانتیاو په اړه معلومات وړاندی کوی. ........................................ ٦٥
په کابل ولایت کې عدلي او قضایي ارګانونه: ........................................ ٦٦
په کابل ولایت کې د محبسونو وضعیت ........................................ ٦٧
پر عدلي او قضایي ارګانونو د خلکو باور ........................................ ٦٧
د فساد د مخنیوي لپاره د میکانیزم جدول ........................................ ٦٨
بشري حقوق ........................................ ٦٨
مدني حقوق ........................................ ٦٩
انتقالي عدالت ........................................ ۷۰
مذهبي چارې ........................................ ۷۱
دکابل په ولایت کې د مذهبی پوهاوی لپاره لاندی کمپاینونه په کار اچول شوی دی. ........................................ ۷۲
د کابل په ولایت کی لاندی مذهبی کتابتونونه موجود دی ........................................ ۷۲
کوچیان ........................................ ۷۲
طبیعي پېښې ........................................ ۷۳
د اقتصادي او ټولنیزې پراختیا سکتور ........................................ ۷٤
سرکونه ........................................ ۷٤
ترانسپورت ........................................ ۷۵
برېښنا ........................................ ۷۵
چاپېریال ساتنه ........................................ ۷٦
عواید ........................................ ۷۷
معادن او طبیعي زېرمې ........................................ ۷۷
د اوبو زیرمي: ........................................ ۷۷
معلوماتي او ارتباطي تکنالوژي ........................................ ۷۸
پوهنه، رسنۍ، فرهنګ او ځوانان ........................................ ۷۹

فرهنگ ........................................................................................................ ۸۰
رسنی ........................................................................................................ ۸٤
روغتیا او تغذیه ........................................................................................ ۸۷
کرنه او د کلیو پراختیا ............................................................................. ۹۱
د کلیو پراختیا ........................................................................................... ۹۳
ټولنیز خوندیتوب ...................................................................................... ۹۵
مهاجرین ....................................................................................................... ۹۵
## دریم څپرکی ................................................................................... ۹٦
دکابل ولایت پرمختیای بودجه اود ۱۳۹۷ مالی کال لگښت : .................................... ۹٦
معارف: ......................................................................................................... ۹٦
بودجه معارف ............................................................................................... ۹٦
زراعت: ......................................................................................................... ۹۷
بودجه: .......................................................................................................... ۹۸
صحت عامه: .................................................................................................. ۹۹
بودجه بخش صحت ........................................................................................ ۹۹
انرژی و آب: ................................................................................................ ۱۰۰
بودجه ......................................................................................................... ۱۰۰
فواید عامه: ................................................................................................. ۱۰۱
بودجه: ......................................................................................................... ۱۰۱
پروژه های انکشاقی کابل: ............................................................................ ۱۰۳
## څلورم څپرکی ................................................................................. ۱۱۲
پروسس وتجارت انگور،ایجاد سردخانه ها و مراکزبسته بندی آن ............................. ۱۱۲
تحلیل اقتصادی محصول: ................................................................................ ۱۱۲
نتیجه گیری : ................................................................................................ ۱۱۳
## پنځم څپرکی ................................................................................... ۱۱٤
دافغانستان د سولې او پراختیا د ملي لومړیتوبونو دبرنامو لنډیز (ANPDF/ NPPs) ..................... ۱۱٤
د افغانستان جغرافیایي-اقتصادي (جیواکانومیک) موقعیت ........................................ ۱۱٤
د ملي یوالي حکومت ..................................................................................... ۱۱٥

سیاسي او امنیتي لرلید: ........ ۱۱۵
اقتصادي لرلید: ........ ۱۱۶
۱. دخصوصي سکټور د پراختیا پروګرام........ ۱۱۶
خصوصي سکټور د ودې له لارې د کاري فرصتونه رامنځته کول ........ ۱۱۷
۲. د ولسي ترون پروګرام ........ ۱۱۸
ولسی تړون به د خدمتونو لړ تر لړ معیارونه وړاندې کړي ........ ۱۱۸
۳. د اغیزمنې حکومتولی پروګرام ........ ۱۱۹
الف) د عامه سکټور سمون ........ ۱۱۹
د یوې اغیزمنې او ځواب ویونکې ملکي ادارې رامنځته کول ........ ۱۱۹
ب) د اداري فساد د ریښو ایستل: ........ ۱۲۰
د اداري فساد پر وړاندې د حکومت د پلان عمده ټکي: ........ ۱۲۰
ج) د سیمه ایزې حکومتولۍ پیاوړتیا ........ ۱۲۰
د) نشه یي توکو پر وړاندې مبارزه........ ۱۲۱
۴. دعدلي سکټور د رغولوپروګرام ........ ۱۲۱
عدالت ته دټولو افغانانو لاسرسی:........ ۱۲۱
۵. دکرنې د پراختیا هر اړخیز پروګرام........ ۱۲۲
د کاري زمینې رامنځته کول، د حاصلاتو زیاتول او کروندګرو لپاره د بازارونو پرانستل: ........ ۱۲۳
۷. دښاري پراختیا پروګرام ........ ۱۲۳
۸. د انرژۍ پروګرام ........ ۱۲٤
د زیربیناوو او انرژۍ د پراختیا لپاره د ملي لومړیتوب پروګرام........ ۱۲۵
۹. دکانونو او طبیعي سرچینودپراختیا ملي پروګرام: ........ ۱۲۵
د غوره اقتصاد لپاره د استخراجي سکټور پیاوړي کول ........ ۱۲۶
۱۰. د بشري سرچینود پراختیا پروګرام ........ ۱۲۶
د اقتصادي ودې د رامنځته کولو په موخه بشري سرچینو ته پراختیا ورکول ........ ۱۲۷
۱۱. د ښځود اقتصادي پیاوړتیا پروګرام ........ ۱۲۷
افغانستان د جندر یا جنسیت تګلاره : ........ ۱۲۷

## شپږم څپرکی ........ ۱۲۸

په افغانستان کې د ژوند د وضعیت سروې........ ۱۲۸
په ملي کچه د ژوند د وضعیت سروې : ........ ۱۲۹

د کابل ولایت د خلکو د ژوندانه د وضعیت په اړه ترسره شوې سروې ............................................. ۱۳۱
په ملي کچه د احصاییوي شاخصونو انتخابي ټولګه ............................................................................. ۱۳۲
## اووم څپرکی ........................................................................ ۱۶۵
د افغانستان دوامداره پرمختیایی موخې A-SDGs لنډه پیژندنه ................................................ ۱۶۵
د بنسټیز انکشاف د موخو لرلید SDGs: ................................................................................ ۱۶۵
په سمبولیک ډول د اولسو موخو ........................................................................................... ۱۶۶
لنډیز: ........................................................................................................................... ۱۶۶
د افغانستان لپاره بنسټیزې پراختیایي موخې A-SDGs: ......................................................... ۱۶۶
د افغانستان لپاره د بنسټیزو پراختیايي موخو د تطبیق مرحلې A-SDGs: ................................. ۱۶۷
سرچینې او مأخذونه: ......................................................................................................... ۲۰۰
دولایت په کچه : ............................................................................................................. ۲۰۰

# اختصارات / لنډیزونه

| | |
|---|---|
| MoEc | وزارت اقتصاد |
| CSO | نهاد جامعۀ مدنی |
| DDA | مجتمع انکشافی ولسوالی |
| GDDC | ریاست عمومی طرح و توحید |
| DGO | دفتر مقام ولسوالی |
| ISLA | ابتکار تقویت سازی ادارات محلی |
| IDLG | اداره مستقل ارگانهای محلی |
| INGO | نهاد بین المللی غیر-دولتی |
| LoGo | حکومتداری محلی (پروژۀ که توسط UNDP تمویل میشود) |
| M&E | نظارت و ارزیابی |
| MoF | وزارت مالیه |
| MoWA | وزارت امور زنان |
| PAP | پلان سالانۀ ولایتی |
| PBP | پالیسی بودیجۀ ولایتی |
| PC | شورای ولایتی |
| PCM | اعضای شورای ولایتی |
| PCO | دفتر شورای ولایتی |
| PDC | کمیتۀ انکشافی ولایتی |
| PDPG | رهنمود پلانگذاری انکشافی ولایتی |
| PGO | دفتر مقام ولایت |
| PSP | پلان استراتیژیک ولایتی |
| DoEc | ریاست اقتصاد ولایتی |
| PIMS | سیستم مدیریت معلومات ولایتی |
| PTC | کیمتۀ تخنیکی ولایتی |
| PPFMC | کمیتۀ مدیریت محاسبۀ عامۀ ولایتی |
| PSTC | کمیتۀ تخنیکی سکتور ولایتی |
| PLMD | ریاست ولایتی وزارت مربوطه |
| PPP | پالیسی پلانگذاری انکشافی ولایتی |
| TC | کمیتۀ تخنیکی |
| USAID | ادارۀ انکشاف بین المللی ایالات متحده امریکا |
| WB | بانک جهانی |
| UNDP | برنامۀ انکشافی ملل متحد |

# سریزه



په دې کې هيڅ شک نشته چې افغانستان د انساني، فرهنگي، ټولنيزو او اقتصادي سرچينو ساتنې او پراختيا ته اړتيا لري تر څو وکړای شي د پراختيا بهير د هغه پر بنسټ عيار او همغږی کړي. د دې بهير د اړينو مسئلو له ډلې څخه د سوداگری، ټرانزيټ، صنعت، لاسي صنايعو، داخلي توليداتو او په علمي او تخصصي شتمنۍ باندې سمبال انساني ځواک او شته پرمختيايي سرچينې دي چې د کرنيزو محصولاتو او نورو اقتصادي بل القوه پوټنشيلونو د ودې او پرمختيا لپاره لاره هواروي.
ښکاره خبره ده، په هره اندازه چې ښه پلان جوړونه وشي او ښه لارښودونه برابر شي نو په هماغه اندازه به د ودې او پراختيا بهير په منظمه او ښه توگه پر مخ ولاړ شي او ټولنه به د هوساينې او پرمختگ په لوري وليږدوي.
په داسې حالاتو کې د مالوماتي ټولگې يا ولايتي پروفايل شتون، د بشري ټولنې په بيلابيلو برخو په تيره بيا د پلان جوړونې او پاليسي جوړونې په برخو کې خورا مهم او اړين گڼل کيږي.
د اقتصاد وزارت وياړي چې د هيواد په کچه د يو ريښتيني بنسټ د ټاکلو په موخه او د ولايتونو د شته حالاتو په تړاو کره مالوماتو ته د لاسرسی په برخه کې اسانتيا برابره کړي او د پلان جوړونکو، څيړونکو، دولتي ادارو، مرسته کونکوو مؤسسو، خيريه بنسټونو، زده کوونکو او ليکوالانو لپاره ولايتي پرمختيايي او اقتصادي معلوماتي ټولگه(پروفايل) جوړ کړي. دغه پروفايل د تخنيکي کميټې له خوا چې مرکزي او ولايتي مسلکي کارکوونکو په کې گډون درلود او د دولتي ادارو، نادولتي مؤسساتو، ځوانانو، د پوهنتونونو د ښوونکو، غوره کسانو، پوهانو، مدني ټولنې او نورو اړونده مرکزي او ولايتي نهادونو په مرسته او همکاری جوړ شوی او د افغانستان د خلکو خدمت ته وړاندې کيږي.
ياد پروفايل تر ډيره بريده پر عامه هوساينې او د اقتصادي او ټولنيز حالت پر څرنگوالي، تاريخي قدامت، د پرمختيايي سکټورونو د حالت پر ارزونې، زيربنا او نورو مهمو پرمختيايي مسايلو باندې تمرکز لري او په ټوليز ډول سره د ولايتونو اقتصادي او ټولنيز ليرليد لکه اقتصادي او ټولنيز ظرفيتونه، د اقتصادي ودې او پرمختيا په وړاندې ننگونې، د اقتصادي هوساينې او اقتصادي حالت د ښه والي په برخه کې شته فرصتونه مطالعه کوي او ارزوي.
ولايتي پرمختيايي او اقتصادي مالوماتي ټولگه(پروفايل) مرسته کوي تر څو بوديجوي نهادونه، د پرمختيايي پلان جوړونې بهير د ولايت د اقتصادي او ټولنيزو اړتياوو او لومړيتوبونو پر بنسټ تنظيم کړي او د نړيوالې ټولنې مالي مرستې د ولايت له اړتياوو او لومړيتوبونو سره همغږي کړي تر څو د ولايت په کچه د عامه هوساينې د سمون لپاره لاره هواره شي.
زه له دې فرصت څخه په گټه اخيستنې د ولايتي پروفايل جوړولو د کميټې له غړو څخه په ځانگړې توگه مننه کوم او د نورو دولتي ادارو او مدني ټولنې نهادونو د کارکوونکو، کارپوهانو او ټولو هغه کارکوونکو څخو او زيار ته د قدر په سترگه گورم چې په دې کار کې ښکيل اوو.

**ډاکټر مصطفی مستور**

**د اقتصاد وزير**

# مننلیک



خوښ یم چې نن د اقتصادي او ټولنیزې پرمختیا د پلان جوړونې په برخه کې د یو بل ستر گام شاهد یم. دغه لاسته راوړنه چې د ولایتي پرمختیایي او اقتصادي مالوماتي ټولګې(پروفایل) جوړول دی ، له شکه پرته د ولایتونو په کچه د یو ټولیز لارښود او مالوماتي سرچینې په توګه، د پانګه والو او تمویلونکو نهادونو د جلبولو له لارې د اقتصادي او ټولنیزې ودې او پرمختیا لپاره لاره هواروي.

دغه پروفایل کولای شي د ولایت د ماضي او راتلونکي په هکله یو ریښتینی انځور وړاندې کړي او په اغیزمن ډول سره، د دقیقې پلان جوړونې او پانګونې لپاره لاره هواره کړي. د ولایتونو پروفایل د ولایت د شته پرمختیایي حالت تر څیړنو او ارزونو وروسته له دولتي ادارو، ولایتي شوراګانو، د مدني ټولنې نهادونو، کارپوهانو، ښځو، د پوهنتونونو د ښوونکو سره په مشوره کې جوړ شوی دی. باید اعتراف وکړو چې د یو تخنیکي او مسلکي ټیم په نه شتون کې، د داسې یو پروفایل جوړول ګران او حتی ناشونی وو. له همدې امله، د ولایتي پروفایل جوړولو په موخه یوه تخنیکي کمیټه جوړه شوه چې د طرحې او توحید لوی ریاست د ولایتي چارو تخنیکي کارکوونکو په کې ګډون کړی وو او د سیمه ییزی حکومتوالی ( لوګو) پروژې د سلاکارانو په همکاری او د طرحې او توحید لوی ریاست تر مشری لاندې تر سره شو. له همدې امله اړینه ګڼم چې د طرحې او توحید لوی ریاست او کمیټې له رئیس ډاکټر میرویس بهیج ، د ولایتونو د اقتصادي فعالیتونو د انسجام له آمر ښاغلي عبدالرحمن کمین، د پلان جوړونې چارو سلاکار ښاغلي سمیع الله ناظمي اود ښاغلی لعل محمد ولی زاده دکابل ولایت داقتصاد د رئیس څخه په ځانګړې توګه مننه او قدرداني وکړم چې په خپلو هڅو او زیار سره یې د یاد پروفایل د جوړولو لپاره لاره هواره کړه.

همداډول، د ولایتي مسئولینو او کارکوونکو له همیشنی همکاری څخه چې په دې برخه کې یې زموږ سره همکاری کړې، مننه کوم.

داسند په اته فصلونوکی جوړشوی دی چی دولایت دمعرفی او پیژندنی په شمول دولایت اقتصادی ظرفیتونه ، دخلکو دژوندانه وضعیت، تولنیز اوکلتوری بنستیونه، دولایت پرمختیایی وضعیت، دپانګی اچونی وضعیت، دولایت په کچه پرمختیایی بودجه او لګښت ،دنادولتی موسساتو دفعالیت څرنګوالی ، اقتصادی او تولنیزو مهمه شاخصونه او دافغانستان لپار دبنسټیزو پراختیایی موخو په هکله معلومات را تول شوی دی .

هیله من چې دغه پروفایل به وکړای شي د عامه هوساینې او افغانستان د شریفو خلکو د سوکالۍ په برخه کې ګټوره او اغیزمنه ونډه ولري.

**محمد اسماعیل رحیمي**

**داقتصاد وزارت مسلکي معین**

# د کابل د والي پیغام

## درود و تمنیات نیک تقدیم تان باد!



کشور عزیز ما افغانستان در چندین دهه جنگ و بی ثباتی، تمام زیربنا های خویش را اعم از اقتصادی، اجتماعی و فرهنگی از دست داد و به وضعیت اسفباری دچار گردید. با سقوط سلطهٔ مخالفین مسلح بنام تحریک طالبان و تشکیل دولت جدید روزنه هایی امید برای زندگی بر روی مردم باز شد. با گذشت نزدیک به دو دهه تحولات عمده ایی در ساختار سیاسی، اجتماعی و اقتصادی کشور بوقوع پیوست که قابل مقایسه با دوران قبلی نیست. اما برای داشتن یک کشور با ثبات نیاز است تا برنامه ها و طرح های مشخصی در عرصه های مختلف بخصوص در بخش های انکشاف اقتصادی و اجتماعی که تاثیرات آنی بالای سطح زندگی مردم و رفاه عامه دارد، روی دست گرفته شود.

برنامه ریزی در تمام سطوح بالایی و پائینی استوار بر ارقام و معلومات دقیق و همه جانبه می باشد تا بتواند از ضیاع وقت و منابع جلوگیری نموده و تاثیرات مثبت از خود بجا بگذارد. زیرا بدون موجودیت معلومات کافی و ارقام روشن و ثابت تحلیل واضح و مبتنی بر حقایق و واقعیت از وضعیت انکشاف اقتصادی و اجتماعی جامعه مورد نظر ممکن نبوده و برنامه های مطروحه فاقد موثریت لازم، تطبیق گردیده وسبب ضیاع و اتلاف منابع می گردد.

به همین منظور مقام رهبری ولایت کابل از تصمیم وزارت محترم اقتصاد مبنی بر ترتیب پروفایل ولایتی استقبال نموده، به ادارات ذیربط هدایت داده شد تا در ترتیب پروفایل ولایتی که انعکاس دهنده انکشاف اقتصادی و اجتماعی این ولایت بوده باشد و بحیث یک منبع مهم معلوماتی بتواند در ترتیب برنامه ها و طرح های اقتصادی استفاده بعمل آید، با ریاست اقتصاد همکاری لازم نمایند. از اینرو، سند هذا، مطابق رهنمود و میکانیزم ترتیب پروفایل ولایتی در هماهنگی و همکاری با ادارات ذیربط دولتی ترتیب و تدوین گردیده است که بیانگر چگونگی حالت انکشاف اقتصادی و اجتماعی ولایت کابل و برنامه های ملی می باشد.

خوشبختانه ولایت کابل شرایط و بستر های مناسب برای انکشاف اقتصادی در عرصه تولید محصولات زراعتی وباغداری، مالداری، صنایع دستی، ظرفیتهای ترانسپورتی و حمل نقل در سطح ملی و منطقه یی را در خود جای داده که این سند معلومات لازم را در بخش های فوق احتوا می نماید که برای ادارات پالیسی ساز، موسسات غیردولتی و سرمایه گذاران مفید و ممد واقع خواهد گردید.

رهبری ولایت کابل متوقع است که وزارت محترم اقتصاد در همکاری و هماهنگی با وزارت ها و ریاست های مستقل در زمینه سرمایه گذاری جهت بهبود وضعیت انکشاف اقتصادی و اجتماعی با درنظرداشت منابع، امکانات و ظرفیت های بالقوه درسطح ولایت کابل گامهای موثر را اتخاذ نمایند.

**محمد یعقوب حیدری**

**والی کابل**

# لنډیز

اقتصادي وده او د هیواد په کچه انډولیزه پراختیا د حکومت له اساسی لومړیتوبونو ګڼل کیږی. د یوی واقعی ملي اجنډا په توګه حکومت هڅه کړی څو د نړیوالی ټولنې په مالی او تخنیکی مرسته یادی موخی ته رسیدنه یقینی کړی. د تیری یوی نیمی لسیزی هڅو وروسته که څه هم په ډیری برخو د پرمختګونه تر سترګو کیږی اما لا هم ډیر څه ته اړتیا لیدل کیږی.

دا چی متوازن پرمختګ د واضحو تګلارو او مشخصو پالیسیو شتون لپاره اړین بلل کیږی او د تیرو څو کلونو تجاربو ښودلی چی پدی برخه کی د دقیقو احصائیوی ارقامو او کره معلوماتو نشتون په ملی کچه جدی ستونزه وه، په ځانګړې ډول د ولسوالیو او لری پرتو سیمو. اقتصاد وزارت د وظیفوي مسؤولیت له مخی تل هڅه کړی څو د مختلفو مراجعو ارقام جمعآوری او د پراختیائي ستراتیژیو په جوړولو کی ورڅخه ګټه پورته کړی. بی له شکه دقیقه احصائیه سربیره نه یواځی دا چی د سرچینو د بیځایه مصرف مخنیوی کوی بلکه د اقتصادی او پراختیائي برنامو د موثریت لامل ګرځی او همداراز متوازن پرمختګ یقینی کوي. د ارقامو او معلوماتو اهمیت ته په کتنه، پدی وروستیو کی اقتصاد وزارت ولایتی څانګو ته د ولایتی پروفایلونو جوړولو لارښوونه کړیده. ولایتی پروفایلونه به د سکتور په کچه تحلیلی ارقام او معلومات ولری څو پر مټ یی پالیسی سازی اداری د معلوماتی بستو (ډیټا بانک) په حیث د هغی څخه د پراختیائي پلانونو او برنامو په جوړولو کی کار واخلی.

د ننګرهار ولایت پروفایل د یوی مشورتی پروسی له لاری د ټولو ذیدخلو خواو سره په ګډه همغږۍ د سکتوری ادارو د ارقامو او معلوماتو په اساس جوړ شویدی. هڅه شویده څو د معتبرو دولتی اسنادو او مراجعو څخه دقیق او کره معلومات راجمع، تحلیل او په پروفایل کی ځای پر ځای شویدی. د هر سکتور تیر حالت ته لنډه کتنه شوی او فعلی وضعیت یی په ډیر ښه ډول تشریح شویدی. کرهنه او د کلیو پراختیا، پوهنه، کلتور، رسنۍ او سپورت سکتور، عامی روغتیا او تغذی، اقتصاد او خصوصي سکتور، د بنسټونو او طبعی زیرمو او ټولنیز خوندیتوب سکتورونه د عمومی جغرافیائي موقعیت او دیموګرافیک معلوماتو سربیره په دغه سند کی په کلی ډول څیړل شویدی. تمه ده د ننګرهار ولایت اړونده اداری به د یاد پروفایل له معلوماتو څخه د اقتصادی او پراختیائی ستراتیژیو، برنامو او پروژو جوړولو په برخه کی ګټه واخلی.

# میتودولوژي(د جوړولو طریقه):

د ولایت پروفایل د یوې منظمې او ځړنیزې طریقې پر بنسټ، د ولایت د شته حالاتو په هکله مالوماتو راټولولو په موخه، د افغانستان د ملي پرمختیا ستراتیژی، د افغانستان د سولې او پرمختیا ملي چوکاټ، ملي لومړیتوبونو پروګرام او افغانستان د دوامداره پرمختیا پروګرام موخو او شاخصونو ته په کتو، ترتیب شوی دی.
د پروفایل جوړولو لپاره، لومړی د اقتصاد وزارت د طرحې او توحید لوی ریاست د تخنیکي ټیم لخوا، د ولایتونو د اقتصاد ریاستونو کاري ټیمونو ته د پروفایل جوړولو او ارقامو غونډولو لاربښود ورکړل شو تر څو ټاکلو شاخصونو ته په کتو، د ولایتونو په کچه ټول شته ارقام راټول شي او د هغوی په رڼا کې د ولایتونو پروفایلونه جوړ شي. تر هغه وروسته، د ولایتونو د اقتصاد  ریاستونو کاري ټیمونو، په ولایتونو کې د مېشتو سکټوري ریاستونو په همکاري اړین مالومات د ولایت په کچه له بیلابیلو باوري ځېړنیزو مراجعو او سرچینو لکه د احصائیې ریاست او نورو دولتي نهادونو، خصوصي سکټور، داخلي او بهرني نادولتي مؤسسو، مدني ټولنې له نهادونو او نورو باوري مراجعو څخه د یوې پوښتنپاڼې له لارې راټول کړل او د ولایتي پروفایل په نامه یې یو واحد سند جوړ کړ.
پر دې سربېره، د ارقامو راټولولو او مالوماتو تر لاسه کولو په برخه کې، له ذیدخله اړخونو او پوهانو سره د ډله ییز کار او مرکو له طریقو څخه هم کار واخیستل شو. همداډول، د دې سند جوړولو په کار کې د باوري ملي او نړیوالو سرچینو او مأخذونو لکه د افغانستان د خلکو د حالت سروې، د ملي لومړیتوبونو پروګرام لنډیز، د ولایتونو د مالي مسئلو او بودیجې په اړه د مالیې وزارت ولایتي پروفایل، په ولایتونو کې اقتصادي طرحې او شته بل القوه ظرفیتونو، د افغانستان د سولې او پرمختیا ملي چوکاټ، د اقتصادي او ټولنیزو شاخصونو ټولګې او د افغانستان د دوامداره پرمختیا له موخو څخه هم کار اخیستل شوی دی.
په پای کې باید ووایو چې یاد سند، د طرحې  او توحید لوی ریاست د تخنیکي ټیم لخوا په دقیقه توګه کتل شوی او مطالعه شوی او له مخکې ټاکل شویو شاخصونو او معیارونو پر بنسټ، د ځېړکو او مندرجو ارقامو تر پرتله ییزې بیاکتنې وروسته چاپ ته سپارل شوی دی. دغه سند د یو ریښتیني بنسټ په توګه، د شته حالاتو ارزونه په سمه توګه وړاندې کوي او د ولایت د پرمختیایي پلان جوړونې د بهیر لپاره هم اسانتیا برابروي. همداډول، یاد سند پانګه وال او پرمختیایي همکاران هڅوي تر څو د پانګونې او دوامدارې پرمختیا د سمون په برخه کې رغنده او اغیزمنه ونډه واخلي.

# د سند پېژندنه

دغه سند چې تاسي يي لولئ، د کابل ولايتی پروفايل نوميږي، چې د دوامداره پرمختايي موخو (SDGs)د افغانستان د ملي پرمختيايي ستراتيژۍ (ANDS) او ملي لومړيتوب لرونکو پروګرامونو (NPPs) په چوکاټ کې د ولايت په کچه له دولتئي او نادولتئي ادارو،مدنی ټولنو او خصوصی سکتور څخه د امنيت، حکومتوالۍ او ټولنيزي اقتصادي پراختيا په سکتورونو کې دراټولي شوي ديټا او معلوماتو تحليل او څيړنه وړاندی کوي او موږ ته د کابل ولايت اوسنی وضعيت په هر اړخيز ډول راپيژني.

دولايتی پروفايل د چمتوکولو څخه دموخه د ستراتيژيک پلان لپاره دبنسټ ايښودل دی، چې د دي لومړی مرحلي د معلوماتو په رڼا کی به د ولايت لپاره لرليد،ماموريت،موخې او متوقعه پايلی ټاکل کيږي.

په هيواد کی د ولايت په کچه د معلوماتو د راټولولو د اغيزناک ميکانيزم نشتون يو له اساسی ستونزو څخه دی، چې د پلان جوړوني متخصصين او اړونده اداري ورسره مخ دی.

له نيکه مرغه د سيمه ييزو ارګانونو خپلواکه داري په دی وروستيو کې د سيمه ييزي پلان جوړوني داسی ميکانيزم رامنځته کړی چې د هيواد لپاره نړيوالي موخې،ملي موخي او ملي پروګرامونه په سيمه ييزه کچه پلی کوی او تطبيق يي يقينی کوی.

## موخې

الف- د دوامداره پرمختيايي موخو،ملي پرمختيايي ستراتيژۍ،ملی لومړيتوب لرونکو پروګرامونو او د سيمه ييز ادارو د پاليسۍ پروړاندي د ولايت د شاخصونو څرګندول

ب- د ولايتی ستراتيژيک پلان د تسويد دمرحلي بر مهال د لازمو معلوماتو څرګندول

ج- د ولايتی ستراتيژيک پلان د تطبيق د تحقيق پروړاندي د ولايتی ادارو پرمختګ د شاخصونو څرګندول.

## ځانګړني

- د SDG ټولي موخې او د ANDS ارکان رانغاړي، خو په يو محدو شمير کليدي شاخصونو تمرکز کوي.
- په سيمه ييزه کچه دپلی کيدو وړ دی او د سرچينو (بشری،مالي او تخنيکي) د اړتيا له پلوه مناسب دي.

## د دغه سند جوړښت

دغه سند پر څلورو عمده برخو ويشل شوی دی:

# لومړۍ څپرکی

لومړۍ  برخه، د کابل ولایت د عمومي وضعیت په اړه په دري ګونو سکتورونو (امنیت،حکومتوالۍ او اقتصادي او ټولنیزه پراختیا) کي په عمومي ډول معلومات وړاندی کوي او لوستونکي ته د ولایت په اړه یو لومړنی تصویر وړاندي کوي. دا هغه برخه ده چي په اړه يې معلومات د ولایت د راتلونکي ستراتیژیک پلان جوړولو (دويمي مرحلي) لپاره اړین دي.

د دي سند دویمه برخه، د دومداره پرمختیایي موخو ( SDGs) د شاخصونو او موخو په اړه معلوماتو ته ځانګړی شوي ده. البته هغه شاخصونه او موخي د معلوماتو راغونډولو لپاره غوره شوي چې په سیمه ییزه کچه د پیداکیدو، اندازه کیدو او ورته د هدف ټاکل کیدو وړ وو.

دریيمه برخه، موږ ته د افغانستان د ملي پراختیايي ستراتیژی (ANDS) څخه د غوره شویو شاخصونو  او موخو پر وړاندي معلومات راکوي.

څلورمه برخه، د ملي لومدیتوب لرونکو پروګرامونو په اړه ده، هغه پروګرامونه چې په سیمه ییزه کچه دپلي کیدو وړ دی، پروړاندي يې ډیټا او معلومات راټول شوی دي. تر ډیره بریده کوښښ شوی، چي په دي سند کی معلومات په لنډ او جامع شکل ځای پر ځای شي، د ښه پوهاوي په خاطر ځای، ځای تصویرونه هم لیدلی شی، دیوي موضوع د ښه روښانتیا په خاطر جدولونه او چارتونه هم کارول شوي دي.

## پوښتنلیکونه او د موادو  راټولولو وسایل:

پوښتنلیکونه چې د دوامداره پرمختیايي موخو، د افغانستان د ملي پراختیايي ستراتیژۍ د شاخصونو او موخو او د ملي لومړیتوب لرونکو پروګرامونو پر بنسټ، د سیمه ییزو ارګانونو خپلواکي اداري د ولایتي ستراتیژیک پلان جوړوني د کارپوهانو له خوا په کابل/ مرکز کې جوړ شوي وو، په امتحاني ولایتونو کې له تطبیق وروسته د یو ورکشاپ په ترځ کې يي بیا کتنه وشوه. د پوښتنلیکونو په دغه بیا کتنه کې د ترلاسه شویو تجربو او زده کړو پر اساس پوښتنلیکونه وارزول شول،ځیني پوښتنلیکونه له منځه ولاړل، ځیني تعدیل شول او ځیني نوی راجوړ شول او ځیني نور اړین تغیرات او سمووني رامنځته شوي، چي د کابل د پروفایل په جوړونه کي له دغو وروستنیو موادو څخه کار واخیستل شو.

## موده:

د داډول سندونو چمتوکول ډیر وخت ته اړتیالري، مګر په کابل ولایت کې د ولایت مقام په همکاري، یادي پروسي سره د اړوندو ادارو لیوالتیا او د سیمه ییزوارګانونو خپلواکي اداري د ولایتي ستراتیژیک پلان جوړوني کارپوهانو ترمنځ وخت پر وخت تخنیکي همکاري هغه څه وو، چې د دغه سند چاري په خپل وخت سره (د ۱۳۹۶ لمریز کال د چینګاښ میاشتي له پنځه ویشتمي نیټي څخه د لړم تر میاشتي پوري) بشپړي شوي.

## د موادو د راټولولو میتودونه:

لکه څرنګه چې مخکي یاونه وشوه، د اړینو معلوماتو لاسته راوړلو لپاره پوښتنلیکونه ترتیب شوي وو او د لاندي میتودونو څخه کار واخیستل شو.

- د ثانوي یا دویمی معلوماتو ټولول: اداراتو سره نیغ په نیغه اړیکه ونیول شوه او د هغو سره دشته معلوماتو څخه کار واخیستل شو.

- ځینې هغه پوښتنې چې ځواب  به يې له اداراتو سره موجود نه و، په اړه يې ګردي ميزونه داير شول او د نظر خاوندانو د نظر پوښتلو له لارې ورته ځواب پيداشو.
- ولسواليوته سفرونه: د ولايت په مرکز کې به هم د ولسواليو په اړه ځينې معلومات موجود وو، خو ځيني داسي معلومات په کاروو، چې ولسواليو ته له ورتګ پرته يې ترلاسه کول يې شوني نه وو، نوله همدی امله په نمونوي ډول د پغمان، چهار آسياب، استالف،سروبی او موسهی ولسواليو ته سفرونه وشول او اړين معلومات راټول شول.
- د تصادفي مرکو ترسره کول: د ځينو معلوماتو  ترلاسه کولو لپاره اړتياوه چې له بيلا بيل ګروپ خلکو سره چې پخوا ځخه غوره شوي، مرکې وشي، چې د کابل ښار په بيلا بيلو برخو کې له مختلفو خلکو سره او هم د ولسواليو د سفرونو  په جريان کې له خلکو سره دغه ډول مرکې ترسره شوي.
- له ځينو با اعتباره اسناودو لکه د مرکزي احصايي ځيني چاپ شوي اسناد، د ځينو ادارو راپورونه او داسي نورو منابعو ځخه هم کار واخيستل شو.

## د موادو  تحليل:

د راټولو شويو موادو تحليل په دريو مرحلو کې صورت ونيو:

په لومړی مرحله ک

د موادو  د راټولونی ټيم لومړنی تحليل ترسره کاوه، خو د دې لپاره چې د تحليل په وروستنيو مرحلوکې کومه تيروتنه صورت ونه نيسی، نو خام مواد يې د لومړني تحليل له پايلي سره يو ځای تسليم کاو.

په ودیمه مرحله کې د وړو، وړو ډلو په وسيله د هر سکتور معلومات جلا جلا په دري ورځو کې تحليل شول.

په دريمه مرحله کې ټول راټول شوی مواد د  ۴۸ کسيزه ټيم لخوا تحليل او د يو ورځني ورکشاپ په ترځ کې نهايی شول.

## رهبري او تخنيکي همکاري:

په سيمه ييزه کچه د دغه ټول بهير رهبری د ولايت مقام له خوا کيدل، خو مسلکی او تخنيکي لارښووني، د پروسي ځارنه او د بهير د ځرنګوالي ځخه د اطمينان تر لاسه کولو چاري د سيمه ييزو ارګانونو خپلواکي اداري د ولايتي ستراتيژيک پلان جوړوني د ټيم پر غاړه وي.

## د موادو د راټولولو ټيم:

د سيمه ييزو ارګانونو خپلواکي اداري د ولايتي ستراتيژيک پلان جوړوني د دريو تنو کارپوهانو ترځنګ د کابل ولايتي ادارو، مدنی ټولنو او خصوصي سکتور استازو ځخه، چې ټول ۵۲ تنه کيدل، يو ټيم برابر شو چې په دريو يادو سکتورونو کې يی ټول معلومات بشپړ کړل

| امنيت سکتور | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| # | نوم | اداره | # | نوم | اداره |
| ۱ | حکمت الله | د نشه يي توکو پروړاندې دمبارزي رياست | ۴ | عبدالنبی | د امنيه قومندانی |
| ۲ | شريف شاه | د ماين پاکې دفتر | ۵ | احمد رضا | محبس |
| ۳ | مشال  شمس | د سولې کميټه | ٦ | محمد ګل مهربان | ملی اردو ۱۱۱ فرقه |
| حکومتوالي، قانون حاکميت او د بشر حقوق سکتور | | | | | |

| # | نوم | اداره | # | نوم | اداره |
|---|---|---|---|---|---|
| ۹ | الحاج سنګ "عبدالرحیم زی" | د ولایت مقام | ۱۹ | محمد صابر نورانی | د اراضی ریاست |
| ۱۰ | سمیرا | ولایتی شورا | ۲۰ | سید عبدالله | د کوچینانو د چارو د انسجام آمریت |
| ۱۱ | احمد نور " یوسفی" | د عدلي ریاست | ۲۱ | حمیدالله قریشي | د اداری اصلاحاتو او ملکی خدمتونو مرکزی زون ریاست |
| ۱۲ | محمد هارون | د حج و اوقافو ریاست | ۲۲ | محمد احمد (مومند) | د استناف محکمی ریاست |
| ۱۳ | سید یاسین "هاشمی" | د استیناف څارنوالی | ۲۳ | محمد حسن نیازي | د سرحدونو او قبایلو چارو ریاست |
| ۱۴ | عبید الله " الکوزی" | د مرکزی احصاییی آمریت | ۲۴ | محمد الله ذاهد | د نفوسو او احوالو ثبتولو ریاست |
| ۱۵ | آمنه "اسلمی" | د ښځو چارو ریاست | ۲۵ | شفیق الله (مشید) | یونما |
| ۱٦ | محبوب الرحمن | سره میاشت | ۲٦ | فدایی | مدنی ټولنه |
| ۱۷ | محمد نعیم | د پیښو په وړاندی د چمتووالی ریاست | ۲۷ | نور احمد بهلول | د فساد په وړاندی عالی اداره |
| ۱۸ | باز محمد آموزګار | د بشری حقونو خپلواک کمیسیون | ۲۸ | عبدالواسع | د ټاکنو خپلواک کمیسیون |

| د ټولنیزي اقتصادي پراختیا سکتور | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| # | نوم | اداره | # | نوم | اداره |
| ۲۵ | غلام جیلانی | د عامی روغتیا ریاست | ۳٦ | عبدالجمیل | د مهاجرینو او ګډوالو چارو ریاست |
| ۲٦ | محمدناصر | مستوفیت | ۳۷ | قدرت الله رحیمي | دراديو تلويزيون امريت |
| ۲۷ | عوض علی(حسینی) | د پوهنی ریاست | ۴۰ | بشرمل پسرلي | د افغانستان بانک ریاست |
| ۲۸ | عبدالطیف | دکابل بریښنا ریاست | ۴۱ | عبدلحسیب رحیمی | د سوداګری او صنایع خونه |
| ۲۹ | محمدبصیر | ریاست حوزه دریایی کابل | ۴۲ | همایون فیضی | د ښار جوړول ریاست |
| ۳۰ | فیصل | د کلیو پراختیا او بیارغونی ریاست | ۴۳ | نعمت الله سایس | د ګمرک ریاست |
| ۳۱ | محمدنعیم یوسفی | د چاپیریال ساتنی ریاست | ۴۴ | د هوانوردی مستقل ریاست | حامد نوری |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| ۳۲ | عبدالقدير | دمخابراتو رياست | ۴۵ | عبدالغفور | د کار او ټولنيزوچارو وزارت |
| ۳۳ | حبيب الله | فوايد عامه | ۴٦ | محمدظريف | د کانونو امريت |
| ۳۴ | محمدسليم رحيمی | اقتصادرياست | ۴۷ | نيک محمد سهاک | اطلاعاتو کلتور رياست |
| ۳۵ | ميرمحمد شريف | د کرني رياست | ۴۸ | بسم الله انصاف | د سوداگری او صنايعو وزارت |








د ولايتي ادارو له مسوولينو سره د ولايتي ستراتيژيک پلان جوړوني په اړه د مقدماتي ناستي انځور

# د کابل ولایت پېژندنه

کابل ولایت دهېواد په مرکزي زون کې موقعیت لري، چې مرکز یې کابل ښار دی او د افغانستان پلازمېنه ګڼل کېږي. دا ولایت په شمال لوېدیځ کې له پروان، په شمال ختیځ کې له کاپیسا، په ختیځ کې له لغمان، په سوېل ختیځ کې له ننګرهار ، په سوېل کې له لوګر او په سوېل لوېدیځ کې له میدان وردګو ولایت سره ګډه پوله لري. ددې ولایت پراخوالی ٤٥٨٥ کیلومتره مربع او تر نیمایي زیاته برخه یې (%٥٦،٣)غرونو او نا هواره غونډیو پوښلې ده، په داسې حال کې، چې %٣٧،٧ سلنه یې هواري ځمکې دي.

په ١٣٩١ لمریز کال کې د احصایې مرکزي اداري ددې ولایت د وګړو شمېر نږدې ٣٩٥٠٣٠٠ تنه دی. کابل دافغانستان اقتصادي او فرهنګي مرکزی دی، چې د سمندر له کچې یې لوړ والی ١،٨٠٠ متره دی، چې په تنګو او باریکو لارو دهندوکش غرونو او کابل سیند په اوږدو کې موقعیت لري.دا ښار د کندهار، هرات او مزار ښارونو سره په ټول هېواد کې د غځېدلي حلقوي سړک له لارې نښلول شوی او ددې ترڅنګ د پاکستان د پېښور ښار پر لور د جلال اباد لویې لارې اصلي مسیر دی.

کابل ددې ترڅنګ ګڼ شمېر تاریخي ځایونه، جوماتونه، زیارتونه، بڼونه، مشوري دروازې، نوماند شاعران او لیکوالان هم لري.دې ولایت په خپله غېږ کې تاجکو، پښتنو او هزاره قومونو ته ځای ورکړی او خلک یې غالباً په دري او پښتو خبرې کوي او سني مذهبه دي، خو ځینې اهل تشیع، هندوان او سیکان هم په کې اوسېږي، چې په ځانګړې ډول په مرکز کې یې مېشت دي.

ددې ولایت مشهوري دروازې هم عبارت دي له: دروازۀ سفید، لاهوري دروازه، ګذرګاه دروازه او سردار جان خان دروازه، ددې ترڅنګ د خیرخانې او ارغندی کوتلونه هم لري.

کابل له ١٠٥٣ کلیو او ١٤ ولسوالیو ( ده سبز، چهار اسیاب، پغمان، موسهي، قره باغ، استالف، فرزه، کلکان، ګلدره ، میربچه کوټ، سروبي، بګرامي، خاکجبار او شکردره) څخه جوړ شوی، ددې څنګ کابل ښار هم ٢٢ ناحیې لري.

## د کابل د تسمیې وجه

زيات شمیر تاریخ لیکوونکی په دي عقیده دي او باور لري چه کابل د نوح علیه سلام د دوه زامنو د نومونو څخه اخیستل شوي دي دوي باور لري چه د کابل د خلکو نژاد د نوح علیه سلام دوه زامنو ته ورته دي، چه د کابل کلیمه د (قابل) به وزن د دوه کلیمو (کابولا) او (کابول) څخه جوړ شوي دي.

همدارنګه د مستشرقو تاریخ لیکوونکو (ډاکټر ویلین ) په شمول د پخواني کابل نوم د (کاپیلا) په نوم یاد کړی دي او وايي چه دا ښار د کنشکا د حکمراني لاندې وو او دا نوم هغه ته منسوبوي، او همدارنګه کابل په تیرو دورو کې په مختلفو نومونو (کوبها، دیکاراتا، کپاتروس، کادورا)او داسي نورو نومونو یاد شوي دي چه د تسمی وجه یی په هیڅ لیکلو او نه ده ذکر شوي.

# د کابل ولایت عمومي وضعیت

## په کابل ولایت کې امنیت:

دا چې کابل ولایت یو د مرکزی ولایاتو د جملی څخه ده د څوارلسو اداری واحدونو در لودونکې ده او د امنیت له نګاه نه کابل ولایت کې یواځی پنځه ولسوالیوکې چې سروبې، خاکجبار،موسهی ، پغمان او ده سبز ولسوالی نا امنه دي پاتې

نهه ولسوالۍ په نسبی ډول سره ښې دي او امنیت د کابل په ښار کې د ډاډ وړ دی. کابل ولایت کې ټول امنیتی ارگانونو شتون لری لکه (ملي اردو، ملي پولیس او ملي امنیت) او د کابل ولایت د امنیت ساتلو کې رغنده رول لری.

د کابل ولایت ډیر خلک ددولت څخه ملاتړ کوی نو پدې اساس په ځینو سیمو کې د خلک د باور سطحه ډیره لوړه ده کابل ولایت کې د انتخاباتو پروسه نسبت نورو ولایاتو ته روښانه اوشفاف ده او انتخابات د یو مشروع او مناسب لاري صورت نیسی ، نوموړی پروسه چې د خلکو دسرنوشت د ټاکلو لپاره صورت نیسی. په مجموعي ډول ۹۸سلنه دکابل ولایت خلک په انتخاباتو کې برخه اخلي او پاتې یې ددې ولایت د ځینو نا امنو ولسوالیو سیمي دي، چې حکومت پرې حاکمیت نه لري دا هغه لیری پرتي ولسوالۍ دی چې خلک یې په انتخاباتو کې برخه نه شې اخیستې.

کابل ولایت کې نا امني شتون لری چې دغه نا امني سیاسي، اقتصادي او ټولنیز عوامل لری، چې سیاسي پلوه د افرادو مقررول په دولتی ادارو کې د لیاقت او استعداد په نظر کې نه نیول بلکې د واسطي او رابطي په اساس چې عمده عامل د ناامنی ده. او هم د اقتصادي اړخه د معدنونو شتون او پدې سره د مخدره توکو نه پیسی لاسته راوړی یعنی معدنونه انحصار کوی چې پیسی لاسته راوړی او جنگ ته ادامه ورکوی، او هم دغه نا امنی د یوې پروسې پوری نشو تړلې ټولې سیاسي، اقتصادي او ټولنیز فکټورونه پکې دخیل دي لکه قومیت،تعصب ژبنیز او داسې نور عوامل دي. چې د ناامنې سبب گرځي بل داچې کابل ولایت د ټول هیواد پایتخت ده نو دلته د هیواد ټول اقوام شتون لری نو ترهگر طبعاً کوشش کوی چې د کابل ولایت امنیت ته صدمه ورسوی .

دکابل ولایت کې شخړې هم شته دی، چې د شخړو ډولونه یې امنیتي، اقتصادي او ټولنیز دي، په اوسنیو شرایطو کې زیاتره خلک د یو مشکل یاشخړی د حلولو لپاره له دودیزه ډول څخه کار اخلی ځکه دا یوه اسانه ،کم مصرفه او د کړاونو څخه پاکه لار ده، او هم یې اصلی علت دخلکو کم باور په عدلي او قضایې ارگانونو یعنی په نوموړو ارگانونو کې د فساد شتون بولې، نو ځکه خلک دودیزه او عنعنوی جرگو ته مراجعه کوی،

د سروی د پوښتنلیکونو څخه د ترلاسه شویو معلوماتو په اساس کوم چې په پنځه ولسوالیو سروبې، موسهی، قره باغ، استالف او پغمان کې شوی ده د نوموړیو ولسوالیو عدلي او قضایې سیستم ټول کارونه د تخنیکي او ظرفیتي پلوه په منځنې کچه کې قرار لری او نیمه خپلواکه دی. په یادو ولسوالیو کې د حقوقو مدیریت، ابتدایه محکمه او څارنوالۍ اداري شتون لري چې ۵۰ سلنه خلک خپلې ستونزی او مشکلات په مربوطه ادارو کې حلوی او باقې ۵۰ سلنه خلک خپلو ستونزو او مشکلات د حلولو په موخه سیمه یزه او محلی بنسټونو ته مراجعه کوي.

نو که عدلي او قضایې ارگانونه خپل فعالیتونه په روڼ شکل ټولني ته وړاندې کړی نو ددولت او خلک ترمنځ به واټن هم کم شی.

په کابل ولایت کې د امنیتي قواو، ملي امنیت، ملي پولیس، محکمه او د خلکو استازو په وینا په هرو سلو تنو کې دوه تنه په جرم کې لاس لري.

دسولې عالی شورای د عدم تشدد غوښتونکو لپاره یوه څه اندازه مالي مرستي کوی او هم کوشش کوی چې دمختلفو لارو یې وهڅوی مگر په کومه اندازه غوښتني چې د عدم تشدد غوښتونکې یې لری د افغانستان دولت باالخصوص د سولې عالی شورای د بودجې د کمښت له وجې نشی پوره کیدای. داسې ډلې هم شته، چې د عدم تشدد په لټه کې دي لکه د سولې ولایتي کمېټه، ولایتي شورا، مقام ولایت، امنیتي ارگانونه او قومي مشران.

همدارنگه د رسنیو رول د سولې د پیغام په رسولو کې مهم او مثبت رول لری چې د ټولو رسنیو څخه دولت ملاتړ کوی او خپل ټول پروگرامونه د دولت په چوکاټ کې پرمخ بیایې ، خو د گردی میز ځینو گډونوالو لکه حقوق بشر، د سیاسي

احزابو ګډونکې د رسنیو په باره کې وایې چې ټولې رسنی ازادی دی او د سولې په پروسه کې مهم نقش لری خو په صداقت سره خپل مسولیت سرته نه رسوی.

په کابل ولایت کې د امنیتي وضعیت ښه تحلیلولو لپاره د ولایتي ستراتیژیک پلان جوړوني ټیم د ولایت مقام کې ګردی میز دایر کړ، چې د امنیه قومندانی، سولې ولایتي کمېټه، ملي امنیت، مدني ټولنې، حقوق بشر، ولایت مقام او ولایتي شورا ادارو استازي او یو تن قومي سپین ږیری یې ګډونوال وو.

په یاد ګردي میز کې راټول شوي معلومات چې د امنیتي ادارو او سروبي، موسهی،استالف،قره باغ او پغمان ولسوالیو د عامو خلکو، بزګرانو او زده کوونکو څخه راټوله شوې، تایید او د ناامني لاملونه چې پورته ذکر شول، لا روښانه شول.

د امنیتي وضعیت د تحلیل ګردی میز

## په کابل ولایت کې حکومتوالي



نړیوال بانک حکومتوالي داسې تعریفوي چې: « د بنیادي او موسساتي سرچینو په کارولو او سیاسي قدرت څخه په اغیزناکه او ګتوره توګه د ټولنې د چارو او ستونزو د سمون او مدیریت لپاره ګټه اخیستل حکومتوالي ده.»

د هرې ټولنې د ښه پرمختګ او ودې لپاره د سالمې ادارې شتون اړین دی. په ټولنه کې سالمه اداره هغه وخت ټینګیدلای شي چې علمي اداري اصول او د ښې حکومتوالۍ ځانګړتیاوې په جدي توګه په نظر کې ونیول شي. د عامه او دولتي سکتورونو سم مدیریت، روڼتیا، د قانون پلي کول، د وګړو د حقوقو، ازادیو او د هغوی د ټولو ارزښتونو ساتنه او ملاتړ هغه څه دي چې د ټولنې په سیاسي، اقتصادي، ټولنیز او کلتوري اړخونو کې د پام وړ بدلون او پرمختګ منځ ته راوړي.

دا چه د نړی د پیدایښت سره سم انسانی غوښتنی هم پیداشوی او د وخت په تیریدو دغه غوښتنی تغیر کوی او د وخت سره سم په نوی بڼه غوښتنی راڅرګندیږی چه د دغه انسانی غوښتنو او ضرورتونو څخه یوه هم حکومتوالۍ ده او د یوې ټولنی بقا او هوساینه په ښې حکومتوالۍ پوری تړلی ده او ضعیفه حکومتوالۍ د ټولنی د بدبختیو او خرابوالی لامل

کېږي، نو له همدې امله د نړۍ مرستندویه ادارې مالي کومکونه هم د ښې حکومتوالۍ د یقیني کولو پورې تړلي دي. د نړۍ مرسته کوونکي هېوادونه خپلې مرستې د هغو هېوادونو سره کوي، چې د ښې حکومتوالۍ د پلي کولو لپاره هلې ځلې کوي.

کېدلی شي چې حکومتوالۍ په مختلفو طبقو کې وکارول شي لکه سیمه ییزه حکومتوالۍ، هېواد په کچه حکومتوالۍ، نړیواله حکومتوالۍ او داسې نور.

د ښې حکومتوالۍ ځانګړنې عبارت دي له، ګډونتوب، د قانون حاکمیت ،ښو خدمتونه وړاندې کول، اغېزناکتیا او اغېزناکتوب، عدالت، ځواب وینه، روڼتیا، حساب ورکونه او عمومي توافق.

سره له دې چې دا ډېره اسانه نه ده، چې د حکومتوالۍ په یو سیستم کې دې دغه اته ځانګړنې په سمه او کافي اندازه تر سترګو شي، خو د باثباته بشري پراختیا لپاره، داسې اقدامات باید واخیستل شي، چې دغه تصور په حقیقت بدل کړي.

د حکومتوالۍ په پلي کولو کې ډېرې ډلې رول لري، چې تر ټولو مهم یې حکومت دی او د دې تر څنګ په لرې پرتو سیمو کې نورې ډلې هم شته دي، چې په حکومتوالۍ کې دخیلې دي چې د حکومتوالۍ د کچې په پام کې نېولو سره فرق کوي.

په کابل ولایت کې مختلف قومونه ژوند کوی، چې له پښتون، تاجک، هزاره، ازبک ایماق ،ترکمن ، بلوچ ،نورستانی ،عرب گجر، براهموی،پامیری، اهل هنود، او اهل سکهه څخه عبارت دي. په دې ولایت کې د قومونو ترمنځ اړیکی ښې او حسنه دي خو وخت ناوخته د موجوده نظام د دښمنانو لخوا هڅی کیږی تر څو د قومونو تر منځ نفاق رامنځ ته کړی خو انشاءالله هیڅ کله به هم د دغې هدف ته درسیدولو په خاطر بریالی نشی .

د کابل ولایت چې د هېواد پلازمینه او د هیوار په کچه پرمختللی او پر نفوسه ولایت دی لیکن د ځینی مشکلاتو له امله تر اوسه د ښه خداماتو په عرضه کولو کې پاتی راغلی او د خدماتو وړاندی کول یې د یاد ولایت اوسیدونکو ته د منلو وړ ندی.

په دې ولایت کې د حکومتوالۍ او اداري فساد د وضعیت د ښه تحلیل لپاره د ولایتي ستراتیژیک پلان جوړونې کارپوهانو د ولایت مقام په تالار کې ګردی میز دایر کړ، چې ګډونوال یې (ولایتي شورا، عدلي ریاست، محکمې ریاست، فساد سره د مبارزې عالی اداره،د ښځو چارو ریاست،د کلیو او پراختیا ریاست،د کار او ټولنیزو چارو ریاست، بشر حقونو کمیسیون، څارنوالۍ ریاست، ځوانانو چارو آمریت، او یو تن د سیاسي ګوند، مدني ټولنو، پرمختیایي شوراګانو، خصوصي سکتور او علماو شورا) استازي وو. د حکومتوالۍ ګردي میز ګډونوالو په نظر، د کابل په ولایت کې د دولتي اداراتو او ولایتی شورا تر منځ همغږی ضعیفه ده همدا رنګه د یاد ګردی میز ګډونوالو په اداراتو کې ځینو نورو مهمو نقطو ته هم اشاره وکړه لکه دظرفیت ټیټوالی، د فساد شتون، د نامناسبه اشخاسو ګمارل او دکاری اخلاقو نه موجودیت په ادارو کې د لوړپوړو چارواکو مداخله کول د ادارو د مسؤلینو لخوا خاص قوم حزب او ډلی ته توجه او ځینی نور سیاسی مشکلات د خدماتو په عرضه کولو کې خنډونه وبلل او د دولت امتیازات یې د ځو زورواکانو او د اقتدار خاوندانو پوری محدود وبلل همدا رنګه مدني ټولنو او خصوصي سکتور ته یې د دولت نه پاملرنه هغه عوامل یاد کړل چې د خلکو او دولت تر منځ واټن پیدا کوی.

د خدماتو په مناسبه عرضه او د ښې حکومتوالۍ په پلي کولو کې د نورو فکتورونو تر څنګ د حکومتي ادارو او کارکوونکو ظرفیت مهمې موضوعګانې دي، که د حکومتي ادارو تشکیلاتي جوړښتونه، سیستمونه او ظرفیت سم نه وي نو د خدماتو په عرضه نېغ په نېغه منفي اغېز لرلای شي.

د کابل  په ولایت کې د میشتو قومونو نوملړ په لاندې جدول کې ذکر شوی دي:

| # | قومونه | فیصدی |
|---|---|---|
| ۱ | پښتون | ۴۲٪ |
| ۲ | تاجک | ۲۱٪ |
| ۳ | هزاره | ۹٪ |
| ۴ | ازبک | ۷٪ |
| ۵ | ایماق | ۳٪ |
| ٦ | ترکمن | ۲٪ |
| ۷ | بلوچ | ۱,۵٪ |
| ۸ | نورستانی | ۱۴,۵٪ |
| ۹ | عرب | |
| ۱۰ | ګجر | |
| ۱۱ | براهموی | |
| ۱۲ | پامیری | |
| ۱۳ | اهل هنود | |
| ۱۴ | اهل سکه | |

سرچینه: د سرحدونو او قبایلو چارو ریاست

## په کابل ولایت کې ملي او نړیواله نادولتي اداري

کورنۍ موسسې نادولتي، غیر سیاسي او غیر انتفاعی اداري دي چې د مشخصو اهدافو په موخه کار کوي. بهرنۍ موسسې بیا هغه نادولتي جوړښتونه دي چې د هیواد څخه بهر د بهرنیو هیوادونو د قانون سره سم جوړې شوي او په یوه یا ډېرو هیوادو کې فعالیت کوي. په هیواد کې د موسساتو د فعالیتونو لپاره قوانین وضعه شوي چې کورنۍ او بهرنۍ موسسې د هغې سره سم خپل فعالیتونه تنظیموي.  په تیره لسیزه کې کابل په مختلفو برخو کې د موسسو د فعالیتونو د پراخه حضور شاهد وو او دې موسسو وکولای شو چې ډېری بهرنۍ مرستې هم جذب کړي.

## مدني ټولنې او سیاسي ګوندونه

### الف: مدني ټولنې

مدني ټولنه له دوو کلمو مدني او ټولنې څخه جوړه ده، چې مدني یې د ښاري په معنیَ او ټولنه یې دافرادو مجموعې ته وایې. انسانان په ښاري ژوند کې د نویو ارزښتونو لکه: هنر، دین، علم، کلتور، ادب، تکنالوجي او داسې نورو په لاسته راوړنو چې د تمدن ستنې دي د ګډو موخو لپاره تحرکات کوي، چې دا حرکات موږ ته د مدني ټولنو د رامنځته کیدو فلسفه بیانوي.

که څه هم مدني ټولنه زښت ډېر تعریفونه لري خو دلته يې موږ دبیلګي په توګه یو را اخلو: مدني ټولنه د حکومت او خلکو ترمنځ یو منځګړی بنسټ دی چي له ظلم او زور زیاتي پرته ګډي موخي څاري او د خلکو ګډ حقونه د قانون په چوکاټ کي خوندي کوي. د کابل په ولایت کي ۱۳۰۵ مدني ټولنې د عدلې وزارت سره په رسمي ډول ثبت دي، چې د روغتیا، تعلیم، ټولنیز وفاق، کرنه، مالداري او ډیری نورو برخو کې فعالیت کوي.

نوټ: دا چې د نوموړو ادارو شمېر ډیر زیات دی نو جدول کې يې د نوملړ د ذکر څخه ډډه کوو ځکه په ۴۵ مخونو کې باید ورته ځای ورکړل شي.

ب: سیاسي ګوندونه

د سیاسي ګوندونو لنډ تعریف دادی، چې په یوه سیاسي تشکیل کې، د یوه فکر درلودونکي کسان سره راغونډ او یوه هدف ته د رسېدو لپاره ګډ فعالیت کوي. د نولسمې پېړۍ په وروستۍ نیمایي کې د هېواد نابغه زوی علامه سید جال الدین افغان د خپل هېواد، اسلامي نړۍ او ټول ختیځ د ازادۍ لپاره یوه داسې سیاسي مفکوره رامنځ ته کړه، چې له کورني استبداد او بهرني ښکېلاک دواړو سره يې مبارزه کوله. ده هم خلک تنویرول او پاڅون ته يې هڅول او هم يې له حکومتونو سره مفاهمې له لارې د اصلاحاتو او ریفورمونو راوستل غوښتل. له هماغه وخته سیاسي فعالیتونه پیل شول او بیا وروسته د تاریخ په اوږدو د ګوندونو په بڼه ظاهر شول، چې د بده مرغه دغه ګوندونه له شروع څخه د بهرنیو لاملونو او

دسیسو تر فشار لاندې راغلل او له ملي تګلارو څخه منحرف شول، او همدغه عوامل باعث شول چې ښې پایلې ونلري. اوسمهال د کابل په ولایت کې ٦١ ګوندونه د عدلیې ریاست سره په رسمې ډول ثبت او فعالیت کوي. که څه هم د دې سیاسي ګوندونو فعالیتونه ډیر نه تر سترګو کیږي خو د انتخاباتو پر محال یې حضور د پام وړ دی. د دغه سیاسې ګوندونو نوملړ او څه نور جزیات په لاندې جدول کې شتون لري

## په دې ولایت کې د سیاسي ګوندونو نوملړ:

| ګڼه | د ګوند نوم | د ګوند رئیس | پته | تلیفون شمیر |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | حزب مشارکت ملي افغانستان | حاجي نجیب الله "کابلي" | کابل- پولسمه ناحیه- خیرخانه لب جر | ۰۷۹۸۸۳۳۳۳۳ |
| ۲ | حزب متحد ملي افغانستان | نورالحق "علومي" | کابل- هوایي ډګر- قلعه خیاط تمځای- د نانوایي کوڅه | ۰۷۹۹۳۰۸٤۸٤ |
| ۳ | حزب نهضت همبستګی ملي افغانستان | سید اسحق "ګیلاني" | کابل- شهرنو- د لوی څارنوالۍ درې لارې- حنظله جومات جنوب - ښي لور لومړی کو څه | ۰۷۹۹٤۸٦٥٥۸<br>۰۷۹۹۰۰۷۱۱۳ |
| ۴ | حزب پیوند ملي افغانستان | الحاج سید منصور"نادري" | کابل- تایمني څلورلارې- عمومي مرکزي مسجد ته څیرمه | ۰۷۷۲۰۷۷۹٥۷<br>۰۷۷۲۰۷۷۹۸۰ |
| ۵ | حزب وحدت اسلامی افغانستان | محمد کریم "خلیلي" | کابل- دهبوری- مسلکي موسیقي لیسې ته مخامخ | ۰۷۹۹۲٤٥٥٤٤<br>۰۷۷۱۲۹۲٦۳۷ |
| ٦ | حزب جمهوری خواهان افغانستان | عادله "بهرام" سرپرست | کابل- شهر نو- قلعه فتح الله- شیرپور سړک- زینبیې ته څیرمه | ۰۷۸٦۳۷٥۱۱۱<br>۰۷۰۰٦۸۹۷۸۷ |
| ۷ | حزب ملي وطن | شیر الله "جبارخیل" | کابل- چهارراهی ترافیک- سملام پوهنتون ته مخامخ – د کابل سبز د ودونو تالار تر څنګ | ۰۷۹۹۳۲۳۷۹۳<br>۰۷۹۹٤٦۲۳۷۹ |
| ۸ | حزب انصاف ملي اسلامی افغانستان | انجنیر احمد شاه "ځدران" | کابل- اتمه ناحیه - کارته نو- خلوینبت متره سړک – حوزې ته نږدې | ۰۷۹۹۷٥۷۰٦۹<br>۰۷۸۸۲٤۷٥۳۹ |
| ۹ | حزب دعوت اسلامي افغانستان | استاد عبدالرب رسول "سیاف" | کابل- خوشحال خان مینه- د کویتي مسجد شا ته | |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| | | | | ۰۷۹۹۶۰۰۶۰۰<br>۰۷۸۶۲۷۷۲۷۷ |
| ۱۰ | حزب محاذ ملي اسلامی افغانستان | پیر سید احمد "گیلاني" | کابل- ملالی واټ- د اندونیزیا سفارت ترڅنګ | ۰۷۷۷۲۷۶۵۹۷<br>۰۷۰۰۲۷۶۵۹۷<br>۲۲۰۰۱۳۷ |
| ۱۱ | حزب توحید مردم افغانستان | فضل احمد "ربنتیا" | د دارلامان، دهمزنګ سړک - د دارلامان کیڼ لور په پنځه سوه متری کې | ۰۷۰۰۸۲۲۲۶۰<br>۰۷۰۰۲۹۸۷۶۳<br>۰۷۰۰۲۷۳۰۵۶ |
| ۱۲ | د افغانستان د ملي وحدت ولسی تحریک ګوند | عبدالحکیم "نورزی" | کابل- شیرپور- د شهید ځلور لارې نږدې ۱۲٤۵ نمبر کور | ۰۷۹۵۰۷۸۵۲۵ |
| ۱۳ | حزب وحدت ملی افغانستان | الحاج انجنیر عبدالرحیم "سالارزی" | کابل- پنځمه ناحیه - الف خوشحال خان – د تعلیم او تربیې پوهنتون دريې لارې- د کاینات دریم لمبر لیسې جنوب لور | ۰۷۹۹۳۳۸۱۸۳<br>۰۷۹۵۸۱٤۵٤۳<br>۰۷۰۰۲۷۵۵۵٤ |
| ۱۴ | افغان ټولنپال ولسواك ګوند "افغان ملت" | انوارالحق "احدي" | کابل- د سیلو څلورم سړک- د خالد بن ولید مسجد مخامخ | ۰۷۰۰۰۸۱٦٤۱<br>۰۷۰۰۲۳۰۸۹٦ |
| ۱۵ | د افغانستان د سولې غورځنګ ګوند | شهنواز "تنی" | کلوله پشته - د AIB بانک تعمیر | ۰۷۷۷۳۱۱۵۲۳<br>۰۷۹۹۳۱۱۵۲۳ |
| ۱٦ | حزب انسجام ملی افغانستان | نجیب الله صادق "مدبر" | ولایت کابل- دریمه ناحیه - کوته سنګی- درملتون ګولايي | ۰۷۰۲۰۲۰۲۵٦<br>۰۷۹۹۱۵۱۵٤۳ |
| ۱۷ | حزب صلح ملي اسلامی افغانستان | الحاج شاه محمود "پوپل" | کابل – اوله ناحیه- علی رضا خان کوځه- مسجد شریف دري لارې- سپین صندوق- دویم بلاک | ۰۷۰۰۸۵۲۰٦۰<br>۰۷۸۹۱۰٦٦۵٦<br>۰۷۷۱۱۹۱۷۱۸ |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ۱۸ | حزب نهضت بیداری ملي فلاح افغانستان | محمد یاسین "حبیب" | کابل- تایمنی- د خیرخانی پروژې پنځم سړک- خیرالبشر مسجد شاته | ۰۷۰۰۴۸۲۱۷۳<br>۰۷۹۹۳۱۲۴۵۸ |
| ۱۹ | حزب اقتدار اسلامی افغانستان | انجنیر احمد شاه "احمدزی" | کابل، شهر نو، زنبق څلور لارې - د ایران سفارت شمالي دروازې ته مخامخ | ۰۷۹۹۳۳۱۲۱۰<br>۰۷۹۹۱۸۹۲۹۳ |
| ۲۰ | حزب همبستگی افغانستان | محمد داود "رزمک" | کابل- ایوب خان مینه- قلعه افغانها- ملي شورا ته مخامخ- ۲۷ کوڅه- ۱۳ کور | ۰۷۰۰۹۹۹۶۹۵<br>۰۷۰۸۹۰۰۳۲۵<br>۰۷۸۹۰۵۰۶۰۹ |
| ۲۱ | حزب وحدت اسلامی مردم افغانستان | حاجی محمد "محقق " | کابل- دهبوري څلور لارې – پخوانی تمځای- د الماس غرب هوټل ترڅنگ | ۰۷۷۸۸۶۴۷۰٤<br>۰۷۹۹۳۱۳۳۲۷ |
| ۲۲ | حزب رسالت مردم افغانستان | نورآقا | کابل –میوند جاده-<br>د المپیا تجارتي مرکز دریم پوړ | ۰۷۹۷۳٦٤۰۹۲<br>۰۷۸۹۰۷٤٦۳٦ |
| ۲۳ | حزب جنبش ملي اسلامی افغانستان | سید نورالله | کابل- شیرپور- د جنرال دوستم کور تر څنگ | ۰۷۹۷٦۱۲٦۱۲<br>۰۷۰۸۷۰۹۹۹۹ |
| ۲۴ | حزب کنگره ملي افغانستان | عبداللطیف "پدرام" | کابل- څلورمه ناحیه- ترافیک څلورلارې - کیڼ لورته - پنځمه کوڅه - پنځم کور | ۰۷۸۳۱۰۹۰۰۷<br>۰۷۹۸۳۸۵۹٦۰ |
| ۲۵ | حزب اسلامی افغانستان | عبدالهادی "ارغندیوال " | کابل – پنځمه ناحیه - خوشحال مینه –د شاداب ظفر بلاکونو شا ته | ۰۷۰۷۸۱۲۸۲۸<br>۰۷۷۲۳۹۹۱۵۸<br>۰۷۸۷۳۳۰۳۳۸ |
| ۲٦ | حزب سعادت ملي اسلامی افغانستان -(حزب حرکت انقلاب اسلامی مردم افغانستان) ته په تغیر د نوم | مولوی عبدالحکیم"منیب" | کابل- ۱۰ناحیه - شیرپور- د جامع مسجد تر څنگ | ۰۷۹۸۲۹۷٤۹۹<br>۰۷۷٤۰۰۲۰۲۲ |
| ۲۷ | حزب حرکت انقلاب اسلامی افغانستان | محمد موسیَ (هوتک) | کابل- دریمه ناحیه- درملتون گولایي- حلبي سازی کوڅه - خصوصي ښوونځي جنوب ته | ۰۷۰۰۲۰٦۲۲۷<br>۰۷۷۷۸۸۸۳۳۰ |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ۲۸ | حزب حقیقت | شاه ولی "کریم خوی" | کابل شش درک- د اردو دوه سوه بستر ته مخامخ- د مومن کمپنی جنوب- دوستو خیلو مسجد شاته | ۰۷۷۲٦٤۰٤٤٤ |
| ۲۹ | حزب حرکت اسلامي افغانستان | عبدالغني "کاظمي" | کابل کوته سنگی- د ښاروالی دریم ریاست ته مخامخ - مرکزی دفتر | ۰۷۹۹۸٥۸٥٤۸<br>۰۲۰۲٥۱۳۲۳۲ |
| ۳۰ | حزب ( جبهه ملي نجات افغانستان ) | حضرت صبغت الله "مجددی" | کابل- ٥ناحیه – خوشحال مینه- کوچه دوم- د خلکو او دولت تر منځ د منازعاتو د حل د کمیسیون دفتر تر څنگ | ۰۷۹۹۳۰۲٤۱۸ |
| ۳۱ | حزب اسلامی متحد افغانستان | وحیدالله"سباوون" | کابل- جمال مینه- لومړی سرک – د غازي لیسې تر شا | ۰۷۸۸٤۰۰۷۸۸<br>۰۷۸۹٥۰۲۰۱٤<br>۰۷۰۰۸۱۱۹۳۱ |
| ۳۲ | حزب ثبات ملي افغانستان | احمد "هوتک" | کابل- لومړی ناحیه- مندوی- د حاجی هزارگل وړوکی سرای - دریم پوړ | ۰۷۸۲۲۱٤٥۲۱<br>۰۷۸٤٥۱٦۹۸۰ |
| ۳۳ | حزب همبستگی ملي جوانان افغانستان "همجا"<br>- (حزب اعتدال ملی) ته په تغیر د نوم | محمد جمیل | کابل- لسمه ناحیه- شهرنو- د حاجی یعقوب او شهیدڅلور لارو تر منځ - ښي لور ته دریمه کوڅه - کیڼ لور ته دوهم کور | ۰۷۰۰۲۷۸۱۲٦ |
| ۳۴ | حزب حق و عدالت | سردار محمد "روشن" | قلعه فتح الله خان - لومړی سرک - ۳۸ نمبر کور | ۰۷٤٤۳۲۹۷۷۷<br>۰۷۹۸۷٤۸٥۸٥<br>۰۷۸٥٦۰٥٥٥٥ |
| ۳۵ | حزب عدالت و توسعه افغانستان | محمد جواد | کابل - دریمه ناحیه - د پل سرخ څلور لاري- فاینیست فروشگاه ته لنډ | ۰۷۹٦٥۲۱۸۰۰<br>۰۷۰۰۲۹۲٦۰۲<br>۰۷۰۰۲۲۲۹۰٦ |
| ۳٦ | حزب حرکت اسلامی مردم افغانستان | سید خلیل الله "انوری" | کابل- دریمه ناحیه- سرکاریز تمځای - د اهل بیت | ۰۷۹۷۱٦۳۰۰٥ |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| | | | مسجد ته مخامخ | |
| ۳۷ | حزب جمعیت اسلامی افغانستان | صلاح الدین "ربانی" | کابل – لسمه ناحیه – د وزیر محمد اکبر خان ۱۵ سړک - ۲٦۲ نمبر کور | ۰۷۸۸۸۸۸۸۸۲<br>۰۷۸٦٥٥٥٨۸۸ |
| ۳۸ | حزب اقتدار ملي افغانستان | سید علی اکبر | کابل- څلورمه کارته- پل سرخ ګولائی - عمر جان قندهاری مسجد ته مخامخ | ۰۷۸۲۹٥٥۹۰٥<br>۰۷۰۰۱۸۰٦۹۳ |
| ۳۹ | حزب حرکت ملي افغانستان | دکتور وحید الله "ناصری" | کابل- تایمنی پخوانی تمځای- د همسفر هوټل شمال ته- څلورم پوړ- د نبي زاده ورونو شرکت | ۰۷۰۲۳۳٤۹۱۳<br>۰۷۰۰۲٦٤۰٦٦ |
| ۴۰ | حزب نهضت اسلامی افغانستان | مولوی محمد مختار مفلح | کابل- میدان میوې مارکیټ- د څلورمې حوزامنیتي حوزې تر څنګ - د حاجي سید احمد کور | ۰۷۰۰۲۱۰٤۰٦<br>۰۷۷۷۲۱۰٤۰٦ |
| ۴۱ | حزب ملت افغانستان | جعفر مهدوی | کابل- شپږمه ناحیه- پل سرخ- د سیدار بانک کوځه- ۳۲ نمر کور | ۰۷۹٤۰۳۳۳٤۰<br>۰۷۹٦۱۹۹۲٤۱ |
| ۴۲ | حزب عصرما | مولوی عبد الرحمن "رحمانی" | کابل څلورمه کارته – عالي تحصیلاتو ته مخامخ | ۰۷۸۸۹۰۸۰٥۰<br>۰۷۹۹۱٦٦۱٤٤ |
| ۴۳ | حزب آزادی خواهان مردم افغانستان | محمد ظریف<br>"ناصری" | کابل- ۱۱ ناحیه – خیرخانې لومړۍ برخه- باختر بانک ته مخامخ- حاجی ګل پلازا- دوهم پوړ | ۰۷۹٤۷٥۱٦۰۲ |
| ۴۴ | د افغانستان متحد ملت ګوند | عبدالرحیم "ایوبی" | کابل- دهبوری- سړک کوځه - رحمن بابا لیسه | ۰۷۸۳٥۲٥۱٥٤ |
| ۴۵ | حزب صدای مردم | انجنیر شیرولی" وردګ" | کابل - ٥ ناحیه - کویټي مسجد | ۰۷۹۹۸۰٦۳۸۷ |
| ۴٦ | حزب نخبګان مردم افغانستان | عبدالحمید "جواد" | کابل- تایمنی دربمې پروژې سړک- څلورمه ناحیه- مولانا (رومی) ښوونځي ته مخامخ | ۰۷۰۰۲۸٦۳۹۹<br>۰۷۰۰٦۳۲٦۰۰ |
| ۴۷ | حزب اجماع ملي جوانان | میر حیدر "افغانزاده" | کابل - دارالامان سړک – لومړۍ کوځه – د تعلیم او تربیې قومندانی جنوب - شپږم پوړ | ۰۷۰۰۲٦۱۰٥۰<br>۰۷۹٤٤۰٤۳۸۰ |
| ۴۸ | حزب قیام ملی افغانستان | زمریالی "احدي" | کابل - ٥ ناحیه سیلو ته مخامخ- د ویس قرن مسجد کوځه – ۵۵ نمبر کور | ۰۷۷٥٥٤٥٥٦۱<br>۰۷۷۷٤۷۷۷۷۰ |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ۴۹ | حزب افغانستان واحد | محمد عمر "عیار" | کابل- کلوله پشته د ترافیک او گل سرخ خلورلارو تر منځ- عظیم پلاژا- دېم پوړ- دیارلسم اپارتمان | ۰۷۸۸۳٤۷۲٤٤<br>۰۷۹٤٤٤٤۸۸۸ |
| ۵۰ | حزب رفاه ملي افغانستان | محمد حسن"جعفری" | کابل- ٤ کارته - تخنیک ثانوي ته مخامخ- شهزاده هوټل شا ته | ۰۷۵۲۰۱٦۱۱۱۲<br>۰۷۷۲۹۲۹۱٤٥<br>۰۷۰۰۲۹۳۳٤٤<br>www.refahemelli.com |
| ۵۱ | حزب وحدت ملي اسلامی افغانستان - حزب حراست اسلامی افغانستان ته د نوم په تغیر | محمد اکبري | کابل - دریمه ناحیه - دهبوری - فارابي روغتیایي علومو انستیتوت جنوب اړخ | ۰۷۹۹۳٤۸۲۰۷<br>۰۷۹۹۳۳٤۲۳٦ |
| ۵۲ | حزب عدالت | عبدالرشید "ایوبی" | کابل- لسمه ناحیه- وزیر محمد اکبرخان ۱۵ سرک - کیڼ لور ته شپږم سرک | ۰۷۹۲۳۳۳۳۰۰<br>۰۷۰۰۵۳۳٥٦۰ |
| ۵۳ | حزب حرکت اسلامی ملت افغانستان | سید محمد هادي "هادي" | کابل - پل سوخته - دشت برچي سرک – حربي ښوونځي مخامخ - د محمد عباس نوابي کوځه | ۰۷۸٤۲۳٥۰۷۰<br>۰٤۷٥۹۹۱۱٤<br>۰۷۸۱۳۳٦۹۰۰ |
| ۵۴ | حزب تحول و رفاه افغانستان | محمد اشرف "احمدزی" | کابل - څلورمه ناحیه - د هوایي ډگر ۸۰ متریزه سرک - د عرفان کانکور تیاري کورس تر شا | ۰۷۸٦۲۳٤۳۳۷<br>۰۷۷۰۲۸۱۰٥۰ |
| ۵۵ | حزب ملي ترقی مردم افغانستان | محمد داود "راوش" | کابل- څلورمه ناحیه- حاجي میر احمد مسجد کوڅه | ۰۷۰۰۲٥۹۷۳۷<br>۰۷۹۹۳۲۲۱۳۷ |
| ٥٦ | د افغانستان ولسي حرکت گوند | صدیق الله "فهیم" | کابل- قلعه فتح الله- ۱۲ کوڅه - لسمه ناحیه | ۰۷۰۰۳۱۹۱۱۰<br>۰۷۹۹۱۷٥۷۷۰ |
| ۵۷ | دافغانستان نوي بنسټ گوند | احمدالله "علیزی" | کابل – دریمه ناحیه – د سیلو څلورم سرک | ۰۷۰۰۳۰۰۱٥٦ |
| ۵۸ | حزب بیداری ملت افغانستان | عبدالمقصود "حسن زاده" | کابل – څلورمه کارته – د حجاری او نجاری کوڅه | ۰۷۷۷۳۱۹۷٥۰<br>۰۷۲۹۱۰۱۰۲۰ |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ۵۹ | حزب توسعهٔ افغانستان | مهدي "حسني" | کابل - دریمه ناحیه - دهبوري چوک - رحمان بابا سړک - ښی لور - لومړی کوخه نبش | ۰۷۸۹۶۰۸۵۶۱<br>۰۷۹۰۷۲٤٤۱٦ |
| ٦۰ | حزب اعتدال افغانستان | سید حسین عالمي "بلخي" | کابل - ۱۳ ناحیه - شهید مزاري سړک - پل خشک- ریګریشن سړک - ولي عصر کوخه | ۰۷۹٦۱۰٤۷۲۱<br>۰۷٤٤۸۵۰۵۸۰ |
| ٦۱ | حزب حرکت انقلاب اسلامی سعادت افغانستان | مولوی عبدالحی "سالک" | کابل - ملالی جاده - کورنیو چارو وزارت تر څنګ - هندوستان قونسلګری تر څنګ | ۰۷۰۰۵۷۵۹۷٦ |

معلوماتو سرچینه: کابل حقوقو ریاست



د حکومتوالی د وضعیت د تحلیل گردی میز انځور – ولایت مقام

## خصوصي سکتور

په هیواد کې د بازار د اقتصادي سیستم د پلی کولو په وسیله خصوصي سکتور تر ډیره حده وده کړې او همدغه خصوصي سکتور کولای شي چې د ټولني بیکاري له منځه یوسي او په هیواد کې اقتصادي ثبات رامنځته کړي.په دی وروستیو وختونو کې د دولت له خوا خصوصي سکتور تقویه او حمایه شوی، چې په هیواد کې د خصوصي بانکونو او صنعتی پارکونو په زیاتوالی سره د هیواد په اقتصادي پرمختګ کې مرسته کړي ده.

## نفوس او سرشمېرنه

د هیواد په کچه د نفوسو د دقیقو ارقامو نه شتون یوه له هغه ننګونو څخه ده چې حکومت یې په شمېرنه کې پاتې راغلی دی. د دقیقې احصایې شتون او په خاص ډول د نفوسو د ارقامو شتون د ښه مدیریت له پاره د بنسټیزو اړتیاوو څخه ګڼل کیږي، خو سیاسي، اقتصادي او امنیتي ستونزې د دې لامل ګرځیدلي چې حکومت ونشي کولای د سرشمېرنې پروسه بشپړه کړي. د کابل په ولایت کې.

| شمېره | اداري واحد | دکابل ولایت د مرکز نفوس د جنس په تفکیک سره | | | ښاري نفوس | | | کلیوالي نفوس | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | تول نفوس | نارینه | ښځینه | تول نفوس | نارینه | ښځینه | تول نفوس | نارینه | ښځینه |
| ۱ | د کابل ښار مجموعي نفوس | ۴۶۷۹۶۸۴ | ۲۳۹۱۶۰۲ | ۲۲۷۸۰۴٦ | ۳۹۸۴۳۴۳ | ۲۰۳۴۴۹۱ | ۱۹۴۹۸۵۲ | ٦۹۵۳۰۵ | ۳۵۷۱۱۱ | ۳۳۸۱۹۴ |
| ۲ | دلومړی ناحیې نفوس | ۱۰۵۱۹۵ | ۵۴۲۷۷ | ۵۰۹۱۸ | | | | | | |
| ۳ | د دویمی ناحیې نفوس | ۱۲۸۱۱۱ | ٦۵۴۰۰ | ٦۲۷۱۱ | | | | | | |
| ۴ | د دریمی ناحیې نفوس | ۱۵۵۱٦۴ | ۷۹٦۳۷ | ۷۵۵۲۷ | | | | | | |
| ۵ | د څلورمی ناحیې نفوس | ۳۳۰۱۱۵ | ۱٦۸۰٦۲ | ۱٦۲۰۵۳ | | | | | | |
| ٦ | د پنځمی ناحیې نفوس | ۳۰۴۷۳۸ | ۱۵٦۷۴۷ | ۱۴۷۹۹۱ | | | | | | |
| ۷ | د شپږمی ناحیې نفوس | ۳۳۷۳۸۰ | ۱۷۲۲٦۵ | ۱٦۵۱۱۵ | | | | | | |

| | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۸ | د اوومی ناحیې نفوس | ۴۰۳۵٦۱ | ۲۰۷۳۷۳ | ۱۹٦۱۷۸ | | | | | | |
| ۹ | د اتمې ناحیې نفوس | ۳۳۵۴۸۱ | ۱۷۱۹۵۳ | ۱٦۳۵۲۸ | | | | | | |
| ۱۰ | د نهمې ناحیې نفوس | ۲۹۰۲۰۵ | ۱۴۷۴۳۰ | ۱۴۲۷۷۵ | | | | | | |
| ۱۱ | د لسمې ناحیې نفوس | ۳۵۵۹۳۹ | ۱۸۱۲۹۷ | ۱۷۴٦۴۲ | | | | | | |
| ۱۲ | د یوولسمې ناحیې نفوس | ۲۷۸۵۸۰ | ۱۴۰۲۲۹ | ۱۳۸۳۵۱ | | | | | | |
| ۱۳ | د دولسمې ناحیې نفوس | ۵۱۳۱۰ | ۲٦۵۸۹ | ۲۴۷۲۱ | | | | | | |
| ۱۴ | د دیارلسمې ناحیې نفوس | ۲۳۵۵۴۲ | ۱۱۹۸۷۰ | ۱۱۵٦۷۲ | | | | | | |
| ۱۵ | د څوارلسمې ناحیې نفوس | ۰ | ۰ | ۰ | | | | | | |
| ۱٦ | د پنځلسمې ناحیې نفوس | ۳۸۱۰۹۱ | ۱۹۳٦۳۷ | ۱۸۷۴۵۴ | | | | | | |

| | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱۷ | د شپاړسمی ناحیی نفوس | ۱۶۵۳۳۶ | ۸۴۸۲۰ | ۸۰۵۱۶ | | | | | | |
| ۱۸ | د اوه لسمی ناحیی نفوس | ۱۰۳۷۳۹ | ۵۳۱۶۲ | ۵۰۵۷۷ | | | | | | |

## په کابل ولایت کې اقتصادي او ټولنیزه پراختیا

لکه څرنگه چې کابل ولایت د هیواد پایتخت دی نو د کابل په ولایت کې د افغانستان ټول قومونه شتون لری لکه: پښتون،تاجک،هزاره،ازبک،ترکمن ،پشی،کوهستانی،یماک او هندوان ټول یو د بل سره د ورورولی په فضا کې گډ ژوند کوي چې بیا پښتون قوم په نورو قومي جوړښتونو لکه : سلیمان خیل، کاکړ، مهمند، تره کی، سید، بابړ، هوتک، ترین، بابي، جمراني، بړیځ، بلوڅ، مجددي، اهل تشیوع، الکوزي، اڅکزي، پوپلزي، بارکزي،شینواری،خوگیانی،مهمند،احمدزی،منگل،ځاځي،طوطاخیل، نورزي، اسحاق زي، وردگ، یوسفزي، علیزي او ابدالیو ویشل شوي دي.په دې ولایت کې اهل تشیوع ،سني او هندویې مذهبونه موجود دي چې هر یو یې په پوره ازادی خپلې مذهبي چارې په مخ بیایي. لکه څنگه چه مخکی مو یاداوری وکړه چې کابل د هیواد پایتخت دی نو په دې ولایت کې سیاسي احزاب هم شتون لري، په دې ولایت کې ټول هغه سیاسي احزاب چې د عدلیې وزارت سره ثبت دی ټول فعال دی او دفترونه لری او خپل کارونه په منظم ډول مخته وړی. خو د انتخاباتو په ورځو شپو کې بیا د دوی فعالیتونه ډیر گړندی کیږی او هر حزب د خپلې ډلې د پاره کمپاینونه تر سره کوي.

په دې ولایت کې گڼ شمیر مدني ټولنې موجودی دی چې په منظم ډول خپل فعالیتونه ترسره کوی، چې د قانوني فعالیت د اجرا په خاطر لمړی د عدلیې وزارت سره خپل لس تنه د اجرایه شورا تر نامه لاندی لس تنه نماینده گان ثبت کوی ،چې دغه لس کسه د ټولنې اجرایي چارې هم پر مخ بیایي.د دې ولایت مدني ټولنې خپل فعالیتونه په منظمه توگه پر مخ بیایي او اکثره یې په خپلو کې سره ښه همغږي لري.

د ستراتیژیک پلان جوړنې د گردي میزونو پایلې دا ښودله چې د کابل ولایت د عوایدو او شتمنیو ډلې په درې برخو یعني لوړه، منځنۍ او ټیټه کچه ویشل شوي په دې کې بیا د تخمین له مخې لوړه کچه یا شتمنې ډلې ۲۰ سلنه، د منځنۍ کچې ډلې ۲۵ سلنه او ټیټه یا غریبې ډلې ۵۵ سلنه دي. تجاران، صنعت کاران، بزگران او کسبه کاران د عوایدو او شتمنیو په منځ ته راوړو کې ونډه لري او دوی بیا په لوړه، منځنۍ او ټیټه کچه د شتمنۍ او عوایدو په درلودو خپل فعالیتونه پر مخ بیایي.په کابل کې وگړي په قومي جوړښتونو، حزبي جوړښتونو،مدني ټولنې، مذهبي جوړښتونو، او عایداتي جوړښتونو ویشل شوي چې هر جوړښت د خپلو فعالیتونو په اساس د ولایت په سطحه خپل تاثیرات لري، داچې دغه تاثیرات په کومه کچه دي او په کومه برخه کې څومره موثره واقع شوي دي، په لاندې جدولونو کې یې جزیات موندلای شئ. دا تاثیرات په (ډیرښه، ښه، هیڅ او بد)اختیاراتو په لاندې ډول ښودل شوي دي:

| گڼه | د ټولنیزې ډلې نوم | اغیزې یې له امنیتي پلوه | اغیزې یې له اقتصادي پلوه | اغیزې یې له اجتماعي پلوه | آیا دکار د شته و معیارونو سره سم کار کوي؟ | د سیمه اییز حکومت څخه یې ملاتړ څرنگه دی؟ |
|---|---|---|---|---|---|---|

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | قومي جوړښتونه | ډېره ښه | ښه | ډېره ښه | ښه | ښه |
| ۲ | مذهبي جوړښتونه | ښه | ښه | ډېره ښه | ښه | ډېر ښه |
| ۳ | مدني ټولنې | ښه | هيڅ | ډېر ښه | ښه | ښه |
| ۴ | احزاب | ښه او بد | هيڅ | ښه | ښه او بد | ډېر ښه |
| ۵ | د شتمنۍ او عوایدود ایجاد ډلې | ښه | ډېر ښه | ډېر ښه | ښه او بد | ښه |

سرچینه: د ګردي ميز له تحليل څخه

دا ډلې په توليداتو او عامه خدمتونو کې هم ونډه لري او د خپل نفوذ  څخه په استفادې توليداتو او عامه خدماتو ته لاسرسی هم لري چې څرنګوالی يې په (قوي، منځنی، ضعيف، ناموجوده) او (لوړ، منځنی، ټيټ او ناموجوده کميتونو) په لاندې جدول کې څرګندې شوي دي.

| ګڼه | د ټولنيزې ډلې نوم | په توليداتو او عامه خدماتو کې ونډه | | | | | د خپل نفوذ څخه په استفادې توليداتو يا عامه خدماتو ته لاسرسی | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | ښوونه او روزنه | روغتيا | برېښنا | اوبه | ټولنيز مسووليتونه | ښوونه او روزنه | روغتيا | برېښنا | اوبه | ټولنيز مسووليتونه |
| ۱ | قومي جوړښتونه | ضعيف | ضعيف | هيڅ | منځنی | ښه | ټيټ | منځنی | منځنی | منځنی | منځنی |
| ۲ | مذهبي ډلې | قوي | ضعيف | ناموجوده | ضعيف | ضعيف | ټيټ | ټيټ | ټيټ | ټيټ | ټيټ |
| ۳ | مدني ټولنې | قوي | ضعيف | ناموجوده | ضعيف | منځنی | ټيټ | ټيټ | ټيټ | ټيټ | ټيټ |
| ۴ | سياسي ډلې | ناموجود | ناموجود | ناموجود | ناموجود | ضعيف | منځنی | منځنی | منځنی | منځنی | منځنی |

| | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۵ | د شتمنی او عوایدو د ایجاد ډلې | منځنی | منځنی | ضعیف | ضعیف | منځنی | لوړ | لوړ | ټیټ | منځنی | ټیټ |

## په کابل کې د جندر تحلیل

جندر په یوه ټولنه کې د نارینه او ښځینه ګډو یا ټولنیزو کړنو او مسؤولیتونو ته وایي، چې د سیاسي کلتوري، مذهبي، اقتصادي او پوهنیزو ارزښتونو په رڼا کې ټاکل کېږي او د وخت او ځای له پلوه بدلون مومي. کار پوهان وایی چې جندر کېدای شي دنورو پدیدو په څیر په یوه ټولنه کې منل شوی وی، خوپه بله کې دمنلو وړ نه وي .ساري په توګه په یوشمېر ټولنو کې د ژوندپه ټولو برخوکې ښځو ته د نارینه و په څیر برابره ونډه ورکوي،خو په ځینو نورو کې بیا ډېر محدودیتونه تر سترګو کیدای شی . زموږ په ټولنه کې ځینې په دې اند دي چې نارینه د ښځو په پرتله زیات ذهین دي، له دې امله نارینه په سیاست، اقتصاد او نورو مهمو چارو کې ډېره ونډه لري یعنې نارینه د ځانونو لپاره له کوره د باندې لکه سیاسي، کلتوري، دفتري، سوداګریزې او نورې چارې خوښوي او ښځو ته د کور کارونه، د اولادونو پالنه او روزنه ور سپارل کېږي.په جندر کې د عدالت تأمین او د ښځې او نارینه ترمنځ دحقوقو برابروالی مهم اصل ګڼل کیږي، هرهغه څه ته چې نارینه لاسرسی لري، ښځه هم ورته باید لاسرسی پیدا کړي.

اوس د جندر شننه دا معلوموي چې په یوه ټولنه کې ښځې او نارینه څومره د ژوند واک او ځواک لري. د مسؤولیتونو تر څنګ په ټولو سطحو کې د دوی اړتیاوې، د کار ارزش، محرومیتونه، مختلفو سرچینو ته لاسرسی او داسې نور په جندر کې تر بحث لاندې نیول کیږي.

دا چې په کابل ولایت کې د جندر له نظره د مسؤلیتونو، واک او ځواک حالت څرنګه دی او څنګه ( نارینه او ښځینه) کولای شي خپل مسؤلیتونه په سمه توګه تر سره کړي، ضروري ګڼل کیږي چې د جندر ټول حالت په دقیقه توګه وڅیړل شي. د کابل په ولایت کې نارینه معمولاً د کور څخه بهر کارونه لکه: بزګري، دوکانداري،لاسی صنایعو، تجارت،خیاطی، په فابریکو کې کار،په دولتي اداروکې دنده، په موسساتو کې دنده،معلمي، مالداري، کسب ګري او داسې نور کارونه پرمخ بیایي. او همدارنګه په دې ولایت کې ښځې د کور د کارونو تر څنګ په ځینی نورو کارونو هم بوختی دی لکه: چرګانو روزنه، په کور کې د څارویو روزنه، خامک ګنډنه، ګلدوزي، خیاطي، کلچه پزی،قالین باقی، په کمی اندازی سره په زراعت کې برخه اخیستنه، او په دولتي او غیر دولتی ادارو کې دندی لکه: ډاکټری، معلمي ، پولیسی ، او داسې نورو کارونو باندې بوختې دي.لکه څرنګه چې مو دمخه یادونه وکړه ښځې په زراعت کې په کمه اندازه ونډه اخلي چې د دی ولایت خلک یی د ښځو جسمی قوت ، د آمنیت نه شتون ، دودیز محدودیتونه او د کور په کارونو کی د ښځو مصروفیتونه یی د کموالی لاملونه بولی خو په کور دننه ښځی د حویلیو په منځ کې د ترکاری،او حبوباتو کښت او پالنه کوي چې اکثراُ په کور کې د مصرف به خاطر تري کار اخیستل کیږي. د دې ولایت د خلکو په نظر که چیرې د ښځو لپاره مناسب شرایط او زمینه مساعده شي یعنې د سولې او امنیت،ټینګښت،د مارکیټ پیدا کول،د نغدو پیسو قرضداری،د دولت توجو کول او د مسلکی زده کړو ورکړو سره کیدای شي چې ښځې د کروندو په چارو کې لا ډېر سهمی شی. همدا رنګه پدی ولایت کې نارینه بیا د ښځو په پرتله زیاتره په زراعتي چارو بوخت دي. او اکثراُ کرنیز محصولات یی عبارت دی له غنم، جوار، انګور،کچالو، پیاز، لوبیا او میوې چې پخپلو ځمکو کې یی کری او د حاصلاتو څخه یې د خپلو ضرورتونو د رفع کولو لپاره عواید لاس ته راوړی همدا رنګه د ښځو مسؤلیتونه او مصروفیتونه هم کوم اسان کار ندی همدا ښځی دی

چې په کور کې اولادونو ته پاملرنه، تربیه او د هغوی هر اړخیزه پالنه په پوره حوصلې او عاطفې سره کوی چه په نتیجه کې یو سالم انسان ټولنې ته روزی چې نارینه هیڅکله هم د کور په کارونو کې د ښځو ځای نشی نیولی. د ولایتی ستراتیژیک پلان جوړونې ټیم په کابل ولایت او ځینو ولسوالیو کې د جندر د وضعیت معلوملو لپاره د استخدام شوویو سرویرانو په مرسته سروې ترسره کړې، چې د هغې نتایج دا په ډاګه کوې چې د کور دنده په بعضې کارونو کې دنارینه او ښځینه ونډه څومره ده. موږ د کابل ښار او (۵) ولسوالیو کې دا سروې تر سره کړه ، چې په ښار کې د (۵۰) نارینه او (۵۰) ښځینه و نه پوښتنې وشوې او په هرې ولسوالې کې بیا هم د (۵۰) نارینه او (۵۰) ښځینه و نه پوښتنې وشوې همدارنګه د ولایتې ستراتیژیک پلان جوړونې ټیم په کابل ولایت کې د جندر د ښه تحلیل لپاره په ولایت مقام کې د جندر د وضعیت د تحلیل ګردی میز دایر کړ، چې ګډونوال یې د ( ښځو چارو ریاست استازې، د ښځو د اتحادیې غړې، د ولایتی شورا ښځینه غړې، د بشر د حقوقو د خپلواک کمیسیون غړې، د مدنی ټولنې کوم نارینه استازی، د کرنې ریاست استازی، د اداری اصلاحاتو او ملکی خدمتونو د خپلواک کمیسیون استازی، یو تن د ولایت په استازیتوب، د ځوانانو د اتحادیې غړې، د کار او ټولنیزو چارو د ریاست ) ادارو استازې وو، چې د یادې سروې ارقام یې تایید کړل. په ښار او ولسوالیو کې د کور په کارونو کې د نارینه او ښځو ونډه په لاندې ګرافونو کې ښودل شوې ده.

دکابل په ښار کی د کور په کارونو کی د نارینه و سهم، چې د پنځوس تنه ښخو څخه پوښتل شوي دي:




دکابل په ښار کی د کور په کارونو کی د ښځینه و سهم، چې د پنځوس تنه ښخو څخه پوښتل شوي دي:




د پغمان په ولسوالی کې د کور په کارونو کې د نارینه و سهم، چې د ۵۰ تنه نارینه و څخه پوښتل شوي دي:




د پغمان په ولسوالی کې د کور په کارونو کې د ښځینه و سهم، چې ۵۰ تنه پوښتل شوي دي:




د قره باغ په ولسوالی کې د کور په کارونو کې د نارینه و سهم، چې ۵۰ تنه پوښتل شوي دي:




د قره باغ په ولسوالی کې د کور په کارونو کې د ښځینه و سهم، چې ۵۰ تنه پوښتل شوي دي:




د استالف په ولسوالۍ کې د کور په کارونو کې د نارینه و سهم، چې ۵۰ تنه پوښتل شوي دي:




د استالف په ولسوالۍ کې د کور په کارونو کې د ښځینه و سهم، چې ۵۰ تنه پوښتل شوي دي:




د سروبی په ولسوالۍ کې د کور په کارونو کې د نارینه و سهم، چې ۵۰ تنه پوښتل شوي دي:




د سروبی په ولسوالۍ کې د کور په کارونو کې د ښځینه و سهم، چې ٥٠ تنه پوښتل شوي دي:




د موسهی په ولسوالۍ کې د کور په کارونو کې د نارینه و سهم، چې ٥٠ تنه پوښتل شوي دي:




د موسهی په ولسوالۍ کې د کور په کارونو کې د ښځینه و سهم، چې ٥٠ تنه پوښتل شوي دي:




## منابعو ته لاسرسی او کنترول:

په انساني او ځانګړې ډول افغانی ټولنه کې د ښه نظم او ژوند کولو لپاره د ښځو او نارینه و مسؤولیتونه سره وېشل شوي دي، چې ځینی کارونه نارینه و پوری تړلي، ځیني یې ښځینه و پورې تړلي او ځیني نور یې مشترک دي. د دي لپاره چې وپوهیږو د کابل په ولایت کی ښځې د کور د کومو کارونو مسولیت لری او د کارونو په تصمیمونو کې ونډه لري که نه؟ د ولایتي ستراتیژیک پلان جوړوني ټیم د کابل ښار او ځینو ولسوالیو کې د استخدام شوی سرویورانو په مرسته د ښځو څخه د یوې سروې په ترڅ کې پوښتلي دي، چې د کور په کارونو کې ورسره مشوره کېږي که څنګه او کومو منابعو او وسایلو ته لاسرسی او کنترول یی لری ؟ په ځواب کې ویل شوي چې په کورنی تصمیم نیونه کی ونډه لری لیکن په عملی کولو کی یی نارینه ډیره ونډه او خوښه لری د نغدو پیسو او ځیني نور د ضرورت وړ اجناسو ساتل پر ښځو دي، خو د مصرف صلاحیت یې نارینه ډیر لري  خو ښځې کولی شي د ضرورت وړ اجناس وپیری په سروی کې د راټولو شوو نتیجو څخه وروسته مونږ د ولایت مقام د غونډو په تالار کې د مختلفو دولتی او غیر دولتی ادارو د استازو په ګډون یو ګردی میز جوړ کړ او یاد ارقام مو د تصحیح لپاره ورسره شریک کړل چې ټولو استازو د راټول شوی نتیجی د تایید وړ وبللی. همدا رنګه ځینی نورو منابعو او وسایطو ته د لاسرسی او د هغوی کنترول په اړه معلومات پهّ تفصیلی توګه په لاندې جدول کی ذکر شوی

.

په  کابل ولایت کې منابعو او وسایلو ته لاسرسی او کنټرول یې د جندر په تفکیک سره:

| | منابع | ځمکه | وني | نقدي پیسي | کار/ مزدوري | موبایل تیلیفون | کمپیوټر | د کالیو ګنډلو ماشین | موټر | د قالین اوبدلو ماشین | محلي زده کړې | پرمختللي زده کړې | کورنۍ تصمیم نیونې |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| کابل ښار | کوم جنس ورته لاسرسی لري | نارینه ډېر، ښځې کمې | نارینه ډېر، ښځې کمې | نارینه ډېر، ښځې کمې | نارینه ډېر، ښځې کمې | یو شان | نارینه ډېر، ښځې کمې | ښځې ډېر نارینه، کم | نارینه ډېر، ښځې کمې | یو شان | یو شان | یو شان | یو شان |
| | د کوم جنس له خوا کنټرولېږي | نارینه ډېر، ښځې کمې | نارینه ډېر، ښځې کمې | نارینه ډېر، ښځې کمې | نارینه | نارینه ډېر، ښځې کمې | نارینه ډېر، ښځې کمې | یو شان | نارینه | نارینه ډېر، ښځې کمې | نارینه ډېر، ښځې کمې | نارینه | نارینه ډېر، ښځې کمې |
| استالف ولسوالی | کوم جنس ورته لاسرسی لري | نارینه ډېر، ښځې کمې | نارینه ډېر، ښځې کمې | نارینه ډېر، ښځې کمې | نارینه | یو شان | نارینه ډېر، ښځې کمې | ښځې | نارینه | نارینه ډېر، ښځې کمې | یو شان | نارینه ډېر، ښځې کمې | یو شان |
| | د کوم جنس له خوا کنټرولېږي | نارینه | نارینه | نارینه | نارینه | یو شان | نارینه | ښځې | نارینه | نارینه | نارینه | نارینه | نارینه |

| | | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| پغمان ولسوالی | کوم جنس ورته لاسرسی لري | نارینه ډېر، ښځې کمې | نارینه ډېر، ښځې کمې | نارینه ډېر، ښځې کمې | نارینه | یو شان | نارینه ډېر، ښځې کمې | ښځی ډیر، نارینه کم | نارینه | نارینه ډېر، ښځې کمې | یو شان | نارینه ډېر، ښځې کمې | یو شان |
| | د کوم جنس له خوا کنترولېږي | نارینه ډېر، ښځې کمې | نارینه ډېر، ښځې کمې | نارینه | نارینه | یو شان | نارینه ډېر، ښځې کمې | ښځی ډیر، نارینه کم | نارینه | نارینه | نارینه | نارینه | نارینه ډېر، ښځې کمې |
| قره باغ ولسوالی | کوم جنس ورته لاسرسی لري | نارینه ډېر، ښځې کمې | نارینه ډېر، ښځې کمې | نارینه ډېر، ښځې کمې | نارینه | یو شان | نارینه ډېر، ښځې کمې | ښځی ډیر، نارینه کم | نارینه | نارینه ډېر، ښځې کمې | نارینه ډېر، ښځې کمې | نارینه ډېر، ښځې کمې | یو شان |

| | | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | د کوم جنس له خوا کنترولېږي | نارینه | نارینه ډېر، ښځې کمې | نارینه ډېر، ښځې کمې | نارینه | یو شان | نارینه | ښځې ډېرې نارینه، کم | نارینه | نارینه ډېر، ښځې کمې | نارینه ډېر، ښځې کمې | نارینه ډېر، ښځې کمې | نارینه ډېر، ښځې کمې |
| موسهی ولسوالی | کوم جنس ورته لاسرسی لري | نارینه | نارینه ډېر، ښځې کمې | نارینه ډېر، ښځې کمې | نارینه | نارینه ډېر، ښځې کمې | نارینه ډېر، ښځې کمې | ښځې ډېرې نارینه، کم | نارینه | نارینه ډېر، ښځې کمې | نارینه ډېر، ښځې کمې | نارینه ډېر، ښځې کمې | نارینه ډېر، ښځې کمې |
| | د کوم جنس له خوا کنترولېږي | نارینه ډېر، ښځې کمې | نارینه ډېر، ښځې کمې | نارینه ډېر، ښځې کمې | نارینه | یو شان | نارینه ډېر، ښځې کمې | ښځې ډېرې نارینه، کم | نارینه | نارینه ډېر، ښځې کمې | یو شان | نارینه ډېر، ښځې کمې | نارینه ډېر، ښځې کمې |

| | | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| سروبي ولسوالی | كوم جنس ورته لاسرسی لري | نارينه ډېر، ښځي كمي | نارينه ډېر، ښځي كمي | نارينه ډېر، ښځي كمي | نارينه | نارينه ډېر، ښځي كمي | نارينه | ښځي ډېري نارينه، كم | نارينه | نارينه ډېر، ښځي كمي | نارينه ډېر، ښځي كمي | نارينه | نارينه ډېر، ښځي كمي |
| | د كوم جنس له خوا كنترولېږي | نارينه ډېر، ښځي كمي | نارينه ډېر، ښځي كمي | نارينه | نارينه | نارينه ډېر، ښځي كمي | نارينه ډېر، ښځي كمي | ښځي ډېري نارينه، كم | نارينه | نارينه | نارينه | نارينه | نارينه ډېر، ښځي كمي |
| | د كوم جنس له خوا كنترولېږي | نارينه | نارينه ډېر، ښځي كمي | نارينه ډېر، ښځي كمي | نارينه | يو شان | نارينه | ښځي ډېري نارينه، كم | نارينه | نارينه ډېر، ښځي كمي | نارينه ډېر، ښځي كمي | نارينه ډېر، ښځي كمي | نارينه ډېر، ښځي كمي |
| موسهی ولسوالی | كوم جنس ورته لاسرسی لري | نارينه | نارينه ډېر، ښځي كمي | نارينه ډېر، ښځي كمي | نارينه | نارينه ډېر، ښځي كمي | نارينه ډېر، ښځي كمي | ښځي ډېري نارينه، كم | نارينه | نارينه ډېر، ښځي كمي | نارينه ډېر، ښځي كمي | نارينه ډېر، ښځي كمي | نارينه ډېر، ښځي كمي |

| | | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| سروبی ولسوالی | د کوم جنس له خوا کنترولېږي | نارینه ډېر، ښځې کمې | نارینه ډېر، ښځې کمې | نارینه ډېر، ښځې کمې | نارینه | یو شان | نارینه ډېر، ښځې کمې | ښځې ډېرې نارینه، کم | نارینه | نارینه ډېر، ښځې کمې | یو شان | نارینه ډېر، ښځې کمې | نارینه ډېر، ښځې کمې |
| | کوم جنس ورته لاسرسی لري | نارینه ډېر، ښځې کمې | نارینه ډېر، ښځې کمې | نارینه ډېر، ښځې کمې | نارینه | نارینه ډېر، ښځې کمې | نارینه | ښځې ډېرې نارینه، کم | نارینه | نارینه ډېر، ښځې کمې | نارینه ډېر، ښځې کمې | نارینه | نارینه ډېر، ښځې کمې |
| | د کوم جنس له خوا کنترولېږي | نارینه ډېر، ښځې کمې | نارینه ډېر، ښځې کمې | نارینه | نارینه | نارینه ډېر، ښځې کمې | نارینه ډېر، ښځې کمې | ښځې ډېرې نارینه، کم | نارینه | نارینه | نارینه | نارینه | نارینه ډېر، ښځې کمې |

## ټولنیز مکلفیت

دا چې د ټولنې او خلکو غوښتنې محدودې نه دي او یوازې حکومتونه نشي کولی، چې د ټولنې او خلکو ټولو غوښتنو ته مثبت ځواب ووایي، نو د حکومتونو ترڅنګ خلک، د ټولنې مشران، مدني ټولنې او سیاسي حرکتونه هم دا مسوولیت لري، چې خپلې ټولنې او خلکو ته مثبت خدمتونه وکړي او خپل خلک او ټولنه مثبت خواته رهبري کړي د ټولنې هر فرد دا مسوولیت لري، چې د هیواد په هر ځای کې وي د هغه ځای د حفاظت، د خلکو د حقوقو ساتنه او د خپل توان سره د خلکو ضروریات رفعه کړي او خپل ټولنیز مکلفیت ترسره کړي. د کابل په ولایت کې هم ځینې خلک ،سوداګر، قومي مشران، مدني ټولنې او سیاسي حرکتونه شته دی، چې د خپل ټولنیز مکلفیت له مخې خپلو خلکو او ټولنې ته د پوهنې، د حقوقو په ساتنه،د جرګو له لارې د سولې او پخلاینې او د ضروریاتو په رفعه کولو کې خدمتونه کوي. لکه د خلکو د مشروع غوښتنو لپاره د لاریونونو کول، بېوزله ماشومانو ته د روزنې زمینه برابرول، د بېوزلو کورنیو سره دخوراکي توکو مرسته کول، حکومت ته لازمې مشورې ورکول او داسې نور همدا رنګه د کابل ولایت اوسیدونکی هم ځینی اتفاقی او ټولنیز مکلفیتونه لری لکه د حشر په وسیله د ښار او ویالو پاکول،د جوماتونو او بندونو جوړول، د غم او خوشحالی په مراسمو کې ګډون کول  د فصلونو د حاصلاتو په راټولولو او ګیلکاری کې یو د بل سره همکاري کوی همدا رنګه ښځې هم د کور په کارونو ، د خوشحالۍ او غم په مراسمو کې،دینی عصری او مسلکی زده کړو لکه خامک دوزی،قالین بافی، خیاطی، او د حاصلاتو په راټولولو کې یو د بل سره همکاري کوي.



د جندر د تحلیل ګردی میز – ولایت مقام

## په کابل ولایت کې د اداري فساد تحلیل

فساد چې په انګلیسي کې ورته Corruption وایي د لاتیني کلیمې Crupper څخه مشتق شوې، چې د ماتولو په معنیَ ده. فساد هغه پدیده چې د هغې پواسطه یوشی ماتیږي، کیدای شي چې دا ماتیدونکی شی اخلاقي ارزښت وي، یا ټولنیز اساسات وي  او یا هم اداري اصول وی.

د ستراتیژیک پلان جوړونې په پروسه کې د پروفایل جوړونې په برخه کې موږ په کابل ولایت کې د اداري فساد موضوع تحلیل کړې ده. دا چې اداري فساد څه شی دی،او د کابل ولایت په اړونده ادارو کی کوم ډول او په کومه کچه فساد شتون لری،تاثیرات یې په ټولنه څه دي، او څنګه کولای شو د هغې مخنیوی وکړو؟ د همدی پوښتنو لپاره مو لاندی تحلیل ترسره کړی
د اداري فساد په اړه بیلابیل نظریات شتون لري. چې نړیوال بانک اداري فساد په دې ډول تعریف کړی دی: «فساد د عمومي قدرت او دولتي امکاناتو او واکونو څخه د شخصي، خصوصي او ډله ییزو ګټو د خوندي کولو په موخه له ناوړې استفادې څخه عبارت دی.»
د اداري فساد سره د مبارزې د ستراتیژۍ د تطبیق د څار د قانون له مخې د لاندی کړنو تر سره کول په اداري فساد کې حسابیږي:
۱ . رشوت ۲ . اختلاس ۳ . د اسنادو لوټول یاغلا ۴ . د رسمي ورقو او اسنادو څخه غیر مجازه کار اخستل یا ضایع کول ۵ . د قانوني صلاحیتونو د حدوداتو څخه سرغړونه ٦ . د وظیفوي صلاحیتونو څخه ناوړه ګټه اخیستنه ۷ . د عدالت د تطبیق مخنیوی یا اخلال ۸ . د دولتي امکاناتو او رسمي وخت څخه شخصي ګټه اخیسته ۹ . پرته له قانوني عذره له دندې څخه امتناع کول او استنکاف ۱۰ . د حقیقت څخه سترګې پټونه ۱۱ . د ناقانونه دارایي زیاتوالی ۱۲ ۰ د اسنادو جعل یا تزویر ۱۳ . د دندې انتحال ( کس ته د هغې دندې ورسپارل چې ورپورې اړه نه لري) ۱۴ . د سوغاتونو په اخیستلو د یوه کار تر سره کول یا نه ترسره کول ۱۵ . په ورسپارل شویو ورځینیو چارو کې تعلل یا ځنډ ۱٦ . د اداري چلند د قوانینو څخه سرغړونه ۱۷ . په ورځینو چارو کې د قومي، سیمه ییزو، مذهبي، حزبي، جنسي او شخصي ملاحظاتو درلودل ۱۸ . د اداري فساد سره د مبارزې د ستراتیژۍ له نورو مواردو څخه سرغړونه.
په کابل ولایت کی اداری فساد
د ستراتیژیک پلان جوړونې ټیم په کابل ولایت کی د فساد د ښه تحلیل او څرنګوالي په موخه د کابل ولایت د اداری فساد پر وړاندی د مبارزی عالی اداری نظر هم را اخستی ، یاد ریاست په اداراتو کې د فساد د موجودیت پخلی کوی او په خلص ډول لیکی :د اداری فساد کچه په اداراتو کی په لوړه سطحه موجود دی چه د افغان ملت لپاره د منلو وړ نده اما د کابل ولایت مربوطه ریاستونو کی تر یوه حده فساد شته .
د ولایتي ستراتیژیک پلان جوړونې د ټیم له لوري په لومړي پړاو کې د اداري فساد پوښتنلیکونه مستقیماً د کابل ولایت ولایتي ادارو سره شریک شول، چې په ځواب کې زیاتره ادارو په خپلو ادارو کې د فساد شتون رد کړی خو د صحت عامې ریاست په خپله اداره کی په منځنی کچه د فساد شتون منی او لامل یی په ټول هیواد کی د فساد شتون بولی همدارنګه ځینی نور په خپلو ادارو کی د فساد د ټیټه کچه منی .
په دویم قدم کی د ستراتیژیک پلان جوړونې ټیم په کابل ولایت کې د فساد د ښه تحلیل او څرنګوالي په موخه د ادارو مراجعین هم په ادارو کی د فساد دشتون په اړه پوښتلې، چې د ولایت په مرکز کې (۱۰۰) تنو مراجعینو په ادارو کې د فساد د شتون او یا نشتون په اړه خپل نظرونه شریک کړی، نږدې ټولو پوښتل شویو وګړو په بېلا بېلو ادارو کې د فساد شتون تایید کړی، چې په ځینو ادارو کې یې کچه لوړه او ځینو ادارو کې یې په منځنۍ اندازه ښودلی ده.
د فساد د تحلیل په برخه کې د یاد ټیم له لوري د ولایت په مقام کې د اداري فساد او حکومتوالۍ د تحلیل ګردی میز دایر شو، چې راټول شوي معلومات او د مراجعینو د ځوابونو تحلیلونه د ګردي میز ګډونوالو تایید او تصحیح کړي او زیاته یی کړه چې په عمومي ډول ټولی دولتی او غیر دولتی اداری په مالی فساد کی ښکیلی دی خو په ځینو ادارو کی یی کچه لوړه ښودلی چې په یاد ګردی میز کی د دولتی او غیر دولتی ادارو استازی موجود وه.

د یاد گردي میز ګډونوالو د ولایت په ډېری ادارو کې د مالی فساد تر څنګ د فساد ځینو نورو ډولونو شتون ته هم اشاره وکړه لکه، د کارمندانو غیر حاضري، روابط، خپلویو پالل، کار اهل کار ته نه سپارل، کارونو ځنډوالی، د خلکو ځورول، بندیانو حقونو ته نه پاملرنه او پر وخت د دوسیو نه څېړنه یادل کړل او پر اداره یې د فساد اغېزې په دې توګه په ګوته کړې، د خلکو د همکارۍ د کچې کموالی، پر ادارو د ولس بې باوري، د کارونو او دندو په ترسره کېدو کې ځنډ، د عامه خدماتو کموالی، د ادارو او کارمندانو تر منځ د ناهمغږۍ زیاتوالی او له سیمه ییزو ادارو د خلکو د واټن زیاتوالی یې یاد کړل لیکن تر اوسه خلکو د فساد د مخنوی لپاره داسی کوم منظم غږ ندی پورته کړی او نه یی هم کوم اقدام کړی

همدارنګه د یاد ګردي میز ټولو ګډونوالو په یادو ادارو کې د فساد عوامل، اقتصادي ستونزې، د معاشاتو کموالی، د حکومت د حاکمیت ضعیفوالی، نامسلکیتوب، ناهمغږي او د څارنې او ارزونې د کچې ټیټوالی وګڼل.

دکابل په ولایت کی د فساد سره د مبارزې عالی اداری ترڅنګ د ولایت مقام او ځینو نورو ادارو د فساد د مخنیوی لپاره یو څه سیستمونه رامنځته کړي دي لکه د په ادارو کې د شکایتو صندوقونو ایښودل او د ولایت مقام

د فساد مخنوی لپاره مختلفی غونډی دایر کړی او یو کمیسیون یې هم جوړ کړئ دی .

د ګردی میز کډونوالو د فساد له منځه وړلو لپاره لاندی وړاندیزونه لرل. د مجازاتو او مکافاتو تطبیق،د امتیازاتو زیاتول، د وړو کسانو ګمارل، د سیستمونو ساده کول، د ادارو تر منځ همغږۍ رامنځ ته کول،د عامه پوهاوی رامنځ ته کول، د قانون تطبیق په ټولو یو شان او د حزبونو ختمول. ګډونوالو هیله وښوده که چیری یادو موضوعاتو ته پاملرنه وشی فساد به له منځه ولاړ شی.

## په کابل ولایت کې د نشه يي توکو تحلیل:

د نشه یي توکو کرکیله د څولسیزو راپدیخوا د هیواد په زیاترو ولایتونو کې جریان لری چې د کابل ولایت هم د یو هغو څخه شمیرل کیږي عمده دلیل یې د امنیت نشتون او هم په ټولنه کې فقر او بیکاری چې د کوکنار کښت ته یې زمینه مساعده کړي ده.

د کابل ولایت کې ټوله کرنیزه ځمکه ۴۵۹۸۳ هکتاره ده چې ددی جملې څخه یې ۳۹۸هکتاره ځمکه کې کوکنار کرل کیږی، د کابل ولایت د ۱۴ اداری واحدونو څخه یواځې د سروبی ولسوالۍ چې د کوکنارو کرکیله پکې وجود لری د سروبی په ولسوالۍ کې په تعداد د ۱۵ څخه تر ۱۸ زره کورنیو دیته اړ کړی چې په خپلو ځمکو کې کوکنارو وکریې عمده علت یې ناامنی،دقانون نه تطبیق،غریبی، بي سوادي او د زراعتی ځمکو کموالی بل دا چې د مرکز څخه په لری واټن کې ددې ولسوالۍ واقع کیدل او هم د لغمان ولایت سره مشترک پوله لری او د نوموړي ولسوالۍ څینی سیمی لکه وزبین ، تیزین او جکدلک چې ددولت مخالفین پکې وجود لری چې زمونږ دامنیتی څواکونو سره لاس او ګریوان دي .

سره ددې ټولو عواملو د دولت لخوا یو تعداد د عامه پوها وي پروګرامونه په لاره اچول شوي دي.

همدارنګه د کوکنارو د کښت په ځای بزګرانو ته اصلاح شوی تخمونه، نباتي او حیواني ترینینګونه د زراعت د ریاست د ترویج د مدیریت د لاری په لاره اچول شوی دي او هم مختلف د عامه پوهاوي پروګرامونه قومي مشرانو، څوانانو، دیني علماؤ او دي ته ورته نور د عامه پوهاوی پروګرامونه د سپورټ څخه نیولي تر محفلونو ددې په خاطر چې د کوکنارو کښت ټولنې ته رنګارنګ خطرات پیښوي او هم یې کښت داسلام له نظره حرام ګڼل شوی ده. د نشه یي توکو سره د مبارزې ریاست د بدیل معیشت د پروګرام دلاري بزګرانو ته د کابل په ټولو ولسوالیوکی د سروبی ولسوالی په شمول د اوبو بندونه او شنې خونو یا ګرین هاوسونه جوړ او د بزګرانو په واک کې یې ورکړی دي. د یادولو وړ ده چې د قانون

تطبیق په مجریمینواو همدارنگه هغوي پیژندل او بیایې د قانون منگولو ته سپارل ، د امنیتی ځواکونو څخه حمایت او ملاتړ کول، د قانون نافذول د کوکنارو تخریبول چې په نتیجه کې یې انکشافی پروژ و لپاره ښه زمینه مساعده او هغه په ښه شکل تطبیق او عملی کیدل.

د UNODC دفتر د سروی په اساس د کابل په ولایت کې د ۳۹۸ هکتاره په اندازه ځمکه کې کوکنار کرل کیږی خو بیا هم سره د دومره مشکلاتو او خطرونو د ۱۲۰ جریبه په اندازه ځمکه د کوکنارو څخه پاکه شوی ده. چې په مقابل کې یې بزگرانو ته ۳۰دانې شنې خونې جوړی او بزگرانو ته یې په واک کې ورکړی دی.

کابل ولایت یو د هغو ولایتونو د جملی څخه ده چې د کوکنارو کرکیلي فیصدي پکې تقریبآ صفر ته رسیږی سره ددې د نشه یي توکو پر وړاندې کومه خاصه اختصاصی محکمه د کابل ولایت کې وجود نلری

# دویم څپرکی

## دعمومی وضعیت تحلیل

### دوامداره پرمختیایي موخې

د هغو کوچنیانو نسبت چې د لومړي ټولګي څخه تر پنځم ټولګي پورې زده کړه کوي:
اسلامی لاربښوونو او د عصر د غوښتنو سره سم افغان دولت د وطن د بچیانو تعلیم او تربیې ته په لومړیتوبونو کې ځای ورکړی او تر ډیره حده ددې کوښښونو مثبت تاثیرات د ملک په ګوټ ګوټ کې د انکار وړ نه دي.
کابل ولایت چه د افغانستان مرکز دی نو د خلکو لاسرسي تعلیم ته ډیر دی له همدی کبله یې د پخوا په پرتله د پوهنې په بنسټونو او د زده کوونکو په شمیر کې زیاتوالی تر سترګو کیږي.په دې ولایت کې په لومړنیو زده کړو کې د خالص شمولیت نسبت ۷۵ سلنه دی او بیا دهغو کوچنیانو تناسب چې له لومړي ټولګي څخه یې پیل کړی وي له هغو سره چې تر پنځم ټولګي یې سرته رسولی وي ۱/۱۱،۵۳ دی. لاندې جدول په دې برخه کې لا زیات معلومات وړاندې کوي:
لاندې جدول په دې برخه کې لا زیات معلومات وړاندې کوي:

| په لومړنیو زده کړو کې د خالص شمولیت نسبت | هلکان | انجونې |
|---|---|---|
| د ټولو هغو کوچنیانو شمېر چې د ښوونځي عمر لري | ۰ | ۰ |
| په لومړنۍ دوره کې د شاملو زده کونکو شمېر | ۱۱۸۲۴۰ | ۸۲۳۸۷ |
| د هغو کوچنیانو تناسب چې له لومړي ټولګي څخه یې پیل کړی وي له هغو سره چې تر پنځم ټولګي یې سرته رسولی وي | ۸۸۸٪ | ۷۷٪ |
| په تېرو پنځو کلونو کې څومره زده کوونکي ښوونځیو کې په ۱-۵ ټولګیو کې شامل شوي | ۱۰۱۲۴۸ | ۷۲۷۲۷ |
| په تېرو پنځو کلونو کی څومره زده کوونکو په ۱-۵ ټولګیو کې ښوونځی پرېښی دی | ۰ | ۰ |
| اوسمهال د ټولو هغو زده کوونکو شمېر چې په ۱-۵ ټولګیو کې زده کړه کوي | ۱۰۱۲۴۸ | ۷۲۷۲۷ |
| د دې ولایت د ۱۵ څخه تر ۲۴ کلنو کې څومره یې لوستي خلک دي | ۰ | ۰ |

د معلوماتو سرچینه: د پوهنې ریاست

### په ښوونځیو کی د اسانتیاو سلنه :

دا چه افغانستان څو لسیزو جګړو او ناخوالو ځپلی دی خو په تیرو شپاړس کالونو کی د نوی حکومت په راتګ سره څه ناڅه پرمختیایی کارونه ترسره شوه په امنیت ، حکومتوالۍ او پرمختیا په برخه کی د پام وړ کارونه شوی دی د یادو کارونو ترڅنګ په ښوونځیو کی مختلف پرمختیای کارونه شوی دی چه تفصیل په لاندی جدول کی ورکړل شوی دی.

| د اسانتیاو ډول | د اسانتیاو سلنه |
|---|---|
| په ښوونځیو کی برښنا | ۱۰٪ |
| په ښوونځیو کی د زده کړې په موخه انترنیت | نشته دی |
| په ښوونځیو کی د زده کړی په موخه کمپیوټر | ۲۵٪ |
| د تعمیراتو یا زیربنا شتون | ٦۴٪ |

| | |
|---|---|
| په ښوونځیو کی لومړنی روغتیایی اسانتیاوې | ۳۰٪ |
| په ښوونځیو کې د څښلو د اوبو اسانتیاوې | ۷۵٪ |
| په ښوونځیو کې د تشنابونو اسانتیاوی | ۷۵٪ |
| په ښوونځیو کې د کتابتونونو شتون | ۲۰٪ |
| په ښوونځیو کې د لابراتوارونو شتون | ۲۵٪ |
| په ښوونځیو کې زده کړې لپاره د محیط او وسایلو (چوکی،میز،تخته،تباشیر او داسی نور) اسانتیاوې | ٦۰٪ |

**لاندي جدول د هغه ښوونکو سلنه ښايې چي حدآقل د ښوونکو روزنی یا تربیه معلم زده کړې څخه فارغ شوي وي.**

| دوری | د ښوونکو ټول شمیر | | هغه ښوونکي چې لږ تر لږه د تربیه معلم څخه فارغ دي | | تناسب | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| | نارینه | ښځینه | نارینه | ښځینه | نارینه | ښځینه |
| په ابتدایه دوره کی | ۴۹۵ | ۱٦۹ | ۴۷۴ | ۱٦۹ | ۹۵٪ | ۱۰۰٪ |
| په منځنی دوره کی | ۷۲۰ | ۱۵۸ | ۷۲۰ | ۱۵۸ | ۱۰۰٪ | ۱۰۰٪ |
| د لیسو ښوونکي | ۲۳۱۷ | ۱٦٦۵ | ۱۱۷٦ | ۱۴٦۵ | ۵۰٪ | ۸۷٪ |
| | | | | | | |

**سرچینه: د پوهنی ریاست**

## په دولتي ادارو کې د ښځینه کارکوونکو تناسب د نارینه کارکوونکو پر وړاندې:

دا چې انسان د پرمختیا اساسي محور دی نو د ښځو رول څخه باید هیڅکله انکار ونشي ځکه دوی د انساني ټولنې نیمه برخه تشکیلوي. الله تعالی د اسلام مبین دین په چوکاټ ښځو ته لوړ مقام ورکړی، چې ورسره سم ښځه د ټولنې او کورنۍ د بنسټ ایښودونکې په صفت خاص مقام لري. په کابل ولایت کې د نورو ولایتو په پرتله ښځو ته د کار په برخه کې ډیرې اسانتیاوې برابرې شوي. نسبي ښه امنیت، د متعددو ادارو شتون، د پوهې د کچې لوړوالی او د ښځو د ظرفیت لوړوالی ټول هغه عوامل دي، چې ښځو ته یې د کار لار پرانیستې ده.

د مرکزي احصایې د معلوماتو سره سم د کابل ولایت په سطحه ۳۴۲۹۳ تنه ښځې کار کوي چې جزیات یې په لاندې ډول دي.

| د معلوماتو سرچینې: د ادري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو خپلواک کمیسیون، د ښځو چارو ریاست او مرکزي احصائیه | | | |
|---|---|---|---|
| د ولایت په کچه د دولتي کارکوونکو شمیر | ښځینه | نارینه | تناسب |
| ۱۰۷۴۷۵ | ۳۴۲۹۳ | ۷۳۱۸۲ | ۱/۲،۱۳ |

د معلوماتو سرچینه: د مرکزي احصائې آمریت

د ولایت او ولسوالیو په کچه په استازو ادارو کې ښځینه استازو په وسیله ډک شوي سیټونه:

د ملکی خدمتونو مامورینو تر څنگ انتخابي سیټونه هم شته چې د کابل ولایت د ښځو په واسطه ډک شوي دي.

| د معلوماتو سرچینې: کابل ولایتي شورا | | | |
|---|---|---|---|
| استازې اداري | ټول | نارینه | شځینه |
| د ولایتي شورا د غړو شمېر | ۳۳ | ۲٦ | ۷ |
| د ولسوالۍ د شوراگانو د غړو شمېر | ۴۲۰ | ۲۸۰ | ۱۴۰ |

## د پنځه کلنۍ څخه په کم عمره ماشومانو کې د کم وزنۍ خپریدل.

دا چه کابل د هیواد پایتخت دی نو د تیرو څو لسیزو ناخوالو د نورو ولایتونو په نسبت کابل ډیر متضرر کړی دی او اوسیدونکی یی د مختلفو مشکلاتو او امراضو سره مخامخ شوی دی چه یو یی هم د ماشومانو د کم وزنی خپریدل دی چه معلومات یی په لاندی جدول کی یادآوری شوی دی

| د هغه کوچنیانو سلنه یا شمیر چې له نورمال څخه کم وزن لري | | |
|---|---|---|
| په ښاري سیمو کې | په کلیوالي سیمو کې | په ټوله کې |
| ۳٪ | ۱۰٪ | ٦,۵٪ |

## په کابل ولایت کې د پنځه کلنۍ څخه د کم عمره کوچنیانو د مړینې کچه:

د مور او ماشوم د مړینې د کچې را ټیټول د دوامدارو پرمختیایي پروګرامونو د هوکړه لیک د موخو څخه یوه موخه ده چې حکومت هغې ته متعهد دی. په دې برخه کې مو د کابل په ولایت کې د مور او ماشوم دمړینې دکچې په اړه معلوماتو ته ځای ورکړی، او دا چې په دولتي روغتونو کې د پنځه کالونو څخه د کم عمره ماشومانو د مړینې کچه په څه ډول ده لاندنې جدول ته مو پام راګرځوو.

| کال | په هرو زرو ماشومانو کې د مړو شویو شمیر | عمده لاملونه يې |
|---|---|---|
| ۱۳۹۵ | ۳ | سرخکان، سینه وبغل، اسهالات او سو تغذیه |
| | | |

## د یو کلنو کوچنیانو شمیره، چې د شري پر وړاندې واکسین شوي دي د هغو کوچنیانو په نسبت، چې واکسین شوي نه دي:

| کال | د هغو کوچنیانو شمیر چې واکسین شوي وي. | د هغو کوچنیانو شمیر چه واکسین شوي نه وي. | تناسب |
|---|---|---|---|
| ۱۳۹۴ | ۱۷۱۸٦٦۸ | ۰ | |
| ۱۳۹۵ | ۲۰۰۴۱۵۴ او د موف موسسه د خوا (۲۸٦۸٦) | ۲۰۰ موسسه موف | |

د یو کلني ځخه د کم عمره هغه کوچنیانو شمیر چه د شرى ،د ډی،پي ، تې هیپټایټس او ګوزڼ واکسین ورته شوي وي عبارت دی له

مخکې له دې چې د شري د ناروغۍ په هکله معلومات ورکړو یو بل لامل چې ماشومانو ته يې د روغتيايي پلوه بيلابيلې ستونزې راولاړې کړې معلومات درکوو، دغه ستونزه د ماشومانو کم وزني ده. دکابل ولایت کې د چاپیریال د ککړتیا او بیا په خاصه توګه په لرو پرتو سیمو کې دا ستونزه ډيره ليدل کيږي چې عمده لامل يې د جګړو دوام، د پوهې د سطحې کموالی او اقتصادي مشکلات دي، له بده مرغه چې د کابل ولایت په سطحه د کم وزنه ماشومانو ارقام موجود نه دي. د ماشومانو د روغتیا په وړاندې بله پرته ستونزه د شري ناروغي ده، که چیرې ماشومان د یو کلنۍ ځخه د مخه د دې ناروغۍ په وړاندې واکسین نه شي د ماشوم روغتیا ته سخت تاوان رسولی شي. د نیکه مرغه د کابل ولایت په روغتیایي مرکزونو کې د دې ناروغۍ په وړاندې واکسین تطبیق شوي خو اوس هم یو شمېر ماشومان شته چې د ناامنۍ او د کورنی له نه پاملرنی له کبله له واکسین ځخه پاتې دي. په وروستيو تيرو دووکلونو کې هغه ماشومان چې د شري پر وړاندې واکسین شوي دي، د هغو کوچنیانو په نسبت چې واکسین شوي نه دي په لاندې جدول کې ښودل شوي دي.

| | د شري واکسين ورته رسيدلي وی | | د ډي پي تې واکسين ورته دسيدلي وي | | د هيپټايټس واکسين ورته دسيدلي وي | | د ګوزڼ واکسين ورته دسيدلي وي | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | شمير | سلنه يې | شمير | سلنه يې | شمير | سلنه يې | شمير | سلنه يې |
| ټول ارقام | ۱۷۱۳۹۳ | | ۵۳۴۸۴۱ | | ۸۱۹۲۷ | | ۸۵۹ ۲٦۲ | |
| ارقام موسسه موف | ۲۸٦۸٦ | ۹۰٪ | ۳۲۰۹۴ | ۹۰٪ | ۳۲۰۹۴ | ۹۰٪ | ۳۲۰ ۹۴ | ۹۰٪ |

## په دې ولایت کې د میندو د مړینې کچه:

تېرو شپاړس کلونو ته په کتو، اوسمهال د میندو د مړینې په کچه کې د پام وړ کموالی راغلی دی.د کابل په ولایت کې ۷۵٪ زیږونې د روغتیایي کارکوونکو په مرسته تر سره کیږي. هغه ښځې چې روغتیایي مراکزو ته مراجعه کوي ۱۰۰٪ کې

د روغتیایي اسانتیاوو څخه برخمنې کیږي.په تیرو څلورو کلونو کې د زیږوني په بیلابیلو پړاوونو کې د میندو د مړینې کچه د لاندیني جدول په واسطه روښانه شوې ده:

| د زیږوني پر مهال دمیندو د مړینې بیلابیل پړاوونه | | | | |
|---|---|---|---|---|
| کال | په هرو زرو زیږونو کې د میندو مړینه | د زیږوني څخه دمخه | د زیږوني پر مهال | د زیږوني څخه وروسته |
| ۱۳۹۱ | ۱،۲ | ۰،۴ | ۰،۳ | ۰،٦ |
| ۱۳۹۲ | ۱ | ۰،۵ | ۰،۴ | ۰،۳ |
| ۱۳۹۳ | ۱،۵ | ۰،۱ | ۰،۵ | ۰،۴ |
| ۱۳۹۴ | ۱،۳ | ۰،۱ | ۰،۳ | ۰،۵ |

## په کابل کې پر HIV/AIDs ناروغۍ د اخته ناروغانو شمېر او د هغو چې تشخیص شوي:

ایچ آی وي یا ایدز یوه ارثي ناروغي نه ده او د مختلفو عواملو لکه: جنسي تمایلات، دحاملګۍ په دوران، دزیږوني پر مهال، دزیږوني وروسته، د درملنې په وخت د سرنج د زرقیدو له امله ، د نوموړي انتان سره د تماس او داسې نورو عواملو له کبله منځ ته راځي. دا ناروغي د بدن معافیتي سیستم اخته کوي او د نوموړي سیستم د کمزورۍ لامل ګرځي. دا چې دکابل په ولایت کې په تیرو دریو کلو کې څه تعداد خلک په دې ناروغۍ اخته شوي دي په لاندې جدول کې په لنډه توګه وړاندې کېږي:درته په مختصره توګه تشریح کوو.

| کال | هغه شمیر خلک چې په HIV اخته دي | | هغه شمیر خلک چې ایډز اخته دي | | هغه شمیر خلک چې تر درملنې لاندې نیول شوي | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| | نارینه | ښځینه | نارینه | ښځینه | نارینه | ښځینه |
| ۱۳۹۴ | ۴۲ | ۳ | | | ۴۲ | ۳ |
| ۱۳۹۵ | ٦۲ | ۱۳ | | | ٦۲ | ۱۳ |
| ۱۳۹٦ | ۲۳ | ۱۴ | | | ۲۳ | ۱۴ |

## د کابل ولایت د هغه وګړو شمېر (د ۱۵ – ۴۹ کلونو تر منځ عمر لري) چې د HIV/AIDS په اړه کافي او هر اړخیزه پوهه ولري:

ښوونه او روزنه د ایچ آی وي د خپریدو په مخنیوي کې تر ټولو مهمه لار ده. خلکو ته باید د دې ناروغۍ په اړه معلومات ورکړل شي او پر دې دې و پوهول شي چې ایدز څه شی دی، خرنګه انتقالیږي، د هغې د انتقال په هکله څه ډول انګیرنې موجودې دي، څرنګه ترې ځان وساتي،د ویروس له خپریدو څخه څرنګه ځان او نور وساتي او یادې لارښوونې څرنګه پر ځان عملي کړي.د کابل په ولایت کې د HIV/AIDS په وړاندې د عامه پوهاوي پروګرامونه په لاره اچول شوي چې جزیات يې په لاندې جدول کې شتون لري.

| کټګوری | شمیر | | | سیمه (جغرافیه) | د پوهاوي د پروګرام ډول |
|---|---|---|---|---|---|
| | نارینه | ښځینه | ټول | | |
| ۱۳۹۵ روغتیا عامه | ٦٣۴ | ٣٥٦ | ۹۹٥ | | |
| ۱۳۹۵د تطبیق کوونکی موسسه | ٣٨٥ | ۱۷۰ | ٥٥٥ | | |

## په دې ولایت کې د ملاریا خپرېدنه، د ملاریا پورې تړلې د مړینې پېښې او وقایې او درملنې تدابیر:

ملاریا یوه ساري ناروغي ده چی د افریقا، آسیا، جنوبي امریکا او منځني ختیځ په یو لړ سیمو کې ترسترګو کیږي. د ناروغی لامل یو ډول پرازیت دی چی د انوفیلیس په نامه ښځینه غوماشي په مټ دیوه ناروغ انسان نه بل روغ تن ته لیږدول کیږي. دا ناروغی د څلور ډوله پرازیتونو د لارې پر انسانانو برید کوي چې تر ټولو خطرناک ډول یې (پلازموديوم فالسیپارم) دی چی دانسان پر مغز حمله کوي او په نتیجه کې مغزی ملاریا په نامه چې هم یادیږي را منځته کوي. د کابل په ولایت کی په تیرو وختونو کی د ملاریا ناروغی کمی وی خو د چاپیریال د ککړتیا له امله اوس مهال په کابل کی هم د ملاریا ناروغی کچه لوړه شوی ده، په لاندې جدول کې د کابل په ولایت کې په وروستیو دریو کلونو کې د ملاریا د ناروغی پیښې په ډې ډول دي:

| کال | د ملاریا د پیښو  شمیر | د ملاریا له امله د مرګونو کچه | په ملاریایي خطرناکو سیمو کې د هغو خلکو سلنه چې د ملاریا د وقایې او درملنې اغیزناک تدابیرو څخه کاراخلي |
|---|---|---|---|
| ۱۳۹۴ | ۷۰۳۰ | ۱٥۰ | |
| ۱۳۹٥ | ۱۷۲۹ | ۱۳۰ | ۲٪ |
| ۱۳۹٦ | ۴۱۹ | ۲۱ | |

## توبرکلوز له امله مړینې، تشخیص شوې او درمل شوې پېښې:

توبرکلوز یوه وژونکې او له خطره ډکه ناروغي ده، چې له دوو اونیو زیاته ټوخله، بلغم او تبه یې له مهمو علایمو څخه دي. د بدن کمزوري، هره ورځ د کافي غذا نه خوړل، ذهني یا روحي فشارونه، ناامني، د عامه پوهاوي کمښت او همدارنګه نور بېلابېل علتونه دي، چې د همدې ناروغی په پرمختګ کې ځانګړې رول لري. توبرکلوز ناروغی په هغو سیمو یا هیوادونو کې زیات شتون لري چې د خلکو ګڼه ګوڼه پکښې زیاته وي، نو پکار ده چې داسي سیمو ته په ورتګ سره له ډېر احتیاط څخه کار واخستل شي. خو د دې هر څه سره د دې ناورغۍ علاج د درملنې له لارې کیدای شي. په کابل کې د ورستیو دریو کلونو هغه پیښې چې د توبرکلوز په هکله ثبت شوې د نورو جزیاتو سره په لاندې ډول دي.

| کال | د توبرکلوز پیښې | د توبرکلوز له امله د مرګونو کچه | د توبرکلوز تشخیص شوي پیښې | د DOTs پواسطه د توبرکلوز تداوي شوي پیښې |
|---|---|---|---|---|
| ۱۳۹۴ | ۱۷۰۰۰ | ۲۴ | ٥۴۰۹ | ٥۴۰۹ |
| ۱۳۹٥ | ۱۸۷۰۰ | ۲٦ | ٦۰۹۴ | ٦۰۹۴ |
| ۱۳۹٦ | د دی کال پوره راپور نشته دی خو د موف د موسسي لخوا کم ارقام موجود دي | | ٥۰ | ٥۰ |

د کابل په ولایت کې د زړه ، سرطان ، شکر او تنفسي ناروغیو د زیانمنو شمیر او درملنه په لاندې جدول کې ذکر شوي دہ.

دا چه ورځ تر بلی د نړی او خاصتاً زمونږ گران هیواد افغانستان کی د چاپیریال ککړتیا، د مختلفو اتومی گازونو او گرد او غبار د زیاتوالی له کبله مختلف امراض پیدا شوی دی لکه د زړه، سرطان، شکر او تنفسی ناروغیو په شمول انسانان د ډیرو سختو امراضو سره لاس او گریوان دی چه د کابل په ولایت کې د تیرو دریو کالونو د زړه، سرطان، شکری او تنفسی ناروغیو معلومات په لاندی جدول کی ذکر شوی دی.

| کال | د زړه ناروغانو شمیر | د سرطان د ناروغانو شمیر | د شکر ناروغانو شمیر | د تنفسي ناروغانو شمیر |
|---|---|---|---|---|
| ۱۳۹۳ | ۰ | | | ۵۲۲۲۴۵ |
| ۱۳۹۴ | ۱۹ | | | ۵۶۳۳۹۳ |
| ۱۳۹۵ | ۵۱ | | | ۵۳۷۱۸۰ |

## بریښنا

د کابل په ولایت کې تقریباً ٦۵ سلنه اوسیدونکي د دولتي بریښنا څخه برخمن دي او ۵ سلنه یی د شخصی جنراتورونو څخه استفاده کوي، د کابل ولایت به یو ساعت کې د ۳۵۰ نه تر ۴۰۰ میگاواټه بریښنا ته ضرورت لري،د کابل په ولایت کې دری د بریښنا د تولید فابریکي شتون لري چه نغلو ۱۰۰ میگا واټه  او سروبی ۲۲ میگاواټه ، ماهیپر ٦٦ میگاواټه او د ده سبز لمریزه ۱۰۵ میگاه واټه بریښنا د تولید ظرفیت لري چې د دي جملې څخه یې ۷۳ میگاه واټه بریښنا د کابل په ولایت کې توزیع شوي ده. د بریښنا د ضایعاتو د مخي نیوی لپاره لازم اقدامات شوي دي لکه د نوی او عصری وسایلو(لین، ترانسفرمر) نسبول . د کابل د بریښنا څخه  یو اندازه بریښنا د kv ۱۱۰ لین په واسطه ننگرهار ته انتقال شوي ده.

## د اوبو زیرمی

د اوبو له زیرمو څخه استفادی معلومات:

څرنگه چې د کابل ولایت تر  څرنگ کې شمیر سیندونه بهیږی او د کابل څمکي خوړوبوی خو متآسفانه چې د وخت د ناخوالو  له کبله د ځمکو خوړوبولو لپاره منظم سیستم او د اوبو ذخیرې په عصري سیستم نه د جوړی شوي خو په قدیمی شکل د اوبو ذخیری موجودی دي چې په لاندې جدول کې معلومات په تفصیل سره لیدلې شي.

| | |
|---|---|
| د اوبو د ذخایرو تثبیت شوې ساحې | د کابل په ولایت کې د اوبو د ذخایرو ۹ ساحې په  (خاک جبار،پغمان،چهارآسیاب،گلدره) ولسوالیو کې تثبیت شوي دي |
| د اوبو  د شتو او تثبیت شویو ذخایرو ظرفیت | د پغمان ولسوالي د قرغي په بند کې ۱۴ میلونه اوبه ذخیره کیږی. |
| د ولایت په کچه د اوبو د ضرورت اندازه | په هر کال کې ۷۹۴۳۹٦۸۲۲,۷  متر مکعب اوبو ته ضرورت لري. |
| اوسمهال د اوبو د ذخایرو څخه د استفادې اندازه | ۴ میلونه مترمکعب اوبه د بند قرغي او ۲ میلونه مترمکعب اوبه د بند غازی امیر  څخه استفاده کیږی. |
| د وخت په تیریدو سره د ایکو سیستم د پراختیا گراف (په هر کال کې د اوبو د استفادې د زیاتیدو سلنه) | |
| د ولایت په کچه د اوبو د مهار د پلان مطابق تراوسه څو سلنه | |

| | |
|---|---|
| بودجه ځانګړې شوې او څو سلنه اوبه مهار شوې دي؟ | |

د کابل ولایت په مربوطه ولسواليو کې د اوبو د ښه مديريت په موخه خلکو ته وخت ورکول شوي دي چه ترڅو د خپلو مربوطه کانالونو په سر د اوبو  څخه د ګټه اخيستوونکي ټولنې جوړې کړي. د اوبو د تقسيم مطابق د ځای اوبو څخه موثره ګټه واخلي او د اوبو د ضايعاتو مخه ونيسي.د اوبو د تنظيم  کانالون ، وربښونه، دکانالونو سروی ،ډيزاين،د نقشو ترتيب د ساختماني چارو لپاره او د پروپوزلونو په ترتيبولو کې خلکو ته د کانالونو په جوړولو کې برخه ورکولي شوي ده.

## مهاجرين:

د کابل په ولايت کي اکثره ځوانان د بيکاری له کبله مهارجريتونو ته مجبوريری او مختلفو هيوادونو ته مهاجر کيږي چې هلته د ډيرو زياتو مشکلاتو سره مخامخ کيږی او ډير شمير يي خپل ژوند د لاسه ورکوي.

او د دي ولايت وګړي د فيصدی له مخي په مختلفو ساحو کې ژوند کوي چې په لاندي جدول کې پوره معلومات ليدل کيږي.

| د استوګنځايونو ډول | د اوسيدونکو سلنه |
|---|---|
| په پرمختللو ښاري ساحو کې | ۱۰ سلنه |
| په متوسطو ساحو کې | ۴۰ سلنه |
| په وروسته پاتې او نامناسبو ساحو کې | ۵۰ سلنه |

## د ژوند د چاپېريال ساتنې يقيني کول

د کابل په ولايت کی د نفوسو زياتوالی، په غير معياری ډول د توليدی کارخانو او خښتو د بټيو  جوړيدل ، د فضوله موادو د تنظيم نه موجوديت ،د سرکونو خاموالی ، د بلند منزلو او کارخانو په ساحه کې د ښوالی نه موجوديت ،د زيات دود لرونکو ماشينونو استعمال ،د فضله موادو د سوزولو  لپاره د منظم سيستم نه موجوديت ، د مجهزو او عصری مسلخونو نه موجوديت ،د يخني په خاطر د لرګيو او د ډبرو سکارو سوزول او د چاپيريال ساتنی په هکله د کابل اوسيدونکو ته د عامه پوهاوی د پروګروامونو  په کافی اندازه نشتوالی د دی سبب شوی دی چه د کابل چاپيريال او هوا يی ککړه کړی ده.

څرنګه چه په کابل ولايت کي ۹۲۴۳،۹۱ هکتاره ځمکه ځنګلونو نيولي ده خو متآسفانه زياتره ځنګلونه د سروبې ولسوالي د ازبين او تيزين په ساحاتو کې دي چه هلته کافي امنيت نشته دي  او منظمه ساتنه او مديريت يي نه کيږي،مګر د راپورونو له مخي د محلي خلکو لخوا د توان مطابق ساتنه کيږی.د دي  جملي څخه يي ۲۰ هکتاره ځمکه په مصنوعي ځنګلونو پوښل شوي ده.

په ښوونځيو کې د چاپيريال ساتنی مضمون شته دی چې د ساينس د عنوان لاندی تدريسيږی. اوس د کابل په پوهنتون کې د چاپيريال ساتنی پوهنځی هم جوړ شوی دی ،پخوا د چاپيريال ساتنی مضامين د کرنې په پوهنځي کې تدريس کيدل.او د کابل ولايت اوسيدونکو داسی کوم فعاليت د چابيريال ساتنی په هکله نه دی ترسره کړی چې د ياداوری وړ وی.خو کله کله د ښار په ځينو ساحو کې ښاريان د ښار د پاکولو په نوم يو حشر کوی چې ډير موثر نه وی.

څرنګه چه کابل د هيواد پايتخت دی نو مختلف موسسات په کی فعاليتونه کوی چه د چاپيريال ساتنی په برخه کی هم ګڼ شمير موسسات فعاليتونه کوی چه عبارت دی له:  UNDP , UNEP , GEF , WCS ،ونهاد سبزجوانان (فعاليتونه يی نشته دی)

د کرني وزارت د چاپيريال ساتنی او د شنو ساحو د پرمختګ په خاطر يو تعداد نيالګي نهال کړی دی

د کابل ولایت د سروبي په ولسوالی کې ماهیان په غیر قانوني ډول ښکار کیږي .خو د پغمان په ولسوالی کې د ماهیانو د غیر قانوني ښکار کولو مخه نیول شوي ده.

د دې ولایت هغه ځمکو اندازه،چې د ځنګلونو په وسیله پوښل شوې:

د کرنې وزارت د GIS د آمریت د نوی سروی له مخې د کابل په ولایت کې ۹۲۴۳،۹۱ هکتاره ځمکه په ځنګلونو پوښلي ده. چه د کابل ٪۲ ځمکه یې اشغال کړیده.

| دځنګلي اراضي تناسب د بې ځنګله اراضي په وړاندی | | | |
|---|---|---|---|
| د دې ولایت ټوله اراضي | هغه اندازه اراضي چې په ځنګلونو پوښل شوي | تناسب | د ځنګلونو ډول |
| ۴۶۵۵،۲۸ کیلو متره مربع<br>۴۶۵۵۲۷،۸۸ هکتاره | ۹۲۴۳،۹۱ هکتاره<br>٪۲ | ۱/۵۰،۳۶ | ناجو،لمنځه او میوه لرونکي<br>ونی لکه جلغوزی |

د ولایت د اوسېدونکو هغه شمېره، چې د سون د جامدو موادو څخه ګټه اخلي:

د کابل ولایت ٪۸۰ اوسیدونکي د سون لپاره د جامدو موادو څخه استفاده کوي.

په دې ولایت کې د هغو بېکاره ځوانانو (نارینه او ښځینه) کچه، چې د ۱۵- ۲۴ کلونو تر منځ عمر لري:

په دې ولایت کې د لایني او مبایل تیلیفون څخه د ګټه اخیستونکو شمېر:

## د امنیت سکتور

کابل ولایت کې د امنیه قومندانی په چوکاټ کې پولیسو، افسرانو، ساتنمنانوته مختلف ټرینګونه ورکړل شوی لکه امنیتي ټرینګونه، مسلکي ټرینګونه، لوژیستکي، انجینري زدکړې ورکړل شوی دی، اوهم دې ته ورته د قانون او جرم په اړه عامه پوهاوی ورکړل شوی دی چې لاندې جدول کې په تفصیل سره یادونه شوې ده.

| ګڼه | د ټرانینګ ډول | د ټرانینګ موده | د روزل شویو پولیسو شمېره |
|---|---|---|---|
| ۱ | د لیک اولوست کورس | پنځلس میاشتنې | ۱۶۲۶ تنه |
| ۲ | سلاح د زده کړې کورس ( M۱۶ ) | یونیم کلن | ۵۱۰ تنه |
| ۳ | مدیک کورس | اته هفتې | ۲۸ تنه |
| ٤ | د ساتونکو اته هفتې کورس | اته هفتې | ۱۶۷ تنه |
| ٥ | | | |
| ٦ | | | |

سرچینه: قومنداني امنیه

کابل ولایت امنیه قومنداني کې اوسمهال د FDD ټرینیګونو کوم پروګرام شتون نلری. ملي پولیسو ته د امنیه قومندانی د پلان مطابق د قانون او جرم په باره کې مختلف کورسونه برابر شوې دې لکه قصیر المدت، متوسط چې د همدې کورسونو او پروګرامونو مطابق خپل کارونه سرته رسوی او هم د کابل ولایت د ښار په هره ناحیه کې یوه یوه مشورتي شورا وجود لرې چې په هره میاشت کې د کارونو دښه سرته رسولو لپاره جلسې کوی.

همدارنګه د ملی پولیسو په شمول کابل ولایت کې په تعداد ۸۱۳۷ تن ملی اردو په فرقه ۱۱۱هم فعالیت کوی چې دوی هم د ملی پولیسو په شان مختلفو برخو کې په تعداد ۳۰۰ تن سربازان د دری کلنو ، ۲۰۰ تن د یو کلن او ۷۶۳۷ تنه د دری میاشتنې نظامی ترینیګونو څخه برخمن شوی دي. کابل ولایت کې د هماهنګي مرکز و جود نلری ولې په تیرو څوکلونو کې موجود وه، خو بیا وروسته دمنځه لاړ او چاری یې کابل کارنیزون ته وسپارلی چې اوس مهال یې ټولی چاری په مخ بیایي. د اردو ملي په ۱۱۱ فرقه د لوجستیکي ، تخنیکي او اداری پلوه هیڅ نوع مشکل نلری او ورځنې

چاری یې په بڼه ډول جریان لری. ټول امنیتي ارگانونه په خپلو کې د ضرورت په صورت کې سره غونډې نیسي او هم نومړی ارگانونو کې ازاد رقابت ډېرکم لیدل کیږي او پدې اواخروکې دې پروسی زور اخیستې ده چې تقریباً ۳۰٪ دغه د ازاد رقابت پروسه اوس مهال په امنیتي ارگانونو موجوده ده. او ادامه لری.

د کابل ولایت قومندانی د اړونده جنایي پیښو ریاست نه و پوښتل شول چې په تیرو ددو کلونو کې د جنایي پیښو اندازه څومره ده چې لاندې جدول کې یې معلومات ورکړل شوي دي.

| د وسلو اړوند جنایي پېښو سلنه (له تېرو دوو کلونو راهیسې) | د وسلو کارول شوي ډولونه | د وسلو تر ټولو ډېر کارول شوی ډول | د ولایت هغه برخې چې دا ډول پېښې په کې ډېرې پېښېږي | دا ډول پېښې مخ پر لوړېدو دي یا مخ پر کمېدو دي |
|---|---|---|---|---|
| ټولې جنایي پېښې= X<br>د وسلو اړوند جنایي پېښې Y<br>د وسلو اړوند هغو سلنه = Y*۱۰۰ /<br>۳۰٤ *۱۰۰ / ۸۵۷٤=۳٫۵% | کلاشنکوف، تفنگچه | کلاشنکوف، تفنگچه | ټولې ولسوالی او د ښار په داخل کې ټولې حوزې | دا ډول پیښې د تیر کال په پرتله مخ په زیاتیدو دي |

سرچینه: د امنیه قومندانی جنایي څانگه

کابل ولایت امنیه قومندانی د جنایي څانگې د ورکړل شوو معلوماتو په اساس داسې وایې چې د جرمونو کچه د تیر کال په پرتله زیاتې شوی دی دلیل یې هم وایې چې د وسلوالو گروپونو شتون ، بیکاری ، اقتصادي کمزورتیا، شخصی دښمني ، د قانونو څخه د خلکو نا خبری او په مجریمینو د قانون نه تطبیق کیدل دي.

**لاندې جدول په کابل ولایت کې د ناچاوده توکو په اړه د عامه پوهاوي پروگرامونو ښودنه کوي:**

په افغانستان کې د بشرپالني ماین پاکې پروگرام چې د نړیوالې ټولنې له خوا یې ملاتړ کیږی په نړی کې ترټولو لرغونې پروگرام دی.

افغانستان د نړی په کچه په ماینونو باندې یو له ډیرو ککړو هیوادونو څخه ده، او له ډیرو نا امنیو او طبیعی پیښو څخه په پراخه کچه زیانمن شوی هیواد دې چې له جغرافیی او اقلیمې پلوه یو شمیر ننگونکي سیمې هم لری. ددغو ننگوونکو حالاتو سره سره افغانستان له ماینونو او له جگړې څخه د پاتې چاودیدونکو توکو سره د مبارزې په ډگر کې ستری لاسته راوړنې درلودلې دی، اوله خپلې خاورې څخه د ټولو پیژندل شویو ماینونو د لیری کولوپه تړاو د پرسونل ضد ماینونو د منع معاهدې یا د اوتاوا تړون د پنځمې مادې پر وړاندې د خپلې دندی ترسره کولو ته په کلکه ژمن دی. ددغو حالاتو د شتون مانا داده چې دغه هیواد دوامداره نړیوالې مرستې ته اړتیا لري ترڅو داړ ترلاسه کړي چې خپلی موخې ترلاسه او خپل مکلفیتونه ادا کوی.

د افغانستان د ماین پاکې ملی پروگرام دتیرو څو کلونو څخه تر اوسه پردی توانیدلی چې اضافه له ۵۱۷۹۰۸۴ تنه ښځو او نارینه وو په گډون اضافه د ۴۷۶ کلیو کې د کابل د ولایت مرکز په شمول د ۱۵ ولسوالیو کې دماینونو او دجنگ څخه د پاتې ناچاوده توکو د گواښ په اړه د پوهاوی د ور کولو د خدمتونو د پروگرام تر پوښښ لاندی راولی، البته په ذکرشویو ار قامو کې هغه خلک هم شامل دی چې په تکراری ډول یې دغه پوهاوی ترلاسه کړی د پوهاوی ددغه تعلیماتوڅخه علاوه چې د ماین پاکې د موسساتود گرځنده ټیمونو له خوا وړاندی کیږی، د پوهاوی پروگرام دهغه ښونکو په واسطه

چې دافغانستان د ماین پاکې د همغږۍ د پروګرام له خوا دهمدې موخې لپاره روزل شویدی د معارف د ریاست په ټولو ښوونځیو کې عملی کیږي چې له هغه نه د ملکې تلفاتوپه کمولو کې ډیرې ښې نتیجې لاسته راغلی دي. لاندې جدول د عامه پوهاوی پروګرامونه د ۱۹۹۲ میلادی کال نه را پدیخوا د ماینونو او ناچاوده توکو او معلولیت په اړه خلکو ته ښيي.

| # | د پروګرام ډول | تر پوښښ لاندې افرادو تعداد | تمویل کوونکې اداره | تطبیق کوونکې اداره |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | د ماینونو او جنګ څخه د پاتې ناچاوده توکو د ګواښ په اړه پوهاوی د کلیو په سطحه | ۳۷٤۱۷٥ | مختلف ډونران خصوصاً جاپان، کاناډا، آسترالیا او ایالات متحده امریکا | AAR JAPAN |
| ۲ | | ٦۹ | | ADU |
| ۳ | | ۲۰۷۱۳۹ | | ARCS |
| ۴ | | ۲۰٤۰۷ | | AREA |
| ۵ | | ۷۲۳۹۰ | | ARI |
| ٦ | | ۳٤۹٤۷ | | ATC |
| ۷ | | ۷۰۱ | | DC |
| ۸ | | ۳۲۸۸۱۸ | | DDG |
| ۹ | | ۲۷۱۷ | | HI |
| ۱۰ | | ٥۸۹۰٥ | | HT |
| ۱۱ | | ۷۷٤۲٤ | | ICRC |
| ۱۲ | | ۱٤٥٤ | | MACA |
| ۱۳ | | ٥۹۱۷ | | MACCA |
| ۱۴ | | ۲٥۳۸۸ | | MCPA |
| ۱۵ | | ۳۷٦۱٥ | | MDC |
| ۱٦ | | ۲۲۹۲٤ | | MMCC |
| ۱۷ | | ۱٤٦۲ | | MOE |
| ۱۸ | | ۳٥۷۰۱٥۱ | | OMAR |
| ۱۹ | | ۳۹٤۹٦۰ | | SCF |
| ۲۰ | | ۸۹٦ | | SI |
| | مجموعه | ٥۱۷۹۰۸٤ | | |
| ۱ | د قربانیانو سره کمک ( د معلولیت لرونکو افرادو د پوهاوی او حمایت پروګرام) | ٥۳ | اروپایی ټولنه، کاناډا،ایټالیا، جاپان او استرالیا | ADU |
| ۲ | | ۱٤۳ | | DAO |
| ۳ | | ۳٤۸ | | MACA |
| ۴ | | ۷۸۹۰ | | MACCA/MOE |
| ۵ | | ۲۸۳٤٥ | | KOO |
| ٦ | | ۱۱٥٥۰ | | ( BLANK) |
| ۷ | | ٦۳۰۲ | | AAR Japan |
| ۸ | | ٥٤۷۹۷ | | MMCC |
| ۹ | | ۹٦۲ | | DAO |
| ۱۰ | | ۷۱٦ | | ALSO |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ۱۱ | | ۷۰ | | AABRAR |
| ۱۲ | | ۱٦۰ | | AOAD |
| مجموعه | | ۱۱۱۳۳٦ | | |
| عمومی مجموعه | | ٥۲۹۰٤۲۰ | | |

د معلوماتو سرچينه: افغانستان د ماین پاکي د همغږۍ چارو ریاست

اضافه له دری لسیزو روانو جګړو، افغانستان د نړۍ یو له ماینونو او د جګړې څخه د پاتې نا چاوده توکو په ډک هیواد بدل کړی دی. د ماینونو او د جګړې څخه پاتی ناچاوده توکو موجودیت نه تنها ملکی تلفاتو باعث کیږی بلکه د اقتصادی او اجتماعی پروژو د پرختګ د مخنیوی سبب هم شوي دي. د پروګرام له پیل څخه تر اوسه په مجموعی ډول ۴۷۲۸ د ماینونو او د جګړې څخه د پاتی ناچاوده توکو ساحي دکابل په ولایت کې چې اضافه له ۴٦۹ کیلو متر مربع ساحه یې ککړه کړی وه پاکه شوی ده چې ۷۱ په سلو کې یې د ماینونو ساحي ۲۹ په سلوکې یې جنګې ساحي وي، ضمناً اضافه له ۳۰ کیلومتر مربع ساحه د انکشافی او زیربنایي پروژو لپاره پاکه شوی ده. کومې ساحې چې د ماین پاکې د پروګرام د بشردوستانه برخې ترپوښښ لاندې پاکې شوی دی، په هغی کې رهایشي ساحې، زراعتی ساحې، سړکونه، د اوبو لګولو سیستم او څړځایونه شامل دي. او هغه ساحې چې تجارتی برخې ترپوښښ لاندې پاکې شوی دی په هغې کې د برق د تمدید،سړکونو، نظامی او غیر نظامی تاسیسات شامل دي . پاتې دي نه وی چې پاکسازی په جریان کې ۱۲۲٦۸۱ حلقې پرسونل ضد ماینونه ۳۲۳٦ حلقې ضد وسایط ماینونه او ۲۳۲۰۱۸٦ دانې د جګړې څخه پاتی ناچاوده توکې کشف او تخریب شوی دی. ۳۴۵ په ماینونو او ناچاوده توکو پیژندل شوی ککړ کلی پاک او دمحل خلکو ته تسلیم شوی دي.

پرلپسی جګړو دا ولایت یو له ماینونو او ناچاوده توکو د در لودلو له امله د متاثره ولایتونو په قطار کې شمیرل کیږی. له ۱۹۷۹ کال څخه تر ۲۰۱۵ کال د اپر یل تر میاشتی پوری مجموعاً ٤۷۰۹ نفره ملکي تلفات د ماینونو او ناچاوده توکو له و جی دکابل ولایت کې ثبت او راجستر شوی دي چې ۱٦ په سلو کې وژل شوی او ۸۴ په سلو کې یې زخمیان دی چې له دی جملې ۳۴ په سلو کې تر ۱۸ کالو د کم عمر لرونکي، ٥٦ په سلوکې تر ۱۸ کالو لوړ، ۸ په سلوکې ښځې او ۷۲ په سلو کې یې نارینه تشکیلوی.

افغانستان د ماین پاکې پروګرام د ملی ډیټابیس پر اساس د کابل په ولایت کې لا هم ۱۲۱ د ماین او ناچاوده توکو ساحات پاتې دی. دغه ساحی د او تاوا د معاهدی ( د ماینونو د منعی تړون ) پراساس چې د افغانستان د جمهوری دولت له خوا په ۲۰۰۳ میلادی کال کې لاسلیک شوی دی چې په لاندې ۲۲ پروژو ویشل شوی د ي چې ماین پاکې ته یې ضرورت دی او ددې ساحاتو اضافه تر۹۲ په سلو کې یې څر ځایونه دي.

له دې ۲۲ د ماین پاکې د پروژو له جملې څخه ۱۳ پروژی په ۱۳۹۵ او ۱۳۹٦ کالونو کې تمویل او تر کار لاندې دي، او ۹ نوری پروژی دماین پاکې لام پاتې دي چې باید تمویل او تطبیق شی.

| # | کال | ولایت | ولسوالی | د خطرساحاتو تعداد | مساحت په مترمربع | ګټه اخیستونکي | تمویل کوونکي | تطبیق کوونکي |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | ۱۳۹٥-۱۳۹٦ | کابل | شکردره پغمان | ۷ | ٤۰۷۸۹۳ | ۸۷۲ | DANIDA | DDG |
| ۲ | ۱۳۹٥- | کابل | چهار اسیاب | ٤۱ | ۲٤٦٦٥۸٤ | ۲٥۹۷ | DOS | MOER |

| | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | ١٣٩٦ | | | | | | | |
| ٣ | ١٣٩٥-١٣٩٦ | کابل | خاکجبار | ١٢ | ٧٢٩٥١٧ | ٥٧٠ | | DDG |
| ٤ | ١٣٩٥-١٣٩٦ | کابل | خاکجبار | ٧ | ٢٥٥٤٨١٨ | ٥٨٢ | Bilateral | HT |
| ٥ | ١٣٩٥-١٣٩٦ | کابل | خاکجبار | ٤ | ٢٨٩٦٩٥ | ١٨٧ | Canada | ATC |
| ٦ | ١٣٩٥-١٣٩٦ | کابل | خاکجبار | ١٥ | ١٤٥٧٣٤٧ | ١١٠٤ | HT year plan | HT |
| ٧ | ١٣٩٥-١٣٩٦ | کابل | پغمان، خاکجبار | ٢ | ١٢٠٢٨٨ | ٦٩٤ | SIDA | DDG |
| ٨ | ١٣٩٥-١٣٩٦ | کابل | سروبی | ٧ | ٥١٣٨٩٨ | ١٣٥ | DOS | HT |
| ٩ | ١٣٩٥-١٣٩٦ | کابل | بگرامی، ده سبز، کابل | ٦ | ٢٩٧٢٢٧ | ٤٠٠ | New Donor | DDG |
| ١٠ | ١٣٩٥-١٣٩٦ | کابل | خاکجبار | ١٠ | ٧٠٨٧٤٥ | ٨١١٤٨ | New Donor | DDG |
| ١١ | ١٣٩٥-١٣٩٦ | کابل | سروبی | ٢٣ | ١٤٥٤٢٨٣ | ١٠١٧ | DOS | MDC |
| ١٢ | ١٣٩٥-١٣٩٦ | کابل | بگرامی، ده سبز، پغمان، کابل | ٩ | ٦١٦٥٧٩ | ٣٩٤٥ | DANIDA | DDG |
| ١٣ | ١٣٩٥-١٣٩٦ | کابل | خاکجبار | ٤ | ١٥٢٢٩٨ | ٢٣١ | CSSF | HALO Trust |
| ١٤ | ١٣٩٥-١٣٩٦ | کابل | چهار اسیاب | ٨ | ٩٣٦٩٨٢ | ٢٧٥ | Bilateral | HALO Trust |
| ١٥ | ١٣٩٥-١٣٩٦ | کابل | خاکجبار | ٤ | ٢٥٨٠٦٠ | ١٧٤ | DOS | |
| ١٦ | ١٣٩٥-١٣٩٦ | کابل | خاکجبار | ٤ | ١٤٠٤٠٦ | ٢١٨ | DOS | |
| ١٧ | ١٣٩٥-١٣٩٦ | کابل | سروبی | ٦ | ٥٨٦٢٨٩ | ٦٨٢ | DOS | |
| ١٨ | ١٣٩٥-١٣٩٦ | کابل | خاکجبار | ٢ | ١٠٩٠٧٥ | ٩٣ | DOS | |
| ١٩ | ١٣٩٥-١٣٩٦ | کابل | چهاراسیاب | ٥ | ٧٨١٨١٠ | ٢٥٥ | DOS | |

| | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۲۰ | ۱۳۹۵-۱۳۹٦ | کابل | موسهی | ٦ | ٩٠٨٥٠١ | ٥٥٦ | DOS | |
| ۲۱ | ۱۳۹۵-۱۳۹٦ | کابل | خاکجبار | ٥ | ٢٦٠٩٦٢ | ١١٣ | DOS | |
| ۲۲ | ۱۳۹۵-۱۳۹٦ | کابل | سروبی | ٣ | ٥٥٠٠٦ | ١٠ | DOS | |
| مجموعه | | | | ١٩٠ | ١٥٨٠٦٢٣ | ٩٥٨٦٨ | | |

دمعلوماتو سرچینه: افغانستان د ماین پاکی همغږۍ د چارورياست

د کوکنارو کرکيله د څولسيزو راپديخوا په هيواد کې جريان لرى عمده دليل يې د امنيت نشتون، فقر او بيکارى په ټولنه کې، چې د کوکنار کښت ته يې زمينه مساعده کړې ده. سره ددې ټولو عواملو د دولت لخوا يو تعداد د عامه پوهاوي پروګرامونه په لاره اچول شوي دي چې په لاندې کې يې ښودل شوى دي :

| ګڼه | د پروګرام نوم او ډول | تر پوښښ لاندې ساحه | تمويلوونکې اداره | تطبيق کوونکې اداره |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | د روږدو کسانو د کموالي په هکله تبليغ | سروبي ولسوالی | د سياره دفتر | د نشه يي توکو سره د مبارزې رياست |
| ۲ | د نشه يي توکو پروړاندی د بزګرانو تشويق | سروبي ولسوالی | د سياره دفتر | د نشه يي توکو سره د مبارزې رياست |
| ۳ | ورزش وکړئ او د نشه توکو څخه ځان وساتئ | سروبي ولسوالی | د سياره دفتر | د نشه يي توکو سره د مبارزې رياست |
| ۴ | په ښوونځيو کې د تبليغاتو په لار اچول | سروبي ولسوالی | د سياره دفتر | د نشه يي توکو سره د مبارزې رياست |

سرچينه: دنشه يي توکو سره د مبارزې رياست

## د سولې تحليل

د نورو ولايتونو په څير کابل ولايت هم د سولې ولايتی کميټی در لودونکې ده او هم د ولسواليو په کچه پروګرامونه لری او د سولې ولايتی کميټه هلی ځلی کوی تر څو وسلوال مخالفين د سولې دلارې نوموړې پروسی سره يوځای کړی چې د سولې ولايتی کميټی د عمده او اصلی وظايفو څخه ده. د سولې را وستل د هر مسلمان اسلامی وجيبه ده، چې پدې برخه کې د سولې د کميټی سره په همکارۍ يو شمير مدني ټولنو، ولايتی شورا او علماؤ بې شميره هلی ځلی کړی چې د همدوی ددې هلو ځلو په نتيجه کې د کابل ولايت کې يو شمير د دولت مخالفين د سولې د بهير سره يوځای کړې دي.

کابل ولايت کې د سولې اوپراتيفی مسؤل مسؤليت لری هغه کسان چې دسولې د بهير سره يوځای شوی د وزارت داخلی د بايومتريک د څانګې په ذريعه بايومتريک شوی دی ، او هم دوی ته يو تعداد ورکشاپونه هم ورکړل شوی دی.

د سولې شورا په کابل او ۱۴ اداری واحدونو کې د ملکانو، ملا امامانو ، شوراګانو او امنيتی ادارو په مرسته د هغه جنګې قومندانانو شهرتونه او هغوی اړيکې شميری لاسته راوړی کوم چې ددولت په ضد جنګيدل او هم د سولې شورا ددغو مخالفينو سره مستقيمه او يا په غيرمستقيمه ډول اړيکی نيولی دی چې په پايله کې يې ١٢ ګروپونه چې ١٠٣ نفره

کیږی د سولې سره یوځای او ۲۱۱ نفره یې داسې دی چې وسله یې په خپله په څمکه ایښی ده او خپل عادی ژوند یې اختیار کړی ده بل داچې داسی ډلې هم شته چې غواړی چې خپلی قواوی منحل کیدو موافقه یې د افغانستان ددولت سره کړی ده چې ښه بیګه یې د حزب اسلامی ده او ځینی طالبان هم دیته لیواله دی چې د سولې د پروسی سره یو ځای شی مګر شرایط ورته مساعد ندی.

کابل ولایت د سولې شورا په هلو ځلو کې ۳ نفره سیاسی بندیان د بند څخه را خوشی شوی دی، او هم د هر زندانۍ لپاره تر دری میاشتو لپاره ۵۰۰۰ افغاني ورکول کیږی.

د سولې عالی شورا کابل ولایت په هغه ځایونو کې چې مخالفین د سولې دبهیر سره یوځای شوی ددولت لخوا ورته پراختیایې بودیجه هم په واک ورکړل شوی ده او هم د سرکونو جوړول، د څخولو اوبو ذخیری او باغونو پروژی ور کړل شوی دی ، د سولې شورا دلاری د ۲۵۰۰۰ څخه تر۱۰۰۰۰۰ ډالرو په ارزښت ځینی پروژی هم عملی شوی دی لکه د استنادی دیوالونه ،مسجدونو جوړول او داسی نور.

د سولې عالی شورا دعامه پوهاوی په نوم ریاست لری چې عمده وظیفه یې د سولې شورا ویب سایت او چاپی تبلیغاتو نشرول دی او هم کابل ولایت کې دولتی او غیر دولتی چاپی ، تصویری او صوتی رسنی وجودلری او نوموړی رسنی د سولې شورا ټولی برنامی نشروی ترڅو د سولې پیغام خلکو ته ورسوی ، او هم رسنی د سولې په راوستلو کی عمده رول لری چې بباید همکاری ورسره وشی.

د سولې عالی شورا د عدم تشدد غوښتونکو لپاره یوڅه اندازه مالی مرستی کوی او هم کوشش کوی چې د مختلفو لارو یې وهڅوی مګر په کومه اندازه چې غوښتنی عدم تشدد غوښتونکی لری د افغانستان ددولت باالخصوص د سولې شورا د بودیجی د کموالی د وجی نشی پوره کیدای او هم کابل ولایت د سولې شورا ډیرو امکاناتو ته اړتیا لری یعنی د کابل ولایت په بعضی ولسوالیو کې د دولت مخالفینو شمیر زیات دی.

## د حکومتوالی، قانون حاکمیت او د بشر حقوقو سکتور

د افغانستان ملي ستراتيژي هغه سند دي، چې د زريزو پرمختيايي موخو او د فقر د کچې د ټيټوالي په موخه ترتيب شوی دی. د دې سند له مهمو ارکانو څخه یو هم د حکومتوالی، قانون حاکمیت او د بشر حقوقو سکتور دی. دولت د مرکز او ولایتونو په کچه د ملي ستراتيژۍ موخو ته د رسیدو لپاره ژمن دی تر څو ولس ته د غوره خدمتونو د وړاندی کولو لپاره دمسلکی او په کارپوه شخصیتونو ګمارل او همدا رنګه د ضرورت په اندازه د تشکیل زیاتول او د موجوده تشکیل ظرفیت لوړول هغه څه دی چې یوی ټولنی ته د ښه خدمت کولو لپاره زمینه برابروی د کابل ولابت چې د افغانستان پایتخت او د هیواد په کچه تر ټولو لوی نفوس لرونکی ولایت دی او ولس ته د غوره خدمتونو وړاندی کولو لپاره زیات شمیر مسلکی او وړ تشکیل ته اړتیا لری چې د کابل ولابت په اړونده اداروکې د ملکی خدمتونو اوسنی تشکیل دی .

**لاندې جدول د هرې ادارې د کارمندانو په اړه پوره معلومات وړاندې کوي:**

| گڼه | اداره | ټول کارمندان | | | د لیسانس څخه پورته | | لیسانس | | نیمه عالي | | بکلوریا (دولسم پاس) | | د بکلوریا څخه ښکته | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | ټول | نارینه | ښځې | نارینه | ښځې | نارینه | ښځې | نارینه | ښځې | نارینه | ښځې | نارینه | ښځې |
| ۱ | کابل ولایت مقام | ۲۲۴ | ۲۱٦ | ۸ | ۱ | ۰ | ۳۸ | ۳ | ۱۷ | ۰ | ۸۴ | ۲ | ۷٦ | ۳ |
| ۲ | ولایتي شورا ریاست | ۵ | ۴ | ۱ | ۰ | ۰ | ۲ | ۱ | ۰ | ۰ | ۲ | ۰ | ۰ | ۰ |
| ۳ | داداری فساد پر وړاندی د مبارزی لویه | ۲۵۱ | ۲۲۵ | ۲٦ | ۱۳ | ۰ | ۱٦۲ | ۱۸ | ۱۷ | ۱ | ۳۳ | ۷ | ۰ | ۰ |
| ۴ | دملي راډیو تلویزیون عمومی ریاست | ۹۷۵ | ۸۴۳ | ۱۳۲ | ۲۱ | ۲ | ۱٦۵ | ۲۱ | ۱۸۴ | ۱۸ | ۲٦۱ | ۵۴ | ۲۱۲ | ۳۷ |
| ۵ | هوائي میدان | ۱۸۵ | ۱٦۸ | ۱۷ | ۵ | ۰ | ۳۰ | ۲ | ۱۸ | ۴ | ۱۱۵ | ۱۱ | ۰ | ۰ |
| | د کلیو براختیا ریاست | ۳۷ | ۳۵ | ۲ | ۲ | ۰ | ۱۲ | ۰ | ۴ | ۰ | ۷ | ۱ | ۱۰ | ۱ |
| | د سرحدون او قبایلو | ۴۹۱ | ۴۴۷ | ۴۴ | ۱۷ | ۰ | ۱۸۹ | ۸ | ۱۱۷ | ۸ | ۱۲۰ | ۲۵ | ۴ | ۳ |
| ۱۰ | د ښځو چارو ریاست | ۱٦ | ۱ | ۱۵ | ۰ | ۰ | ۰ | ۵ | ۰ | ۰ | ۱ | ۸ | ۰ | ۰ |
| ۸ | د مهاجرینو چارو | ۲۳ | ۲۰ | ۳ | ۰ | ۰ | ۳ | ۰ | ۴ | ۰ | ۱۳ | ۳ | ۰ | ۰ |
| ۹ | چاپیریال ساتنې | ۱۷ | ۱۴ | ۳ | ۰ | ۰ | ۱۲ | ۲ | ۱ | ۱ | ۱ | ۰ | ۰ | ۰ |
| | د کابل د گمرک | ۹۹ | ۹۸ | ۱ | ۵ | ۰ | ۳۲ | ۱ | ۴ | ۰ | ۵۷ | ۰ | ۰ | ۰ |
| ۱۰ | د کابل فرعي سیندنۍ حوزې | ٦۹ | ٦۹ | ۰ | ۴ | ۰ | ۱۳ | ۰ | ۹ | ۰ | ۷ | ۰ | ۳٦ | ۰ |

| | | | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱۱ | نشه يي توکو سره د مبارزې رياست | ٦ | ٦ | ٠ | ١ | ٠ | ۴ | ٠ | ١ | ٠ | ٠ | ٠ | ٠ | ٠ |
| ۱۲ | د پيښو پر وړاندې د چمتووالي رياست | ٧ | ٧ | ٠ | ٠ | ٠ | ٣ | ٠ | ١ | ٠ | ١ | ٠ | ٢ | ٠ |
| ۱۳ | د اراضی رياست | ٣۵ | ٣۴ | ١ | ٠ | ٠ | ٦ | ٠ | ٣ | ٠ | ٢۵ | ١ | ٠ | ٠ |
| ۱۴ | افغاني سرې مياشتې | ٣٢ | ١٩ | ١٣ | ٠ | ١ | ٨ | ٢ | ٧ | ٧ | ۴ | ٣ | ٠ | ٠ |
| ۱۵ | اقتصاد رياست | ٨ | ٨ | ٠ | ٠ | ٠ | ٦ | ٠ | ٠ | ٠ | ٢ | ٠ | ٠ | ٠ |
| ۱٦ | مخابراتو او معلوماتي ټکنالوجی رياست | ۴٠ | ٣٧ | ٣ | ٠ | ٠ | ٦ | ٠ | ۴ | ١ | ٢٧ | ٢ | ٠ | ٠ |
| ۱۷ | کرني، اوبولگوني او مالداری رياست | ١٧۴ | ١٦٩ | ۵ | ۴ | ٠ | ١٠۴ | ١ | ۵٢ | ٢ | ٩ | ٢ | ٠ | ٠ |
| ۱۸ | عامه ټولگټو رياست | ٣٠ | ٣٠ | ٠ | ١ | ٠ | ۴ | ٠ | ٣ | ٠ | ٢٢ | ٠ | ٠ | ٠ |
| ۱۹ | پوهنې رياست | ١٦٣ | ١۵٠ | ١٣ | ٠ | ٠ | ۵۴ | ٠ | ۵٠ | ٦ | ٢٩ | ٦ | ١٧ | ١ |
| ۲٠ | کابل حقوقو رياست | ٩٦ | ٩٣ | ٣ | ٢ | ٠ | ۵٠ | ٠ | ١٠ | ٠ | ٣٠ | ٣ | ١ | ٠ |
| ۲۲ | د اداري اصلاحاتو خپلواک کميسيون | ۵ | ۵ | ٠ | ١ | ٠ | ۴ | ٠ | ٠ | ٠ | ٠ | ٠ | ٠ | ٠ |
| ۲۳ | کابل سولې کميټه | ۴ | ۴ | ٠ | ٠ | ٠ | ۴ | ٠ | ٠ | ٠ | ٠ | ٠ | ٠ | ٠ |
| ۲۴ | د کوچيانو چارو | ۴ | ۴ | ٠ | ٠ | ٠ | ٢ | ٠ | ٠ | ٠ | ٢ | ٠ | ٠ | ٠ |

| | | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۲۵ | د مرکزي احصایې | ۷ | ۷ | ۰ | ۰ | ۰ | ۲ | ۰ | ۰ | ۰ | ۵ | ۰ | ۰ | ۰ |
| ۲۷ | اطلاعات و کلتور | ۱۳٦۴ | ۱۱۵۳ | ۲۱۱ | ۳۵ | ٦ | ۴۹۵ | ٦۲ | ۱٦۱ | ۲۷ | ۴۵۴ | ۱۱۲ | ۸ | ۴ |
| ۲۸ | د کابل بریښنا ریاست | ۲۰۳۰ | ۱۹۴٦ | ۸۴ | ۱٦ | ۲ | ۲۳۸ | ۲۱ | ٦۱۷ | ۱۲ | ۳۸۴ | ۲۷ | ٦۹۱ | ۲۲ |
| ۲۹ | د کابل عامې روغتیا | ٦٦۱ | ۴۲۲ | ۲۳۹ | ۱۰ | ۳ | ۹۸ | ۴۳ | ۱۱۳ | ۸۱ | ۲۰۱ | ۱۱۲ | ۰ | ۰ |
| ۳۰ | د نفوسو د احوال ثبتولو ریاست | ۵٦ | ۵۵ | ۱ | ۰ | ۰ | ۹ | ۰ | ۸ | ۰ | ۳۸ | ۱ | ۰ | ۰ |
| ۳۱ | قومندانی امنیه | ۱۴۸ | ۱۴۴ | ۳ | ۰ | ۰ | ۲۱ | ۰ | ۱۰ | ۰ | ۱۰۸ | ۴ | ۰ | ۰ |
| مجموعه | | | | | | | | | | | | | | |

| شمېره | هغه اداري چې په کې اداري اصلاحاتو پروسه پر مخ تللې ده | دټولو کارمندانو شمېر يې | هغه کارمندان چې د ازاد رقابت له لارې استخدام شوي دي | |
|---|---|---|---|---|
| | | | شمېر يې | سلنه يې د ټولو کارکوونکو پر وړاندې |
| ۱ | د پوهنې رياست | ۱۵۲۰ | ۱۴۹۳ | |
| ۲ | معلمين | ۵٦۱۱ | ۵٦۱۱ | |
| ۳ | مستوفيت رياست | ۹۰ | ۸۹ | |
| ۴ | گمرک رياست | ۱۹٦ | ۱۷۲ | |
| ۵ | عدليې رياست | ۱٦۷ | ۰ | |
| ٦ | کليو پراختيا رياست | ۳۷ | ۳۵ | |
| ۷ | روغتيا رياست | ۱۰۴۴ | ۹۷۸ | |
| ۸ | کرنې، مالدارى او اوبو لگونې رياست | ۲۲۰ | ۲۱۰ | |
| ۹ | د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوجی رياست | ۵۸ | ۵۵ | |
| ۱۰ | عامه ټولگټو رياست | ۱۵۵ | ۰ | |
| ۱۱ | معادن رياست | ۱۹ | ۸ | |
| ۱۲ | مهاجرينو چارو رياست | ۳۲ | ۳۱ | |
| ۱۳ | اقتصاد رياست | ۱۴ | ۱۳ | |
| ۱۴ | ښځو چارو رياست | ۳٦ | ۳۴ | |
| ۱۵ | مخدرو توکو سره د مبارزې رياست | ۷ | ۷ | |
| ۱٦ | ولايت مقام | ۲۰٦ | ۲۰۴ | |
| ۱۷ | ټاکنو خپلواکه کميسيون | ۵ | ۰ | |
| ۱۸ | چاپيريال ساتنې رياست | ۲۲ | ۲۱ | |
| ۱۹ | ولايتي شورا | ۸ | ۸ | |
| ۲۰ | ارشاد، حج او اوقافو رياست | ۱۸٦ | ۱۳۸ | |
| ۲۱ | امنيه قومنداني | ۳۲۳ | ۳۲۰ | |
| ۲۲ | نفوسو د احوالو د ثبتولو رياست | ۱٦۲ | ۱٦۰ | |
| ۲۳ | کوچيانو چارو سمون آمريت | ۵ | ۵ | |
| ۲۴ | کابل فرعي سيندنى حوزې رياست | ٦۹ | ٦۸ | |
| ۲۵ | کابل استيناف څارنوالي | ۱۲۲ | ۱۲۰ | |
| ۲٦ | مرکزي احصايې آمريت | ۱۳ | ۱۳ | |
| ۲۸ | اداري اصلاحاتو خپلواکه کميسيون | ۱۰ | ۱۰ | |
| ۲۹ | د پېښو پر وړاندې د چمتووالي رياست | ۷ | ۷ | |
| ۳۰ | اراضي رياست | ۵۸ | ۰ | |
| | مجموعه | ۱۰۴۰۲ | ۹۸۱۰ | |

سرچينه: د اداري اصلاحاتو خپلواکه کميسيون

د کابل ولایت د دوه ګونو او دريِ ګونو واحدونو مربوطه کارکوونکي هر کال يو واري، طرزالعمل سره سم په خپل ټاکلي وخت د کميټي (مربوطه اداري آمر، ولايت مقام استازي، ولايتي شورا استازی او د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو د کميسيون د استازو) له خوا په منظم ډول ارزيابي کيږي.

| ګڼه | د اداري نوم | مناسب تعمير او ساحه | کمپيوټر | د ارتباطاتو تسهيلات | فرنيچر | نور |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | کابل ولايت مقام | ۴۰٪ | ٦۰٪ | ۴۰٪ | ۸۰٪ | |
| ۲ | ولايتي شورا رياست | موقتي | ۱۰٪ | ۱۰٪ | ۵۰٪ | |
| ۳ | د فساد پر وړاندی د مبارزی لويه اداره | ۱۰۰٪ | ٦۰٪ | ۳۰٪ | ۸۰٪ | |
| ۴ | د افغانستان ملي راديوتلويزيون مرکز | ۱۰۰٪ | ۱۰۰٪ | ۱۰۰٪ | ۱۰۰٪ | |
| ۵ | هوائي ډګر | ۱۰۰٪ | ۵۰٪ | ۵۰٪ | ۱۰۰٪ | |
| ٦ | د کليو براختيا رياست | ۹۰٪ | ۹۰٪ | ۴۰٪ | ۸۰٪ | |
| ۷ | | | | | | |
| ۸ | د مهاجرينو چارو رياست | کرايي | ۴۰٪ | ۰٪ | ۷۰٪ | |
| ۹ | چاپيريال ساتني رياست | کرايي | ۷۰٪ | ۰٪ | ۸۰٪ | |
| ۱۰ | د کابل فرعي سيندنی حوزې رياست | ۱۰۰٪ | ۹۰٪ | ۱۰٪ | ۱۰۰٪ | |
| ۱۱ | نشه يي توکو سره د مبارزې رياست | کرايي | ۸۰٪ | ۰٪ | ۳۰٪ | |
| ۱۲ | د پيښو پر وړاندې د چمتووالي رياست | ۷۰٪ | ۸۰٪ | ۳۰٪ | ۲۵٪ | |
| ۱۳ | کابل اراضی رياست | ۱۰۰٪ | ۲۲٪ | ۱۰٪ | ۸۰٪ | |
| ۱۴ | افغاني سرې مياشتې رياست | ٦۰٪ | ۵۰٪ | ۱۰٪ | ٦۰٪ | |
| ۱۵ | اقتصاد رياست | ۱۰۰٪ | ۸۰٪ | ۱۰۰٪ | ۵۰٪ | |
| ۱٦ | مخابراتو او معلوماتي ټکنالوجی رياست | ۳۰٪ | ۵۰٪ | ۸۵٪ | ۸۰٪ | |
| ۱۷ | کرنې، اوبولګونې او مالدارۍ رياست | ۳۰٪ | ۵۰٪ | ٦۰٪ | ۸۰٪ | |
| ۱۸ | عامه ټولګټو رياست | ۱۰۰٪ | ۵۰٪ | ۰٪ | ۱۰۰٪ | |
| ۱۹ | پوهني رياست | کرايي | ۲۵٪ | ۰٪ | ۱۰۰٪ | |
| ۲۰ | کابل حقوقو رياست | موقتي<br>ي | ۲۰٪ | ۱۰٪ | ٦۰٪ | |

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ۲۱ | کابل استیناف څارنوالي | ۸۰٪ | ٦۰٪ | ۰٪ | ۲۰٪ | |
| ۲۲ | د اداري اصلاحاتو خپلواک کمیسیون | ۸۰٪ | ۷۰٪ | ۷۰٪ | ۱۰۰٪ | |
| ۲۳ | کابل سولي ولایتي کمیټه | کرایي | ۵۰٪ | ۲۰٪ | ۷۰٪ | |
| ۲۴ | د کوچیانو چارو سمون آمریت | موقتي | ۲۰٪ | ۰٪ | ۲۰٪ | |
| ۲۵ | د کابل احصایې آمریت | موقتي | ٦۰٪ | ۲۰٪ | ۵۰٪ | |
| ۲٦ | د اطلاعاتو او کلتور وزارت | ۷۰٪ | ۵۰٪ | ۵۰٪ | ۸۵٪ | |
| ۲۷ | د کابل بریښنا ریاست | ۸۰٪ | ۴۳٪ | ۲۵٪ | ۸۵٪ | |
| ۲۸ | د سرحدونو او قبایلو چارو ریاست | ۵۴٪ | ۲۳٪ | ۸٪ | ۴۸٪ | |
| ۲۹ | د کابل د گمرک ریاست | ۷۰٪ | ٦۰٪ | ۴۰٪ | ۱۰۰٪ | |
| ۳۰ | د نفوسو د احوال ثبتولو امریت | ۵٪ | ۳٪ | ۰٪ | ۵٪ | |
| ۳۱ | د ښځو چارو ریاست | ۵۰٪ | ۴۰٪ | ۲۰٪ | ۲۰٪ | |
| ۳۲ | محبس | ٦۰٪ | ۹۵٪ | ۹۰٪ | ۹۰٪ | |

سرچینه: اړونده اداری

د ښې حکومتوالی د رامنځ ته کولو، ولس ته د ښه خدمتونو وړاندې کولو، د سهولت او شفافیت رامنځ ته کولو لپاره لازمه ده چې د پر مختللی ټکنالوژی څخه استفاده وشی .

**لاندی جدول د کابل په ولایتی ادارو کې د انټرنیټ د اسانتیاو په اړه معلومات وړاندی کوی.**

| # | هغه اداري چې د انټرنیټ سهولت لري | هغه اداري چې خپل راپورونه د انټرنیټ له لارې لېږدوي |
|---|---|---|
| ۱ | ولایت مقام | ولایت مقام |
| ۲ | کرنې، مالداری او اوبو لگونې ریاست | کرنې، مالداری او اوبو لگونې ریاست |
| ۳ | د مهاجرینو ریاست | د مهاجرینو ریاست |
| ۴ | کابل سیندنی فرعي حوزې ریاست | کابل سیندنی فرعي حوزې ریاست |
| ۵ | | |

سرچینه: ولایت مقام

## په کابل ولایت کې عدلي او قضايي ارګانونه:

په تیرو څو کلونو کې د نړیوالو په مرستو دافغانستان حکومتی سیستم په بیا جوړولو او پیاوړی کولو باندی کار روان دی له نیکه مرغه اوس نږدی په ټولو ولایتونو کې عدلي او قضايي سیستمونه په مرکزی او محلی سطحه فعال شوی او خپل کارونه مخ ته بيايي. چې د دی جملی څخه د کابل ولایت عدلي او قضايي سیستم هم فعال شوی دی او په کار يې پيل کړئ دی. خو د نا امنيو له امله د دی ولایت په ځينيو ولسواليو کې د عدلي او قضايي ارګانونو خدمات نیمګړی دی . د کابل په ولایت کې عدلي او قضايي ارګانونه مسلکی او وړ کارکوونکی لری خو مناسب تعمير او وسايل نه لری د کابل ولایت چې (۱۴) ولسوالی لری چې په ټولو ولسواليو کې عدلي او قضايي ارګانونه شتون لری ليکن په ځينو ولسواليو کې لکه (موسهی،خاک جبار،سروبی) کې د خدماتو کچه کمه ده. په نوموړو اورګانونو کی د فساد د لمنځه وړلو او یا کمولو لپاره منظم سیستمونه شته دی لکه میاشتنی مجلسونه، د شکاياتو صندوقونه، د شکاياتو لپاره د اړيکو شميری او ايميل ادرسونه يی جوړ کړئ ترڅو خلک په اسانی وکړی چې خپل شکايتونه عدلي او قضايي ارګانونو ته ورسوی .د کابل په ولایت کې د لانجو د حل او فصل کولو لپاره ځينی خلک مخورو، سپين ږيرو او قومی مشرانو ته هم مراجعه کوی په کابل ولایت کې به داسی ډيری کمی پيښی وی چې دحل په موخه طالبانو ته مراجعه وشی.

| د معلوماتو منابع | | | |
|---|---|---|---|
| ولایت مقام | حقوق ریاست | محکمه | څارنوالي |
| کابل ولایت د عدلي او قضايي ادارو حقوقو او څارنوالی اداراتو په شمول د قضايي خدمتونو د موثر عرضه کولو په موخه دزيربنا يعنی تعمير په برخه کې ځينی اسانتياوی برابر کړی او د تجهيزاتو او ترانسپورت په برخه کې ولایت مقام ډيری ستونزی لری او د يادو وسايلو اکمال ته اړتيا شته. | د امنيتي ستونزو له امله ترانسپورتي سيستم په ټپه درول شوی دی. موقتي تعمير لري او په تخميني ډول يې نور اداري تجهيزات تر ديرش سلنه تکميل دي. | د کابل ولایت استناف محکمه په نسبی ډول ترانسپورت،تجهيزات او ارتباطی وسايل لری چې دیادو وسايلو اکمال ته اړتیا شته. | د کابل استيناف څارنوالی د ترانسپورت، تجهيزاتو او ارتباطي وسايلو په برخه کې ستونزې لري، چې اکمال ته يې ضرورت ليدل کيږي. |

| اداره | کارکوونکي | منبع معلومات | |
|---|---|---|---|
| | | د اړونده اداري معلومات | د اداري اصلاحاتو او ملکي خدماتو خپلواک کميسيون معلومات |
| ریاست حقوق | ټول کارکوونکي | ۹۶ | √ |
| | هغه چې مسلکي زده کړې يې تر سره کړي | ۵۳ | √ |
| | ټول کارکوونکي | | √ |

| | | | |
|---|---|---|---|
| محکمه | هغه چې مسلکي زده کړې يې تر سره کړې | | √ |
| | ټول کارکوونکي | ۱۱۲ | √ |
| ښارنوالي | هغه چې مسلکي زده کړې يې تر سره کړې | ٦۰ | √ |

## په کابل ولایت کې د محبسونو وضعیت

| # | د کابل په ولایت کی ۲۱ توقیف خانی شتونلری | چې ۹۵ فیصده سهولیتونه هم لری |
|---|---|---|

سرچینه: د محبس مدیریت

## پر عدلي او قضايي ارګانونو د خلکو باور

دا چې حکومتونه د دې مسؤلیت په غاړه لرى چې دخپلو خلکو د ژوند دهوسایني لپاره لازم اقدامات وکړئ او د خپل مکلفیت له مخې خپلو خلکو او ټولنې ته ښه خدمات وړاندې کړي، نو د ښو خدمتونو په وړاندی کولو سره حکومتونه کولای شی چې د خلکو او حکومت ترمنځ فاصلې له منځه یوسی ترڅو خلک د حکومت څخه راضي او پر حکومت باوری اووسی .عدلي او قضایی اورګانونه هغه ارګانونه دي چې د قانون په حاکمیت کې اساسي رول لوبوي،او کله چې عدلي او قضايي ارګانونه خپل مسوولیتونه په ښه ډول ترسره کړی نو خلک د موجوده حکومت څخه راضی او باوری کېږي.

د ولایتي ستراتیژیک پلان جوړونې ټیم د استخدام شویو سرویرانو په مرسته په کابل کې ولایت کې د عدلي او قضايي ارګانونو د خدماتو د معلومولو لپاره او د خلکو د رضایت او نه رضایت د معلوملو لپاره په مرکز او پنځه ولسوالیو کې سروی تر سره کړی او معلومه کړی يې ده ، چې څومره خلک پر عدلي او قضايي ارګانونو باور لری او څومره باور نلری؟

په یاده سروې کې د عدلي او قضايي ارګانونو په اړه له (۱۰۰) تنو څخه دا پوښتنه شوی ده چې په عدلي او قضایي ارګانونو څومر باور لری؟ د تر لاسه شویو ځوابونو د تحلیل څخه معلومه شوه، چې (۳۰) تنو ۱۰۰٪ باور درلود، (٦۰) تنو ( ۵۰٪ ) باور درلود او ( ۱۰ ) تنو نورو هیڅ باور نه درلود.

نوموړي معلومات د حکومتوالي او اداري فساد د وضعیت د تحلیل په ګردي میزونو کې د ګډونوالو سره، چې د ولایت مقام، خصوصي سکتور، مدني ټولنې، عدلي ریاست، ځوانانو ټولنې، محکمې ریاست،عدلي ریاست،کار او ټولنیزو چارو ریاست استازي او یو تن دعلماؤ شورا استازی او یو تن قومي سپین ږیری يې ګډونوال وو، شریک شول، چې ټولو ګډونوالو یاد معلومات تصحیح او تایید کړل. په لاندې ګراف کې د یادې سروې نتیجه ښودل شوې .



| د معلوماتو منابع | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| عدلي او قضايي ارګانونه | د مدافع وکیلانو ټولنه | په ښارکې د تصادفي مرکو پایله | په ولسواليو کې د تصادفي مرکو پایله | د ګردي میز پایله | ولایت مقام | مدني ټولنه |
| د حقوق ریاست له نظره ۵۰ سلنه وګړي په عدلي او قضايي ارګانونو اعتماد لري. | د مدافع وکیلانو د ټولنې له نظره ۵۰ سلنه وګړي پر عدلي او قضايي ارګانونو باور لري. | د کابل ولابت په ښار کی د تصادفي مرکو په پایله معلومه شوه چه ۷۰ سلنه خلک بر عدلي او قضایی ارګانونو باور لری | د کابل ولابت په اړونده ولسواليو کې د مرکو په پایله کې ثابته شوه چې ٦۰ سلنه خلک پر عدلي او قضايي ارګانونو باور لری | د کابل ولایت د غونډو په تالار کی د نیول شوی ګردی میز پایله کې معلومه شوه چې په مجموعي توګه ٦۰٪ خلک پر عدلي او قضايي ارګانونو باور لری | د کابل ولایت مقام له نظره ۸۰ سلنه خلک پر عدلي او قضايي ارګانونو باور لری او خپلی ستونزی له همدی مرجع څخه حل او فصل کوی | |

## د فساد د مخنیوي لپاره د میکانیزم جدول

| د معلوماتو منابع | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ولایت مقام | عدلي او قضایي اداري | پولیس ( امنیه قومندانی) | د اداری فساد سره د مبارزی عالی اداره ولایتي شورا | مدني ټولني |
| | د حقوقو د اداري په وینا په نوموړي اداره کې کارکوونکي د رئيس له خوا نظارت کيږي چې دا کار د فساد د کچې د ټیټیدو لامل دی خو لا تر اوسه د فساد د مخنیوي لپاره کوم بل مشخص میکانیزم شتون نلري.<br>د استیناف څارنوالی په وینا: د لوی څارنوالی په کچه د فساد پر وړاندي د مبارزي ریاست شتون لري، چې د ادري فساد ټولي قضیي د نوموړي اداري له خوا څیړل کیږي او دکابل ولایت د استیناف څارنوالی په دې اړه کوم اجراات نه کوي. | | د اداری فساد سره د مبارزی عالی اداری لخوا چې کومه دوسیه یا قضیه مکمل کیږی اول په ضمیمه د یوی فورمی ثبت او ډیتابیس کیږی چې د مدیریت ثبت قضایا په نامه دی او بیا دوسیه څارنوالی ته لیږل کیږی | |

## بشري حقوق

د بشري حقونو د ترویج او پراختیا په برخه کې په کابل ولایت کې ځانګړي ورکشاپونه او غونډې د ولایت په کچه دایري شوي دي.
د کابل ولایت په وینا د کوچنیانو د حقونو د خوندي کولو او یا د هغوی د حقونو څخه د دفاع په موخه کوم پروګرام پر لاره نه دی اچول شوی.

د کابل ولایت د ولسوالیو په سطحه د مدني ټولنو تر منځ همغږي شته چې په ترڅ کې يې میاشتینۍ ناستې دايريږي او له مخې يې د ولسواليو په سطحه نظارت تر سره کیږي.
د مدني ټولنو له خوا د دولت په کړنو د نظارت په برخه کې کوم منظم پروګرام شتون نه لري.
د کابل په ولايت کې د شکايتونو د ثبت او راجستر په برخه کې هغه شکایتونه او وړانديزونه چې د خلکو له خوا د شکاياتو د صندوق له لیارې کيږي وروسته له تحليل او ارزيابۍ ورته تصمیمونه نیول کیږي او ورته د حل لارې مشخصيږي. د نیکه مرغه د کابل ولايت په ټولو ولسواليو او د ولايت په ټولو سکتوري رياستونو کې د شکاياتو د ثبتولو صندوقونه شتون لري.

## مدني حقوق

په عامه معنی مدني حقوق د داخلي او نړیوالو خصوصي حقونو ټولو برخو ته ویل کیږي او په خاصه معنی لاندې مباحث رانغاړي:
الف – اشخاص ( نوم ، ځای، شخصي احوال، اهلیت، قومیت)
ب ـ کورنۍ ( نکاح، طلاق، قرابت، نفقه، ولایت)
ج - جايداد ( مالونه، مالکیت، تړونونه، وراثت، هبه، وصیت)
د دې تر څنګ مدني حقوق په خاصه معنا تجارتي حقوق، بحري او هوايي حقوق،د کار او بیمې مسایل او د اراضی اصلاحات هم رانغاړي.
هر انسان په خپل ژوند کې د مشروع ژوند لپاره ازادی لری د همدی ازادی د ساتلو لپاره مدني حقوق دی چې د حکومت او خصوصي اداری د انسانانو په ژوند کې دبی ځایه مداخلی او د خلکو د کارونو خنډ نه شی کیدلای. او د یو هیواد هر تبعه کولای شی چه بغیر د تبعیض و ظلم او زیاتی پرته د دولت په سیاسی او مدنی ژوند کې برخه اخستنه باوری کړی. دا چه مدني حقوق ډیر مهم دی نو دا ضرور ده چې د هیواد هر وګړی یې په اړه معلومات ولری.
په کابل ولایت کې د مدني حقوقو څخه د خلکو د پوهاوي د کچې معلومولو لپاره، د ولايتي ستراتيژيک پلان جوړونې ټیم د استخدام شوو سروېرانو په مټ د کابل په ښار او ځينو ولسواليو کې د (۱۰۰) تنو سره مرکې کړي او پوښتلي يې دي، چې تاسې د خپلو مدني حقوقو څخه خبر یاست؟ د سروې په پایله کې معلومه شوه، چې (۳۵) تنه یې د خپلو مدني حقوقو څخه خبر وو او پاتې ( ٦٥) تنو یې پوهاوی نه درلود.
همدارنګه ياد معلومات او ارقام د اداري فساد او حکومتوالۍ د تحليل په ګردي ميز کې د ګډونوالو سره، چې د ولايت مقام ، خصوصي سکتور، مدني ټولنې، عدلي رياست، ځوانانو ټولنې، کار او ټولنیزو چارو رياست استازي او يو تن د علماؤ شورا استازی او یو تن قومي سپين ږيري يې ګډونوال وو، سره شريک شول، چې ټولو ګډونوالو ياد معلومات تصحيح او تاييد کړل او زياته يې کړه، چې اصلا عام وګړي د مدني حقوقو په معنی تر ډېره نه پوهېږي.



| د معلوماتو منابع | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| کابل حقوقو ریاست | د بشري حقونو خپلواکه کمیسیون | یونما | مدني ټولنې | د تصادفي سروې ګانو پایله | د ګردي میز پایله | ولایت مقام |
| د کابل د حقوقو ریاست له نظره: د سواد د کچې د ټیټوالي له امله ۱۰ سلنه خلک د مدني حقوقو په هکله معلومات لري. | | | | د کابل ښار او اړونده ولسوالیو کې د تصادفی مرکو په پایله کی ۷۰ سلنه خلکو ویلی چه د مدنی حقوقو په هکله معلومات لری | د اداري فساد او حکومتوالی د تحلیل په ګردي میز کې د ګډونوالو په نظر ۳۵ ٪ خلک د خپلو مدنی حقونو څخه خبر دی | د کابل ولایت مقام له نظره په مرکز کې خلک د خبراوی مختلفو مرجعو لکه رسنیو، تعلیمی، اموزشي او عامه پوهاوی پروګرامونو او د دی تر څنګ د خبراوی نورو مختلفو مرجعو ته لاس رسی لری او ۸۰ سلنه خلک د خپلو مدنی حقونو څخه خبر دی. |

## انتقالي عدالت

ادا چې افغانستان د دریمی نړی یا وروسته پاتی هیوادونو د جملې څخه دی نو به همدی امله په زیاتره برخو کې مشکلات او کموالی لری چې دهغی څخه یوهم د انتقالی عدالت سره بلدتیا ده ادا چه انتقالی عدالت په تیرو څوکلونو کې منځ ته راغلی دی نو ډیری خلک یی په مفهوم نه پوهیږی او تعبیر یی ترینه سم نه دی.د دی اصطلاح د روښانه کولو لپاره باید یو څه معلومات خلکو ته ورکړل شی انتقالی عدالت د قانون واکمنی ، اداری سمون ، امنیت تآمین او دقضا په برخه کې د سمون اواصلاح راوستل دي. په جګړوکی د قانونی اصولو څخه د سرغړوني او دجګړې څخه وروسته هغه جرایم او بی قانونی چې په جګړه کې شوی دی مثبت غبرګون، عدالت تأمین او پخلاینی ته د رسیدو په مفهوم کارول کیږی او د ټولو موجوده مشکلاتو لپاره د حل لاری په ګوته کوی.

له بده مرغه زموږ په هیواد کې خلک انتقالي عدالت د جزايي عدالت په معنی پیژني، د انتقالي عدالت د نوم اخیستلو سره سم د خلکو ذهن ته سزاګاني، بندی کیدل او وژل کیدل راځي، چې ادا یوه ناسمه انګېرنه ده.

که څه هم د کابل ولایت د اوسیدونکو د اګاهی کچه نسبت د نورو ولایتونو اوسیدونکو ته لوړه ده نو په کابل ولایت کې د انتقالی عدالت څخه د ملاتړ د معلومولو لپاره د ستراتیژیک پلان جوړوني دټیم له خوا په ښار او ځینو ولسوالیو کې د استخدام شوو سرویرانو په مټ سروي ترسره شوه او په دې ولایت کی یی د انتقالی عدالت په هکله د (۱۰۰) تنو څخه دا ډول پوښتنه مطرح کړې (ایا تاسو د انتقالی عدالت ملاتړی یاست) چې د یادی پوښتنی په ځواب کې (۷۸) تنو د انتقالی عدالت څخه خپل ملاتړ او (۲۲) تنو دملاتړ څخه انکار کړی دی.

انتقالی عدالت په اړه د اداري فساد او حکومتوالی د تحلیل په ګردي میز کې ګډونوالو یاده نتیجه تایید کړه او هم یې د انتقالی عدالت څخه ملاتړ وښود .

## مذهبي چارې

د افغانستان هیواد د مختلفو قومونو او مخلتفو مذهبی خلکو څخه جوړ دی چې د هیواد په کچه اکثریت یې د سنی مذهب پیروان دی چې تر څنګ یې د نورو مختلفو مذاهبو پیروان هم شته،نو د کابل ولایت یو له هغو ولایتونو څخه دی چې د سنی مذهبو ترڅنګ د حنفی مذهب، اهل هدیث، شیعه مذهباو اهل هنودهم پکی شتون لری.لکه څرنګه چې د کابل په ولایت کې د څو مختلفو مذاهبو پیروان ژوند کوی او هر اړخیزه حسنه روابط لری او تراوسه پوری د مذاهبو ترمنځ کوم ټکر پیښ شوی نه دی لیکن وخت نا وخته د هیواد د دښمنانو لخوا هڅی کیږی تر څو د مذهب او قوم د نوم څخه استفاده وکړی او د مذهبونو او قومونو تر منځ نفاق رامنځ ته کړی.

د کابل ولایت په ۱۴ ولسوالیو کی ۲۰۹۳ بابه رسمی او غیر رسمی راجستر شوی جوماتونه موجود دی چې په یادو رسمی جوماتونو کی د ۳۰۰ په شاوخوا کی علماؤ کرام امامت کوی د دی تر څنګ د کابل ولایت په ولسوالیو کې ۱۲۵بابه دینی مدرسی او یوه تکیه خانه هم د پغمان په ولسوالی کې شتون لری البته د کابل په ښار کی ګڼې دینی مدرسی او تکیه خانی شتون لری چې د یادو مدرسو تعمیرونه او نور تجهیزات تکمیل ندی چې د ارشاد حج اوقاف ریاست د راپور له مخی د کابل ولایت د اکثرو مدرسو درسی نظام او کوریکولم وخت په وخت بررسی کیږی او اصلاحات پکی راغلی.

دکابل ولایت د ولسوالیو هغه ماشومان چې ښوونځیو ته نه ځي او یا هم ښوونځیو ته د شاملیدو عمر یې بشپړ کړی نه وي ۹۵٪ یې په مسجدونو کې دیني او مذهبی زده کړې کوي.

دکابل ولایت په مرکز کې د ارشاد حج اوقاف وزارت لخوا د حج د مناسکو د تمرین او زده کړې لپاره یواځی د حجاجو تجمع مرکز شتون لری او له بده مرغه چې د حجاجو لپاره کوم خاص او منظم روزنیز ځای شتون نلری لیکن د ضرورت پر محال د کابل ولایت په ولسوالیو کې د علماؤ لخوا په مسجدونو کې د حج دمناسکو روزنه او تمرین تر سره کیږی.

دارشاد، حج او اوقاف ریاست پر وینا په دې ریاست کې هیڅ ډول فساد شتون نه لري او خپل کارونه په خپل وخت ترسره کوی او تراوسه هیڅ مرجع د نوموړی ریاست څخه شکایت نه دی کړی.

دکابل په ولایت کې ددینی عالمانو دظرفیت لوړونی لپاره ځینی پروګرامونه ترسره شوی چې په لاندی جدول کې ذکر شوی دی.

| د پروګرام نوم | دمستفیدو علماوو شمیر | تمویل کوونکی اداره | دپروګرام موده |
|---|---|---|---|
| د ښځو حقوق او میراث ته لاسرسی | ۵ تنه | د ښځو چارو ریاست | یو ورځ |

سرچینه:دحج او اوقاف ریاست

## دکابل په ولایت کې د مذهبی پوهاوی لپاره لاندی کمپاینونه په کار اچول شوی دی.

| پلی کوونکې اداره | دمستفیدینوشمیره | ترپوښښ لاندی ساحه یی | شمیره یی | دکمپاین ډول |
|---|---|---|---|---|
| د ارشاد، حج او اوقاف ریاست | د کابل ولایت د ولسوالیو ټول اوسیدونکی | د کابل ولایت ولسوالی | په دوامداره توګه | د یووالی،سولې او الهی احکامو ته د خلکو دعوتول |
| د ارشاد، حج او اوقاف ریاست | د کابل ولایت د ولسوالیو ټول اوسیدونکی | د کابل ولایت ولسوالی | په دوامداره توګه | د اسلام له نظره د نشه يي توکو حراموالی |
| د ارشاد، حج او اوقاف ریاست | د کابل ولایت د ولسوالیو ټول اوسیدونکی | د کابل ولایت ولسوالی | په دوامداره توګه | د اداری فساد په اړه |
| د ارشاد، حج او اوقاف ریاست | د کابل ولایت د ولسوالیو ټول اوسیدونکی | د کابل ولایت ولسوالی | په دوامداره توګه | امر بل معروف و نهی عنل منکر( نیکو کارونو ته د خلکو رابلل او د بدو کارونو څخه منع کول |

سرچینه: د حج اوقافو ریاست

## د کابل په ولایت کی لاندی مذهبی کتابتونونه موجود دی

| د مذهبی کتابتون نوم | د موجود کتابونو ډول | د چا لخوا تمویل او د کومې دولتی اداری اړوند دی |
|---|---|---|
| د عبدالله بن عباس | تفسیر،حدیث،فقه،سیرت،تاریخ او داسی نور | د کابل ولایت د ارشاد حج اوقافو ریاست مربوط دی |

سرچینه: د حج اوقافو ریاست

## کوچیان

کابل ولایت ته د کال دوه نیم لکه کوچیان را ځي او بیرته کوچیږي. په دي ولایت کوچیان د حمل څخه تر اسد میاشتي استوګن وي او دري لکه کوچیان د دي ولایت تلپاتي استوګن دي. د کابل په ولایت کې د کوچیانو لپاره ١٦ ښوونځي او یوه دیني مدرسه شتون لري چې کوچې ماشومان په کې په زده کړو بوخت دي. د روغتیا په برخه کې کوچي میشتو سیمو کې دوه ثابت او څلور سیار کلینیکونه فعالیت کوي چې د اړتیا په تناسب د روغتیایي خدماتو عرضه کمه بلل کیږي. د کوچیانو د چارو د سمون آمریت په وینا کوچیان د تګ راتګ په وخت کې د امنیتي پلوه د بیلابیلو ګواښونو سره مخ دي او د بیلابیلو ډلو لکه: سیمه ییز زورواکي، لارې شوکوونکي، طالبان، غاصبین او داسې نورو  له خوا زیانونهویني. د ښوونه او روزنې په برخه کې، روغتیایي ستونزې، د هستوګنې ځایونو نه شتون، د محصولاتو د بازار نه شتون. د څړځایونو نه شتون، د څښاک اوبو او خوارکي توکو نه شتون او د تګ راتګ په وخت کې د امنیت نه شتون ټولې هغه ستونزې دي چې کوچیان ورسره مخ دي.

## طبیعي پېښې

کابل د وچ اقلیم په لرلو هغه ولایت دی، چې د کال څلور فصله لري. د دې ولایت جوي وضعه د هیواد د عمومي وضعیت تابع ده او د حمل او ثور په میاشتو کې یې د ورښت کچه په منځنۍ ۴۰۰ ملي متره ده. وړې زلزلې، سیلابونه او ځمکه خويدنه د دې ولایت له طبیعي مهمو پیښو څخه دي چې اکثرأ خلکو ته د زیانونو سبب ګرځي.

د کابل په ولایت کی د طبیعی پیښو پر وړاندی د نفوسو په اندازه منابع او امکانات موجود ندی خو د دولت د موجوده توان او امکاناتو مطابق یوه کمیټه جوړه شوی چی هیڅ کله به یی هم د خلکو څخه و نه سپموی.د پیښو د مخنیوی لپاره منظم پلانونه او د سکتوري ادارو په همغږۍ یې تطبیق کولای شي تر څود پیښو په مخنیوي کې موثره ثابت شي، خو د پیښو پر وړاندې د چمتووالي اداره لا تر اوسه د اضطراري حالاتو لپاره کوم پلان نه دی جوړ کړی. د کابل ولایت د سرې میاشتې ټولنې په اداره کې د طبیعي پیښو د مدیریت لپاره پلان جوړ شوی، چې تفصیل یې په لاندې جدول کې شتون لري.

| د اداري واحد نوم | پلان | | روزل شوی پرسونل | | تجهیزات |
|---|---|---|---|---|---|
| | کله جوړ شوی/ د څومره وخت لپاره دی | د چا له خوا جوړ شوی | شمېر | اړونده اداره یې | |
| د افغاني سرې میاشتې ټولنه کابل ولایت | د ۲۰۱۶ کال څخه تر ۲۰۲۰ کاله پورې د څلور کالو لپاره پلان ترتیب کړی دی. | د سرې میاشتې مرکزي اداري لخوا | یو کاري ټیم چې ۱۲ تنه کیږي روزل شوي دي. | کابل سره میاشت | تلیفون، موټر، هویت کارت، د سرې میاشتې یونفورم او داسې نور. |

سرچینه: کابل سرې میاشتې ټولنه

کابل سرې میاشتې ټولنه د کابل ولایت لپاره په شکردرې ولسوالی، موسهي ولسوالی، برچې دښتې او پنصد فامیلیو کې څلور بابه کلینیکونه لري چې په دغه کلینیکونو کې ۲۰ کارکوونکي او ۸ اجیران چې په ټوله کې ۲۸ کسان کیږي د نوموړو ساحو خلکو ته په خدمت بوخت دي. د دې تر څنګ نوموړې اداره یوه له هغو ادارو څخه ده چې د پیښو د مدیریت په برخه کې فعالیت کوي او د اظطراري وضعیت د تیارۍ په برخه کې په ګدام کې لاندې غیر خوراکي توکي لري.

| د سرې میاشتې ټولنې په ګدام کې د شتو توکو جدول | | | | |
|---|---|---|---|---|
| کمپل | ترپال | خیمه | د پخلنځي سیټونه | د اوبو بوشکې |
| ۲۳۵۷ تختې | ٦۸۱ تختې | ۱۳٦ بابه | ۴۳۲ سیټه | ۷۸۲ عدده |

د کابل سرې میاشتې ټولنې د پیښو د مدیریت په برخه کې د ۲۰۱۷ م کال په لومړۍ ربع کې د ۷۲۳ زیانمنو کورنیو سروې تر سره کړې او له دې جملې څخه یې ۱۹۱ کورنیو سره مرسته هم کړې چې جزیات یې په دې ډول دي:

د کابل ښار په دیارلسمه او شپږمه ناحیه کې د غزني ولایت د چغتور ولسوالۍ د ۱۷۲ بې ځایه شویو کورنیو سروې

د ۱۱۹ شهیدانو د ورثه وو د کورنیو سروې او د هرې کورنۍ لپاره د ۵۰ کیلو وړو او ۵ لیتر غوړیو مرسته

د پغمان ولسوالۍ ۵۹ کورنیو او په څلورمه ناحیه کې د ببرک چمن د خیمه میشتو ۱۳ کورنیو سروې او د پېښو پر وړاندې د چمتو والې ریاست لخوا ورته د مرستې د بستو توزیع، چې ٦ قلمه مواد یې لرل د سروبي ولسوالۍ د ١٦٠ کورنیو سروې چې د واورې او باران له امله زیانمنې شوې وې

د ستالف په ولسوالۍ کې د ۲۰۰ بې بضاعتو کورنیو سروې

په دې وروستیو کې د کابل ولایت د سروبي په ولسوالۍ کې د سیلاب پیښنه رامنځته شوې وه، چې د کابل ولایت هدایت سره سم د سرې میاشتې او د پیښو پر وړاندې د چمتووالې ریاستونو لخوا د ۹۲ کورنیو سره په یادې ساحې کې مرسته تر سره شوې. د دې مرستو جزیات یې په لاندې جدول کې شتون لري.

| د پېښې نېټه | اغېزمن شوې سیمه | د اغېزمن شویو کورنیو شمېر | د ورسره شویو مرستو تفصیل | د مرجع نوم |
|---|---|---|---|---|
| ۲۵/۴/۱۳۹٦ | میر علي خیل او سلام خان کلي، سروبي ولسوالۍ | ۹۲ کورنۍ | د هرې کورنۍ سره د وړو یوه ۵۰ کیلویي بوجۍ، ۵ لیتره د غوړیو بوشکه او د څینو خوراکې او غیر خوراکې توکو مرسته شوې ده. | د کابل سرې میاشتې ټولنه |
| ۲۵/۴/۱۳۹٦ | میر علي خیل او سلام خان کلي، سروبي ولسوالۍ | ۹۲ کورنۍ | خوراکې، غیر خوراکې او نقدي مرستې | د پیښو پر وړاندې د چمتووالې ریاست، سره میاشت ، پاملرنهIOM , او DRC موسسې |

سرچینه: کابل سرې میاشتې ټولنه او د پیښو پر وړاندې د چمتووالې ریاستونه

## د اقتصادي او ټولنیزې پراختیا سکتور

### سړکونه

د کابل په ولایت کې د سړکونو د حفظ او مراقبت لپاره د فواید عامې په چوکاټ کې درې ډوله میکانیزمونه شتون لري چې په دې کې د لویو لارو دوامداره ساتنه او څارنه، د اضطراري او ستراتیژیکو لارو ساتنه او د ولایتي سړکونو ساتنه او څارنه شاملې دي.په دې ولایت کې ۱۰۰ سلنه سړکونه په منظم ډول تر ساتنې او څارنې لاندې دي. د کابل ولایت د ګاونډیو هیوادونو سره سرحد نه لري نو له همدې امله ګاونډیو هیوادو ته یې سړکونه هم نه د غځېدلې خو د ګاونډیو ولایتونو ته یې سړکونه ۱۰۰ سلنه  بیارغول شوې او کیفیت یې لوړ شوې دي چې په لاندې جدول کې معلومات ذکر شوې دي.

| د هیواد نوم | | ۱- | ۲- | ۳- | ۴- | ټول یا مجموعه |
|---|---|---|---|---|---|---|
| د سرک یا لویې لارې اندازه | | کابل نه تر پروان | کابل نه تر میدان شهر | د کابل نه تر لوګر | د کابل نه تر لغمان | |
| هغه اندازه سړکونه چې | اندازه یې په کیلو متر | ۴۰کیلو متره | ۱۸ کیلومتره | ۲۳ کیلومتره | ۵۸ کیلومتره | |

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| بیارغول شوي او يايي کیفیت لوړ شوی | د ټول سرک سلنه | ۱۰۰٪ | ۱۰۰٪ | ۱۰۰٪ | ۱۰۰٪ | |
| نوي جوړې شوې لويې لارې | دوهم سرک کابل بګرام | | | | سرک کابل لته بند | |

د دې ولایت ۱۰۰ سلنه سرکونه د ولسوالیو او ښارونو تر مځ نښتې دي چې تفصيل يې په لاندې ډول دی:

## ترانسپورت

کابل ولایت هوايي ډګر ته وخت په وخت نوی پالیسۍ او مقررات د هوا نوردی د اداری لخوا ورکول کیږی چې د هوانوردی د سازمان سره په تفاهم جوړیږی،د کابل ولایت په هوای ترانسپورت کې کاملآ سمون راغلی لکه د معاشاتو د ورکړی سیستم د مامورینو د مقرری د پي آر د پروسی له مخې او داسی نور ،د هوانوردی سازمان چه ۷ مادیز قوانین لري دکابل هوايي ډګرکې د هغی مطابق اصلاحات راغلی دي،د کابل په هوايي ډګر کې د ترانسپورت سکتور اړوند ټول قوانین او مقررات تطبیق کړې دی ځکه چه د ایکو د سازمان غړیتوب یی ترلاسه کړې دي.د کابل په هوايي ډګرکې د خصوصي سکتور د تشویق لپاره قوی میکانیزم او سیستم شتون لری،مثلآ کله چه مونږ د بهرنی هیواد پرواز ته اجازه ورکوو نو په مقابل د خپل شرکت ته په هغي هیواد کې د پرواز اجازه نامه ترلاسه کوو.د کابل په هوايي ډګر کې د چاپیریال ساتنی ټول قوانین او مقررات تطبیق شوی دی چې د هوايي ډګر مربوط ټول پارکونه او چمنونه مو جوړ کړي شنه او فعاله دي.

## برېښنا

د کابل په ولایت کې کورنی ، حرارتي او وارداتي برېښنا شتون لري چې کورني برېښنا د نغلو ، سروبي او ماهیپر د اوبو د برېښنا فابریکو څخه او د ده سبز په ساحه کې لمریزه برېښنا تولیدیږی د کورني برېښنا ترځنګ کابل ولایت ته د ازبکستان او تاجکستان څخه انتقالي لین په واسطه وارداتي برېښنا هم راغلي ده .

د کابل په ولایت کې د اوبو د برېښنایي فابریکو څخه په یو ساعت کې ۷۳ میګاواټه او د لمریزی برېښنا څخه په یو ساعت کې یو میګا واټه او د وارداتي برېښنا په یو ساعت کې ۲۱۴ میګاواټه برېښنا تولیدیږي چې په مجموعي توګه د کابل ولایت کې په یو ساعت کې ۲۸۸ میګاواټه برېښنا تولیدیږي. د برېښنا د پلور د راپورونو له مخې په یو ساعت کې ۱۵،۲۶ میګاواټه برېښنا د دولتي ادارو له خوا مصرفیږی، او همدارنګه د کابل په ولایت کې د برېښنا د پلور د راپورونو له مخې په یو ساعت کې ۱۲۹،۰ میګاواټه برېښنا په استوګن ځایونو او ۴۲،۹۲ میګاواټه برېښنا په یو ساعت کې د سوداګریزو ،د سپيڅلو ځایونو او صنعتي او تولیدی فابریکو کې په مصرف رسیږی چه مجموعي توګه ۱۸۷۲،۲ میګاواټه برېښنا په یو ساعت کې مصرفیږی.

د کابل ښار د څلورو ولسوالیو (چهارآسیاب،بګرامي، ده سبز او بتخاک) په شمول په یو ساعت کې۳۳۰ میګاواټه برېښنا ته او په پاتي لسو ولسوالیو (پغمان، سروبي، شکرده، میربچه کوټ، کلکان، ګلدره،استالف او قره باغ) کې ۲۰،۱ میګاواټه برېښنا ته ضرورت لري.

د دی ولایت ټولی ۲۱ ناحي د برېښنا څخه برخمني دي او د کابل ولایت اکثره ولسوالي لکه (پغمان، بګرامی، بتخاک، ده سبز، سروبي، شکرده، میربچه کوټ، استالف، کلکان، ګلدره، فرزه او قره باغ) ته برېښنا رسیدلي ده او کلیو او باندو

ته د برېښنا د شبکي غزول جریان لري. چه د برېښنا څخه د استفاده کوونکو شمیر (۵۲۵،۷۶۳) تنو ته رسیږی چه برېښنا څخه میاشتني عواید یی (۹۲۰) میلونه افغاني ته رسیږي.څرنګه چه د نغلو د برېښنا فابریکه د اوبو د زیاتوالی سره یي برېښنا هم زیاتیږی او کله چه اوبه کمی شي نو نغلو برېښنا فابریکي دوه دوربینه فعالیت کوي د ماهیپر د برېښنا فابریکه چې د شپږو میاشتو لپاره د کابل او لوګر سیند په اوبو فعالیت کوي چې په یو ساعت کې ۱۸ میګاواټه برېښنا تولیدوی د نغلو او سروېې د برېښنا څخه یو اندازه برېښنا د جلال اباد ښار ته انتقال شوي ده.

د کابل په ولایت کې ۷ د برېښنا سب سټیشنونه موجود دي چې تفصیل یې په لاندي ډول دي.

| ګڼه | د سب سټیشن نوم | ظرفیت یې |
|---|---|---|
| ۱ | د واصل آباد د برېښنا سب سټیشن | ۹۰ میګاواټه |
| ۲ | د کوتل خیرخاني د برېښنا سب سټیشن | ۱۵۰ میګاواټه |
| ۳ | د هوایی ډګر د سرک برېښنا سب سټیشن | ۱٦۰ میګاواټه |
| ۴ | د هودخیلو د برېښنا سب سټیشن | ۱۰۵ میګاواټه |
| ۵ | د پلچرخي د برېښنا سب سټیشن | ٦۰۳ میګاواټه |
| ٦ | د بتخاک د برېښنا سب سټیشن | ۸۰ میګاواټه |
| ۷ | د چمتلی د برېښنا سب سټیشن | ۸۰ میګاواټه |
| | | |

سرچینه: برېښنا ریاست

## چاپېریال ساتنه

د کابل په ولایت کې د چاپېریال ساتنی لپاره جوړی شوی شوراګانی په لاندی ډول دی .

| مرکز یا ولسوالی نوم | د شورا د غړو شمېر | د نارینه غړو شمېر | د ښځینه غړو شمېر | د شورا د جوړېدا نېټه |
|---|---|---|---|---|
| د کابل ښار ۱۳ ناحیه | ۱۸ تنه | ۱۸ تنه | | ۱۳۸۸ |
| د کابل ښار اوله ناحیه | ٦۰ تنه | ٦۰ تنه | | ۱۳۹۱ |

د کابل په ولایت کی د چاپیریال ساتنی لپاره په مختلفو طریقو عامه پوهاوی شوی دی چه په لاندی جدول کی ذکر شوی دی.

| د پروګرام نوم | تروپښتن لاندي ساحه | تروپښتن لاندي ګروپ خلک | د تطبیق نیټه | تمویلوونکي اداره | تطبیقونکی اداره |
|---|---|---|---|---|---|
| د چاپیریال ساتنی په هکله د لمرنی موضوعاتو عامه پوهاوی | د کابل ولایت په ۹۸ مکاتبو کې | ۲۰۰۰۰ تنه | ۱۳۹۲ د سرطان میاشت نه تر د ۱۳۹۵ | | د روابطو او اطلاعاتو عمومی مدیریت |
| د چاپیریال ساتنی په هکله | د کابل ولایت په ۴۰ مکتبونو کې | ۲۰۰۰ تنه | ۱۳۹۵ نه تر ۱۳۹٦ | | د روابطو او اطلاعاتو عمومی |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| د لمړنی موضوعاتو عامه پوهاوی | | | | | مدیریت |
| په هر کال کې د چاپیریال ساتنی د نړیوالی ورځی لمانځل | ۲۵۰ تنه | | | | |
| د چاپیریال ساتنی په هکله د بروشرو توزیع کول | ۱۵۰۰تعداد توزیع شوی دی | په هر کال کې تول نبار | | | |

د کابل نبار په ۱۲ ناحیه کې د چاپیریال ساتنی رضاکارانه شورا جوړه شوی او غړی یی هم معرفی شوی دی چې د چاپیریال ساتنی په برخه کې هر اړخیزه همکاری کوی.

## عواید

د کابل ولایت د گمرک د یارست د معلوماتو له مخی د گمرک په محصولاتو کې د تیرو دریو کلنو په پرتله د دی اداری په عواید کی زیاتوالی راغلی چې د کابل گمرک د عوایدو په کچه کې د زیاتوالي اساسی سرچینه بلل کیږی چې په لاندی جدول کې د کابل گمرک د دریو کلنو عواید په لاندی جدول کې په تفصیل سره ذکر شوی دی.

| د ۱۳۹۴ کال عواید | د ۱۳۹۵ کال عواید | د ۱۳۹٦-۷-۳۰ کال پوری عواید |
|---|---|---|
| ۸۸۴۷۳۴۹۹۷ افغانی | ۲۷۰۰۱۲۷۴۹ افغانی | ٦۷۹۹۱۵۸۲۱ افغانی |

# معادن او طبیعي زېرمې

## د اوبو زیرمي:

د کابل ولایت چې د هیواد پایتخت دي مختلف سیندونه یې ترخنگ تیریږی خو د کابل په منځ کې یو سیند بهیږی چې موسمی اوبه لري او د کم وخت لپاره په کې رواني وي.د کابل نبار چې خومره ظرفیت لري خو چنده یې نفوس زیات دي چې فضله مواد یې هم زیات دی له همدی کبله یې د ځمکی لاندی اوبه هم خرابي او د استفادی وړ نه دي.دا چې مخکی مو وویل چې زیات سیندونه یې ترخنگ تیریږی خو کابل ته یې په کافی اندازه اوبه نه د ورکړی نو له همدی کبله په کابل کې د اوبو زیرمی او ذخیری کمی دی .

په کابل ولایت کې د ثابتو اوبو د تنظیم استراتیژی ٪۱۰۰ عملي شوی ده چې په پلې کولو کې ٪۱۰۰ پرمختگ شوي او د کابل ولایت ٪۱۰۰ اوبه د لویو بندونو څخه سرچینه اخلي.د دي ولایت د څښلو اوبو کې ٪۷۰ ښه والي راغلي دي.

د کابل په ولایت کې ۱۱ هایدرومتریک ستیشنونه نصب او مجهز شوي دي چې په لاندي جدول کې ذکر شوي دي.

| شماره | د هایدرومتریک ستیشن نوم | د ستیشن موقیعت | د ستیشن ډول |
|---|---|---|---|
| ۱ | استالف | د استالف د تخت لاندي | بابلر |
| ۲ | شکردره | میدانک | بابلر |
| ۳ | شکردره | دره چپ شکردره | برف سنج |
| ۴ | قلعه ملک | قلعه ملک | بابلر |
| ۵ | کانال خروجي | کانال خروجي بند قرغه | بابلر |
| ٦ | کانال دخولي | کانال دخولي بند قرغه | بابلر |
| ۷ | پغمان | دره پغمان | برف سنج |
| ۸ | تنگي سیدان | شاه توت | بابلر و کیبلوی |
| ۹ | سنگ نوشته | سنگ نوشته | کیبلوی |
| ۱۰ | تنگی غارو | دهنه تنگی غارو | کیبلوی |
| ۱۱ | نغلو | زیر بند نغلو | بابلر و کیبلوی |

سرچېنه: د د کابل رود د سیندنی فرعي حوزه

څرنگه چې مخکی مو یاداوری کړې چې د کابل ولایت کې نفوس د اندازی نه زیات شوي دي او د فضله موادو لپاره ځاگاني هم زیاتې شوي دي چې په اساسي شکل نه د جوړې شوي او د ځمکې لاندې اوبه يې تخريب او خرابه کړې دي نو له همدی کبله په کابل کې پاکو اوبو ته د خلکو لاسرسي ډير شوي نه بلکې کم شوي دي.

د کابل ولایت کې ٦۰ سلنه کرنیزو ساحو ته سل په سلو کې د نویو او رغولو شویو بندونو په واسطه د ځمکو د خړوبولو اوبه رسیږي او ۲۰ سلنه زراعتي ساحو ته په کمه کچه اوبه رسیږي. د کال په لمړی فصل کې ټول پاي ناوه سیمی هم ۹۰٪ په خپل وخت اوبو ته لاسرسي لري .د اوبو د مستفيدينو ۵۰ سلنه نارينه او ۸ سلنه ښځينه چې په ټوله کې ۵۸ سلنه کيږي د اوبه خور د شتمنيو د تنظيم په هکله تخنيکي پوهه او مهارت تر لاسه کړی دی. په کليو کې د اوبو د ويش ۰ نقطي شتون لري چې په لاندې جدول کې يې زيات تفصيلات موجود دي:

## معلوماتي او ارتباطي تکنالوژي

معلوماتي او ارتباطي ټکنالوژي د ننی نړی په پرمختيا کې لکه د ملا د تير حيثيت لري. ټکنالوژي د چارو په تر سره کولو کې د سرعت، دقت او د وخت د لگښت په کمولو کې ځانگړی رول لري. په تيرو ۱٦ کلونو کې دولت خلکو ته د معلوماتي او ارتباطي ټکنالوژی په برخه کې ډيرې اسانتياوې برابرې کړي، خو له بده مرغه لکه څنگه چې ښايي په هغه ډول د ټکنالوژی څخه پوره گټه نه ده پورته شوې. د مثال په توگه په رسمي دفترونو کې اوس هم ډيری داسې اداري شته چې خپل ډيټابيس نه لري او يا د مکاتبو ليږد راليږد د افرادو په واسطه تر سره کوي په داسې حال کې چې د ټکنالوژی په مرسته دا کارونه ډيرپه ساده او اسانه توگه ترسره کيدای شي. د مخابرات او معلوماتی تکنالوژی رياست د معلوماتو په اساس، د کابل ولايت مقام رسمي وبب پاڼه او يوه مجله لري. په دې ولايت کې د ICT يو مرکز د مخابرات او تکنالوژی په رياست کې شتون لري چې په لاندی جدول کې معلومات ذکر شوي دی.

| شماره | مرکز | د تآسیس نیټه | د زده کوونکو شمیر | د فارغ شویو زده کوونکو شمیر | مرستندویه اداره | کتني |
| وزارت امور شهرسازی | پروژه اعمار تصفیه خانه فاضلاب شهر | ۷۰٬۳۵۰٬۰۰۰ | ۶٬۸۲۵٬۳۱۰ |

| | | | |
|---|---|---|---|
| | کابل | | |
| وزارت امور شهرسازی | امورات ساختمانی - پروژه های ولایتی | ۱۶٬۱۵۲٬۳۲۰ | ۱۵٬۳۹۲٬۳۲۰ |
| لوی څارنوالي | اعمار تعمیر ات لوي څارنوالي در ولایات و ولسوالی ها | ۱٬۲۵۳٬۳٤۷ | ۱٬۲۵۳٬۳٤۷ |
| اداره ملی حفاظت محیط زیست | ظرفیت سازی ملی تعلیمات آموزش و آگاهی محیط زیستی | ۳۰٬۰۰۰ | - |
| ریاست عمومی تربیت بدنی و سپورت | اعمار کمپلکس های ورزشی در مرکز و ولایات | ۱٬۱۹۱٬۸٦۸ | ۱٬۱۷۸٬٦٥۰ |
| ریاست عمومی تربیت بدنی و سپورت | اعمار جمنازیوم برای معلولین | ۱۰٬۰۰۰٬۰۰۰ | - |
| ریاست عمومی تربیت بدنی و سپورت | پروژه ترمیم و تجهیز  اساسی ساختمان استدیوم ورزشی کابل | ٦٬۰۰۰٬۰۰۰ | - |
| ریاست عمومی امنیت ملی | اغمار تعمیر شفاخانه | ٦٬٥٦۰٬۲٥۸ | - |
| شاروالی کابل | توسعه و بهبود سیستم ترانسپورت در شهر کابل | ۱٬۳٦٦٬۸۰۰٬۰۰۰ | ۳۸۱٬٦۱۲٬٤۲۸ |
| شاروالی کابل | دیزاین، تنویر وساختمان سرکهای شهری | ۷۲۷٬۰۲۰٬۰۰۰ | ۱۰۸٬٤٥۹٬۷۱٦ |
| شاروالی کابل | برنامه انکشافی شاروالی کابل | ٦۷۰٬۰۰۰٬۰۰۰ | ۳٥٤٬۰۸۸٬۲۱۰ |
| شاروالی کابل | سرک کارته آریانا الی پوهنتون از طریق گردنه سخی | ۳۸٬۱۸٤٬۹۷۹ | - |
| شاروالی کابل | ساختمان سرک های حصه سوم خیرخانه | ۳٥٬٥۱٥٬۰۲۱ | ۳٤٬۸۹۹٬۹۲٥ |
| شاروالی کابل | ساختمان پل شینه و پل پاچا | ۳۳٬٥۰۰٬۰۰۰ | - |
| شاروالی کابل | قیریزی سرک قطعه محافظت و عملیات خاص تنفیذی وزارت مالیه | ٦٬۷۰۰٬۰۰۰ | - |
| شرکت آبرسانی و کانالیزاسیون افغانستان | مطالعات ابتدایی سروی دیزاین و آغاز کانالیزاسیون در شهر های جلال آباد، مزار شریف، هرات  و بازنگری سیستم کانالیزاسیون در شهر کابل | ٦٬۸۰۰٬۰۰۰ | - |
| شرکت آبرسانی و کانالیزاسیون افغانستان | توسعه و انکشاف شبکات آبرسانی کابل و دیزاین سیستم آبرسانی بند شاتوت | ۱٥۰٬۰۸۰٬۰۰۰ | ۱۱۲٬٦۰۱٬۹۷۸ |
| د افغانستان برشنا شرکت | تجهیزات ووسایل ایمرجنسی برای لین ۲۲۰ کیلو ولت NEPS | ۲۰٬۰۰۰٬۰۰۰ | - |
| د افغانستان برشنا شرکت | سب ستیشن جدید ۲۲۰ کیلوولت در جنوب غرب کابل و توسعه سب ستیشن | ٥۰٤٬٥۲۹٬۷٦٥ | ۱۹۹٬۱٤۲٬٥۳۱ |

| | | | |
|---|---|---|---|
| | چمتله | | |
| د افغانستان برشنا شرکت | نوسازی و گسترش شبکه توزیعی در دشت برچی | ۱۱٬۷۵۴٬۴۹۵ | ۱۱٬۷۵۲٬۲۲۷ |
| د افغانستان برشنا شرکت | اداره پروگرام و مشاوریت هیئت عامل برشنا جهت تطبیق پروژها | ۱۳۴٬۹۷۰٬۰۰۰ | ۸۰٬۳۹۱٬۹۵۶ |
| د افغانستان برشنا شرکت | لین انتقال و توزیع برق از شمال به جنوب کشور وارتقاع ظرفیت برشنا شرکت در عرصه تجارتی، عملیاتی  مالی و اداری ( PTEC  ) | ۲٬۸۳۳٬۰۰۰٬۰۰۰ | ۱٬۶۱۳٬۴۳۲٬۰۳۸ |
| د افغانستان برشنا شرکت | بازسازی بند برق نغلو | ۴۰۳٬۳۴۰٬۰۰۰ | ۲۴۰٬۹۲۹٬۷۳۵ |
| د افغانستان برشنا شرکت | واحد حمایه پلانگذاری و ارتقا ظرفیت برشنا شرکت | ۱۰۰٬۵۰۰٬۰۰۰ | ۱۰٬۳۴۳٬۷۷۳ |
| د افغانستان برشنا شرکت | شبکه انتقال وتوزیع برق در ولسوالی خاکجبارولایت کابل، و ولسوالیهای چهاردره، آقتاش، و ارچي ولایت کندز | ۶۷٬۰۰۰٬۰۰۰ | - |
| د افغانستان برشنا شرکت | پروژه انکشاف سیستم انرژی افغانستان | ۶٬۷۰۰٬۰۰۰ | - |
| د افغانستان برشنا شرکت | دستگاه تولید برق آفتابی در نغلو | ۱۰۰٬۰۰۰٬۰۰۰ | - |
| د افغانستان برشنا شرکت | تمدید لین انتقالی ۵۰۰ کیلوولت ترکمنستان افغانستان پاکستان فاز اول (TAP۵۰۰ ) | ۶٬۰۰۰٬۰۰۰ | - |
| اداره مستقل انکشاف زون پایتخت | تهیه ماستر پلان و اعمار سرکها، کانالیزاسیون و زیربنای شهر جدید کابل | ۱۰۵٬۷۱۰٬۳۳۷ | ۳۳٬۰۸۵٬۱۵۸ |
| اداره مستقل انکشاف زون پایتخت | احداث پارک صنعتی زراعتی باریک آب شهر جدید کابل | ۲۹۷٬۱۰۱٬۲۹۷ | ۲۳۵٬۷۲۳٬۴۰۴ |
| اداره مستقل انکشاف زون پایتخت | پاک کاری دریای کابل و اعمار بازار چهار چته | ۲۱۳٬۸۸۰٬۷۱۰ | ۶۵٬۵۱۲٬۲۳۴ |
| اداره مستقل انکشاف زون پایتخت | اعمار سرک های سنگی در پروژه تایمنی و شاه شهید | ۴۰٬۰۱۶٬۰۶۱ | ۲۲٬۷۹۰٬۰۹۷ |
| اداره مستقل انکشاف زون پایتخت | رد آب های سطحی کابل | ۹۹٬۰۱۰٬۶۸۸ | ۱٬۱۲۰٬۵۵۰ |
| اداره مستقل انکشاف زون پایتخت | احداث شهرک مهاجرین گوسفند دره (کابل) | ۸٬۰۰۰٬۰۰۰ | - |
| اداره مستقل انکشاف زون | احداث شهرک مهاجرین کرخ (ناحیه | ۷۵٬۳۳۱٬۴۱۶ | - |

| پایتخت | ۱۳) کابل | | |
|---|---|---|---|
| اداره مستقل انکشاف زون پایتخت | اعمار دفتر مرکزی اداره انکشاف زون پایتخت | - | - |
| اداره مستقل انکشاف زون پایتخت | ایجاد محلات بسته | ۸۷٬٤۹۳٬٤۵۳ | ٦٬٦۸۷٬٤٦۲ |
| اداره مستقل انکشاف زون پایتخت | زون اقتصادی ولسوالی سروبی | ٦٬۷۰۰٬۰۰۰ | - |
| اداره مستقل انکشاف زون پایتخت | اعمار سرک مواصلاتی کابل | ۱۰٬۳۳۸٬۸۳۹ | - |
| اداره مستقل انکشاف زون پایتخت | اعمار ۲ کیلومتر سرک مواصلاتی میدان هوای کابل به شاهراه جلال آباد | ۱۰٬۳٦۳٬۳۳۹ | - |
| اداره مستقل انکشاف زون پایتخت | اعمار ۵۰ کیلو متر سرک های شهر و نواحی (سنگ فرش) | ٦٦٬۹۷٦٬٦۲٤ | - |
| اداره مستقل انکشاف زون پایتخت | اعمار ۱۰ کیلومتر سرک اتصالی ناحیه ۱۰ | ۱۰٬۰۰۰٬۰۰۰ | - |
| اداره مستقل انکشاف زون پایتخت | ساحه امن کابل | ۱۷۱٬٦۸۷٬٤۲۸ | ۳۹٬۲۹۸٬۱۲۹ |
| **مجموع** | | ۱٦٬۳۷۲٬۱۵۱٬۹۸۲ | ۷٬۷۲٦٬۱۵۹٬٦۹۲ |

# څلورم څپرکی

## پروسس وتجارت انگور،ایجاد سردخانه ها و مراکزبسته بندی آن

اهداف عمده این طرح ایجادسیتم معیاری به عوض سیستم موجود، ایجاد مراکز پروسس،سرد خانه ها و کشمش خانه های انگور، اشتغالزایی، رشد اقتصاد دهاقین و رشد اقتصاد ملی که در نتیجه باعث تامین مصئونیت غذایی ، کاهش فقر در ولایت کابل شده همچنان رسیدن به اهداف استراتیژی افغانستان مولد، ، تشویق صادرات و تعویض واردات با در نظر داشت زنجیره ارزش افزایی انگور میباشد.

### تحلیل اقتصادی محصول:

انگور یکی ازجمله حاصلات مهم واساسی به سطح ولایت کابل بوده که طی سال ۱۳۹٦ به مساحت ۱۹۵۷۵هکتار زمین تحت پوشش تاک انگور قرارداشته که بامعادل(۹۷۸٦۵)جریب زمین میشود تعداد ۳۰۰ اصله تاک درفی جریب میباشد بطوراوسط ازفی اصله ١٤ کیلومحصول بدست می آید که ارزش فی خریطه ۷ کیلویی انگور برابراست ۱۵۰ افغانی می باشد عاید دهقان ازفی جریب درمجموع (۹۰۰۰۰) افغانی بدست می آید . طی سال (۲۰۱٤ الی ۲۰۱۸ ) یا ۱۳۹۳ الی ۱۳۹٦ نظر به تولید آن عاید بدست می آورند که در سال ۱۳۹۳ به ارزش مبلغ ۷۳٦۷٥٤۲۲۰۰ افغانی و در سال ۱۳۹٤ به ارزش مبلغ ۹۸۰۹۸٦٤۱۰۰ افغانی در سال ۱۳۹۵ به ارزش مبلغ ۸۱۷۵٦٤۲۹۰۰ افغانی و در سال ۱۳۹٦ نظر به تولید به ارزش مبلغ ۳۸۳۰٤٤۲۹۰۰ افغانی بدست آمده است.هرگا شرایط برای کشت وزراعت مساعد گردد وازعوامل طبیعی مخرب سکتور زراعت مصون بماند بر علاوه اینکه سطح تولید بلند میرود سطح اشتغال زایی دراین بخش به طورچشم گیر وقابل ملاحظه مهیا خواهد گردید به هر اندازیکه سطح تولید محصولات افزایش یابد به همان اندازه فرصت های کاری بیشتر مساعد میگردد .پس گفته میتوانیم که یک رابطه مسقیم بین افزایش تولیدات وایجاد فرصت های کاری در این نبات وجود دارد .

### تحلیل وضعیت:

#### نقاط قوت:

- انگور از جمله نباتات است که ظرفیت باالقوه تولید و صادرات را دارد
- سطح اشتغال زایی چشم گیر دراین بخش
- مرکز فروش تمام محصولات زراعتی تولیده شده کابل و ولایات.
- موجودیت زمین ها و ساحات مناسب برای پرورش تاکستانها
- امنیت

#### نقاط ضعف:

- نبود مارکیت مناسب ودوامدار جهت فروش محصولات زراعتی بالخصوص .
- معیاری نبودن محصولات تولید شده مطابق به ستندرد های جهانی .
- عدم آگاهی دهاقین درمورد تولید محصولات معیاری یا مراعات ننمودن معیارها (استعمال بیش ازحد ادویه جات ،کود کیمیاوی ،آلوده بودن با آفات وامراض نباتی ،عدم سورت بندی و درجه بندی نظر به( سایز، رنگ ) وغیره مشکلات انتقال محصولات ازمحل تولید الی مارکیت فروش .

- عدم معلومات اضافی درمورد محل محصول تولید شده .
- عدم حمایت دولت ازدهاقین وتجاران .
- عدم سرمایه گزاری درمورد محصول انگور .
- عدم موجودیت زیربناهای زراعتی درقسمت ذخیره گاه ، سردخانه موقتی ساحوی و درمرکز فروش محصول
- کمبود کشمش خانه ها

**فرصت ها:**

- موجودیت شرایط مساعد برای سرمایه گذاری و فعالیت های سکتور خصوصی
- موجودیت مؤسسات غیردولتی و برنامه های بزرگ وزارت زراعت برای رشد و انکشاف این بخش

**تهدیدات:**

- شیوع آفات و امراض
- کمبود آب بنا بر نوسانات بارنگی و عدم مدیریت درست منابع آبی

## نتیجه گیری :

به سطح ولایت کابل بالخصوص ولسوالی ها کوهدامن به صدها تن از افراد واشخاص به شکل مستقیم وغیر مستقیم ازطریق مصروفیت دراین بخش عواید بدست می اورند که موجودیت این نبات در راستایی مختلف زمینه کار وامرار حیات را برای مردم مساعد می سازد . پس گفته میتوانیم که درولسوالی های متذکره درسال ۱۳۹۳ برای(۳۲٤۷۲۰۰) فرد ، درسال ۱۳۹٤ برای (۳۲۵۰۵۰۰) فرد ، درسال ۱۳۹۵ برای(۳۲۵۳۸۰۰) ، درسال ۱۳۹٦ برای (۳۲٦۲۵٤۵) فرد دراین بخش زمینه کار را مساعد ساخته است. اشتغال و کار دهاقین در فی جریب زمین از مرحله آغاز فصل ( آبیاری ، کود دهی، شاخه بری ، نرم کاری ، سبزبری ، جمع آوری و بسته بندی )تا رفع حاصل انگور به تعداد ۳۳ نفر به شکل وقفه یی کار میکنند که در فی هکتار به تعداد (۱٦۵) نفر مصروف کار اند.

طوریکه به همگان معلوم است ولایت کابل مرکز فروشی تمام محصولات زراعتی ولسوالی های این ولایت بل محصولات عمده ولایات همجوار نیز شمرده میشود که محصولات دراول به مرکزکابل انتقال وسپس به ولایات و کشورهای همسایه وسایر کشورها وبازار جهان به شکل تازه ویا پروسس (کشمش ) شده صادرمیگردد که متاسفانه دولت درانتقال ، بسته بندی ، زمینه فروش ،مراکز پروسس محصول برای تولید کننده گان (دهاقین ) وصادرکننده گان نقش مهم واساسی را بازی نه نموده بلکه شرکت ها وتجاران محلی وملی نقش اساسی را درصادرات این اقلام رول اساسی را داشته اند که در این زمینه توجه ارگان های ذیربط مطالبه می گردد همچنان لازم دیده می شود تا بین تولید گان که همانا دهاقین عزیز وزحمتکش کشور می باشد رابطه نزدیک با تجاران محلی ،مسوولین اتاق های تجارت ،وزارت تجارت وصنایع ووزارت محترم زراعت آبیاری ومالداری تامین شود تا دراین زمینه پیشرفت های قابل ملاحظه رونما گردد.

# پنځم څپرکی

## دافغانستان د سولې او پراختيا د ملي لومړيتوبونو دبرنامو لنډيز ( ANPDF/ (NPPs

### د افغانستان جغرافيايي-اقتصادي (جيواکانوميک) موقعيت

افغانستان د يوه بډايه تاريخ او له قومي او ژبني اړخه د ګڼ شمير وګړو په لرلو سره يوه تاريخي سيمه ده. زيات شمير افغانان په جلا ټولنو کې په غرنيو سيمو په تپو او درو کې چې زموږ د جغرافيې ډيره برخه جوړوي خواره واره ژوند کوي. د ټوټه ټوټه کېدو پر لور رواني دغې طبيعي ګردلې څخه د خلاصون په موخه د ټرانسپورت اومخابراتي خدمتونو ته لاسرسي او د بازار د همغږۍ د آسانتياوو راوستلو لپاره د زيربناوو د پراختيا په برخه کې د لويې کچې پانګونې اړتيا ليدل کېږي. د څلورو لسيزو جګړې هيواد وران کړی او په ملي کچې د زيربناوو او د فعالو ادارو لرونکي اغيزمن دولت جوړولو هڅې يې له لويو ستونزو سره مخامخ کړي دي.

د ودې او پرمختګ اوږد مهاله پرمخ وړونکي ـ کرهنه، کان کېندنه او سيمه ايز سوداګرۍ- به هماغسې پاتې شي. ولې زړې لارې چارې بايد په پرمختللو لارو باندې بدلې شي. که په اغيزمن ډول ترې ګټه پورته شي، يادې عصري سرچينې به د لوړې کچې اقتصادي وده رامنځته کړي. د نړۍ په يوه ګڼ ميشته او خوځنده سيمه کې د څلور لارې پر سر د افغانستان جيوستراتيژيک موقعيت په دې معنی ده چې له ګاونډيو سره پرمختګ په موخه اقتصادي همکاريو د چټکولو لپاره زموږ هيواد د غوره موقعيت لرونکې دی. همدارنګه افغانستان بايد په عامه او خصوصي، کورنۍ او بهرنۍ دواړو برخو کې پانګونه چټکه کړي، او د وخت په تيريدو سره د ملي عوايدو پايداره سرچينې بايد د پراختيايي مرستو ځای ناستې کړي.

په افغانستان کې د جګړو اوږد تاريخ او د پانګونې نشتون ته په کتو سره د پام وړ اقتصادي ودې او ټولنيز پرمختګ ته رسيدل به پوره وخت ته اړتيا ولري. د پرمختګ د اميدوارونکي کچې سره سره به افغانستان په (۱۰) راتلونکو کلونو کې د سويلي آسياء سيمه ايز د سړي سر ناخالصو ملي عوايدو تر ټولو ټيټه کچه ولري. نسبي يا د منځنۍ کچې عايد ته د ژوند د سطحې لوړولو په برخه کې د پرمختګ تګلاره، په کلونو او يا هم په يوه لسيزه کې نه بلکې بايد په څو لسيزو کې اندازه کړلای شي. ولې بيا هم ډيره اړينه ده ترڅو د يوه سوله ايز او سوکاله هيواد بنسټونه اوس کېښودل شي.

زموږ تګلاره هم بايد پر واقعيتونو ولاړه وي. په لنډ وخت کې د ودې لرليد ناڅرګند دی. تر هغه پورې چې افغانستان کې سوله نه وي راغلې، په لويه کچه د نوې خصوصي پانګې اچونې احتمال کم بريښي. عامه پانګونه، چې په ځانګړې توګه د پراختيايي اقتصاد له کبله منځته راځي هغه به هم له ستونزو سره مخ شي. د پرمختګ شريکان به په افغانستان کې د پرمختګ مهم مالي ملاتړ کوونکي پاتې شي، خو د دوی ملاتړ به په راتلونکو ۵ څخه تر ۱۰ کلونو پورې کم شي. د وخت په تيريدو سره بايد دوامداره کورنۍ سرچينې د نړيوال ملاتړ ځای ونيسي. په لنډه موده کې د يوې دوامداره بوديجې په لورې تګ او د افغانستان د اوږد مهاله پراختيا بنسټ ايښودل زمونږ لپاره ترټولو مهم لومړيتوب دی.

## د ملي یوالي حکومت

**لومړني دوه کاله:** په ۲۰۱۴ زیږدیز کال کې د قدرت لیږد د افغانستان پر امنیتي، سیاسي، او اقتصادي اړخونو باندې د پام وړ اغیز وکړ. کله چې د ملي یوالي نوي حکومت واک تر لاسه کړ یواځې له یوه بحران سره نه بلکې له دریو بحرانونو سره مخ شو، تروریستانو او مخالفو وسله والو ډلو د نړیوالو ځواکونو د شمیر په کمیدو سره خپلې حملې زیاتې کړې، اقتصاد د کړکیچ خواته لاړ، او له سیالیو ډکو ټاکنو د ملي رهبرۍ پاملرنه ځانته واړوله.
نوي حکومت دا ومنله چې په اقتصاد کې بنسټیزې ستونزې تر هغه ډیرې ژورې دي چې په لومړیو کې یې اټکل شوی وو. د حکومتي کارکونکو د ګومارنې سیاسي کول د حکومت د اساسي دندو لکه پر بانکونو څارنې، عامه تدارکاتو، دفاعي اوملکي خدمتونو، قضایې او د قانون پلي کوونکې ادارو د داخلي کشالې او پراخه اداري فساد سبب ګرځیدلي. امنیت او پراختیا دواړه په خواشونکې توګه څو ټوټې شوي وو: په حقیقت کې د دې پرځای چې په څرګنده توګه ټاکلې موخې د منسجمو ملي لومړیتوبونو پربنسټ جوړ او پلې شي، د بودجې د باندې او بودجې د ننه پروژو له مجموعې څخه زیات بل څه نه وو پاتې.
حکومت د خپلې دورې لومړی کال په مهمو چارو کې د اساسي پرمختګونو په راوستلو تیر کړ.عامه تدارکات د اصلاحاتو د راوستلو په موخه مرکزي شول. له ملي لومړیتوبونو سره د بودجې بهیر د همغږۍ په موخه د عامه مالي مدیریت په برخه کې د اصلاحاتو طرحه جوړه شوه.
یو له بله سره تړلې څلور ننګونې- جګړه، اداري فساد، جنایت او بیکاري، د حکومت د اصلاحاتو د پروګرام په مخ کې مهمې آزموینې دي. په داسې حال کې چې د امنیتي خنډونو لرې کول سیاسي خبرو اترو او نظامي بریا ته اړتیا لري همدارنګه د عامه باور فضا چې د حکومت له خوا د ښه کیفیت لرونکو مساوي خدمتونو په وړاندې کولو سره رامنځته کیږي په دغه ستونزمنو شرایطو کې د حکومت د ملاتړ سبب ګرځي. خو د کاري زمینې د کچې له لوړولو پرته به افغانان د مخدره توکو ناقانونه تولید، له هیواد نه بهر مهاجرت، او د تاوتریخوالي له جرمي شبکو سره یوځای کېدو په څیر خواشینونکو کړنو لاس پورې کړي.

## سیاسي او امنیتي لرلید:

د سولې تمه لرل د دوه ګونې بلا په څیر ده، چې د پرمختګ پر ټولو لرلیدونو باندې سیوری اچوي. مورږ د ملي کمپاین یو پنځه کلن پلان جوړ کړی دی، تر څو زمونږ د امنیتي ځواکونو همغږۍ او اغیزمنتیا زیاته کړي. د افغان ملي امنیتي ځواکونو او پولیسو د ظرفیتونو دوامداره پرمختګ نه یواځې له وسله والو یاغیانو څخه د هیواد په ساتنه کې ډیر اړین دی، بلکې د غصب، انسان تښتونې او ناقانونه نیولو په څیر جرمونو په راکمولو کې چې سوداګریزې پانګونې ته یو ستر خنډ جوړوي هم خورا ارزښت لري. ځمکنیو ماینونو او له جګړو پاتې چاودیدونکو توکو هم د افغانستان ملکي وګړو ته لوی ګواښ رامنځته کړی او د پراختیایي فعالیتونو مخنیوی کوي. هره میاشت په منځنۍ توګه ۱۰۰ افغانان د ځمکنیو ماینونو او له جګړو پاتې چاودیدونکو توکو قرباني ګرځي. دغه طرحه پر دریو برخو تمرکز لري: پخلاینه، امنیت، او ثبات. مورږ د لوړې سطحې نظامي رهبرۍ کې بدلون راوستی او د افسرانو روزنه مو مسلکي کړې ده. مورږ د مهمو اساسي ملاتړ کوونکو دندو لکه، تدارکاتو، مالي مدیریت، او پلټنو په برخو کې ملکي څارنه رامنځته کړې، چې دغه څارنه به زمونږ د ځواکونو له خوا د مناسبو تجهیزاتو، تغذیې، او مدیریت ترلاسه کول ډاډمن کړي. مورږ د

اغیزمنتیا راوستلو پر وړاندې داخلي ګواښونو د له منځه وړلو کوم چې د اداري فساد له کبله منځته راغلی د سختو ګامونو پورته کول په پام کې نیولي دي.

د امنیتي سکتور لپاره د مرستندویه هیوادونو پر مرستو باندې د اتکا را کمولو په برخه کې زموږ ژمنه، له کورنیو سرچینو څخه په دوامداره توګه په زیاتې ګټې پورته کوني، د قانون او نظم د ملاتړ صندوق (LOTFA) او د امنیتي مسئولیتونو د لیږد قوماندانی( CSTC-A ) صندوقونو له سرچینو څخه په ګټه پورته کولو کې د کمښت راوړلو ته اړتیا لري.که د امنیتي سکټور لګښت په کال کې د۵ ملیارده امریکایي ډالرو شاوخوا پر ځای ثابت پاتې شي، د کمښت دغه لاره به ډېره ستونزمنه وي ترڅو خپلې موخې ته ورسیږو. سره له دې، د یادو ژمنو تر لاسه کولو لپاره موږ د کورنیو عوایدو په راټولونه کې د پام وړ ښه والی اوله اداري فساد، مالي صندوقونو څخه د ناوړه ګټې پورته کولو څخه مخنیوی او په امنیتي سکټور کې د لګښتونو د څارنې کلکو میکانیزمونو له مخې د اغیزمنتیا لوړولو ته ژمن یو.

## اقتصادي لرلید:

د افغانستان ټولیز اقتصادي لید زموږ پرځان بسیاینې تګلارې زمینه برابروي. نړیوال مالي صندوق (IMF) او نورو اقتصادي اټکلونکو ادارو په ټولیزه توګه نړیواله وده ورو اټکل کړې ده، چې د صادراتو او پانګونې د جذب په برخه کې د افغانستان پر وړتیا باندې اغیزه لري. خو د تیرو دریو کلونو په ترڅ کې مخ پرشا وده اوس دریدلې ده، که پیاوړې او اغیزمن کورني اصلاحات پلې شي نو ښایي چې د غښتلې مګر منځنۍ ودې خوا ته د بیرته را ګرځیدلو اټکل وکړو. افغانستان په لړه کچه پوروړی دی، او د لویو بهرنیو اسعارو ډېری زیرمې، او افغانیو لپاره د تبادلې د نرخ اغیزمن مدیریت لري. چې دا کار د پراختیا له پلوه د لویو اقتصادي کړنلارو بنسټ رامنځته کوی.

خو په مرستو کې چټک کمښت او همدارنګه د عوایدو را ټولولو په برخه کې کمزوری فعالیت یا د عامه مالي چارو ناسم مدیریت د بودجې د زیانمنونکو کسرونو او اقتصادي ودې د لمنځه تلو سبب ګرځیدلی.

## ۱. دخصوصي سکټور د پراختیا پروګرام

د خصوصي سکټور لپاره د مساعد چاپیریال رامنځته کول زموږ د تګلارې یوه بله ستنه جوړوي. سوله، د پانګونې لپاره غوره چاپیریال، او د باور وړ زیربیناوې د هغه خصوصي پانګې د جذب ظرفیت لري کوم چې له هیواد څخه خلیجي او نورو هیوادونه ته لیږدول کېږي.موږ به بیروکراسي را کمه کړو، د ملکیتونو ځانګیرنې به روښانه کړو، د صادراتو لپاره به آسانتیاوې برابرې کړو، د باور وړ بریښنا ترلاسه کولو ته به زمینه برابره کړو، ټرانسپورت ته لاسرسي کې به آسانتیاوې راولو، او د متشبثینو او سوداګرو شخصي خوندیتوب به تضمین کړو.

په اوسني وخت کې د نظامي وارداتو څخه بغیر افغانستان د خپلو صادراتو لس ځله ډېر واردات لري. دغه نا انډولتیا د لوی شمیر هغو تولیداتو په شمول ده چې که چیرې غوره زیربیناوې او د پانګونې غوره چاپیریال رامنځته شي د هیواد په دننه کې یې د تولید امکان شتون لري. منځني او واړه سوداګریز شرکتونه د افغان اقتصاد د ماشین د جوړولو او د ملیونونو کاري زمینو رامنځته کولو ظرفیت لري.پر منځنیو او وړو سوداګریو راڅرخیدونکې زموږ پالیسی به د سیمه ایزې غوښتنې خواب ویلو، په هغو برخو کې چې افغانستان نسبي غوره والی ولري په دغو برخو کې د وارداتو ځای ناستو توکو پراختیا ورکولو، پورونو ته د لاسرسي او د بیروکراسي له کبله د رامنځته شویو خنډونو په لرې کولو سره د وارداتو ملاتړ ته پاملرنه وکړي.

هره هغه چې موږ د خصوصي سکټور د ودې او دندو رامنځته کولو لپاره کوو، ټول یې پانګې ته اړتیا نه لري. ډیرى وخت حکومت له خپل قانوني او د قانون جوړولو ځواک څخه د پانګونې د هڅولو، د خطر او ابهام کمولو، او د پانګونې لپاره سرچینو ته د لاري پرانستلو لپاره ګټه پورته کولای شي. افغانستان د ځینو داسې بیلګو شاهد دی چې د قوانینو بدلون د پانګونې د زیاتوالي او په خدمتونو کې ښه والي سبب شوی. د بیلګې په ډول، د مخابراتو په برخه کې د حیرانتیا وړ پرمختګ چې خصوصي مخابراتي شبکو ته د جواز ورکولو له کبله رامنځته شو. د انرژي د مقرراتو په برخه کې اصلاحات به ډیر ژر د انرژۍ خپلواک تولیدونکي رامنځته کړي چې په ملي شبکو باندې به بریښنا پلوري. د حکومت مقرراتي پروسه ډیرى وخت د منلو وړ اصول لري، لیکن د هغو پلي کول بیلا بیلې مرحلې لري چې د بډو او کم ظرفیتي سبب ګرځي. موږ په سوداګریزو پروسو کې اصلاحاتو ته ژمن یو او په لویو اړونده وزارتونو کې اداري او د خدمتونو وړاندې کولو پروسو د ساده کولو پلان لرو. یاد کړه نوښتونه یو واحد مرکز له ځان سره لري چې د خدمتونو خواره واره وړاندې کول به یوه ځانګړي موقعیت ته راولي ترڅو د وړاندیزونو په کچې سره د ثبتولو پروسه ګړندی شي. یادې هڅې به له الکترونیکي اداري اړوند اصلاحاتو سره یوځای شي چې موخه یې د اغیزمنتیا ډیرول دي.

د مقرراتو سمون د بیوزلو له خوا د پانګونې سبب هم ګرځیدلای شي. مونږ اوس مهال د ښاري بیوزلې هڅوو، ترڅو پخپلو کورونو او وړو سوداګریو کې د ځمکو د تصدیق لپاره د ملي پروګرام له لارې پانګونه وکړي چې په ټولو لویو او وړو ښارونو کې د اجاري ضمانت وړاندې کیږي. ګرځنده تلیفون له لارې د بانکي خدماتو پرانستل او الکترونیکي تادیاتو ته اجازه ورکول به په راتلونکي کې د بیوزلو او یا لیرې شویو ټولنو لپاره چې نورو مالي سیستمونو ته لاسرسی نلري د راکړې ورکړې او ګټې لګښتونه را کم کړي.

## خصوصي سکټور د ودې له لارې د کاري فرصتونه رامنځته کول

د خصوصي سکټور د ودې پراخولو لپاره زموږ موخې په لاندې ډول دي:

- د اغیزمنو او د سیالی ډک بازارونو رامنځته کول.
- د منځنیو او وړو سوداګریو، په ځانګړي ډول د صادراتو اړوند افغاني شرکتونو غښتلی کول.
- د کورني او بهرنی پانګونې هڅول
- د خصوصي سکټور لپاره د یو توانمنونکي چاپیریال رامنځته کولو لپاره زموږ وسایل په لاندې ډول دي :
- د (ISO) له معیارونو سره دخدمتونو او تولیداتو برابرولو په برخه کې له افغان شرکتونو سره مرسته کول،
- د سوداګرۍ د ملاتړ خدمتونه د لاسرسي وړ او اړوند ګرځول.
- د ګاونډیو هیوادونو سره د ګمرکونو ترمنځ د تړونونو پراخول.
- په افغان سفارتونو کې د سوداګریزو اتشو ډیرول.
- د دوه اړخیزو او څو اړخیزو تړونونو پراخول.
- د (TIR) کنوانسیون مطابق بل هیواد ته د بار وړونکو موټرو ننوتلو تر اجازې لاندې د توکو پر نړیوال لیږد باندې د ګمرکونو کنوانسیون پلي کول او همدارنګه د ترانسپورت او لوجستیکي سکټور پیاوړي کول.
- کورنیو تدارکاتو او د وارداتو قانونی ځای نیوونکو توکو ته پراختیا ورکول.
- د خصوصي سکټور د سروې په وسایلو کې د ښه والي راوستل او معیاري کول.
- د صنعتي پارکونو او ځانګړو اقتصادي زونونو ملاتړ او جوړول.

- د غیر ضروري شرایطو د لرې کولو په موخه د جواز پر شرایطو بیاکتنه.
- پانګوالو ته د مالیاتي هڅونو او د پانګونو او شتمنیو حقوقي خوندیتوب برابرول.
- د یوې داسې واحدې اداري رامنځته کول چې د سوداګرۍ منسجم الکترونیکي اداري خدمتونه په کابل او اوه نورو مرکزونو کې وړاندې کړي لکه (ثبت، جواز ورکول، د ګمرکونو مالیات).

## ۲. د ولسي تړون پروګرام

افغانستان روغتیا او تعلیم ته د لاسرسی پراختیا برخې ته پاملرنه کړې ده. یاده پاملرنه به، تر۲۰۲۰ زیږدیز کال پورې د لومړنیو روغتیایي او تعلیمي خدمتونو لپاره مالي تمویل په خیر چې وار له مخکې ټاکل شوې، دوام ومومي.موږ د خپلې اوسنۍ تګلارې لپاره د دریو بدلونونو وړاندوینه کړې ده. لومړی، د روغتیا او تعلیم برخه چې نه یواځې د پوښښ پراخولو ته پاملرنه وکړي باید چې د کېفیت لوړولو ته یې هم پاملرنه وکړي. دوهم، اوسني مالي بیلګې، په ځانګړې ډول د روغتیایي خدمتونو لپاره ثابتې نه دي دواړه وزارتونه د اصلاحاتو پلانونه ترتیبوي ترڅو د روغتیایي خدمتونو په لمړنۍ بکسه کې د غوره والي او په لرې پرتو سیمو کې د سواد د کچې لوړولو په شمول یاد خنډونه له منځه یوسي. دریم، د تعلیم د نصاب او د افغانستان د کار بازار د غوښتنو تر منځ تقاطع دا په ګوته کوي چې نیږدې دوه پر دریمه برخه د پوهنتون نوي فارغین بیکاره دي.

د ولسي تړون د ملي لومړیتوب پروګرام به د تعلیم، روغتیا، لمړنۍ کلیوالي زیربیناوو، او کرهنیزو خدمتونو په برخه کې د خدمتونو د وړاندې کولو لپاره میکانیزمونو ته پراختیا ورکړي. د ټولنو د پراختیا شوراء څخه په ټیټه کچه د حکومتولۍ او پراختیایي فعالیتونو لپاره د ننوتو د یوې نقطې په ډول ګټه پورته کولو سره د منشور موخه د بیوزلۍ را کمول او د ناامنۍ او تاوتریخوالي له منځه وړل دي. د وګړو منشور زموږ د پراختیایي لرلید کیلي ده. د کلیوالو ټولنو، ولسوالیو، ولایتونو، او مرکزي سطحې یو له بله سره نښلول د حکومت له بشپړو هڅو څخه دي، ترڅو ټولییز پرمختګ ته پراختیا ورکړي او د تیر وخت په خیر د پراختیا څو ټوټې شویو تګلارو څخه د مخنیوي په برخه کې مرسته وکړي. یاد تړون به ټولنې د پراختیا د پروسې په مرکز کې راولي، او دوی ته به د خدمتونو د وړاندې کولو څخه د څارنې او د پراختیایي لومړیتوبونو د ټاکلو لپاره وسایل او میکانیزمونه په اختیار کې ورکړي.ټولنې به د ګټه ترلاسه کوونکو په پیژندنه، د غوښتنې په رامنځته کېدو، او همدارنګه د پرمخ وړلو او ساتنه کې مهم رول ولوبوي. د وګړو منشور به د ټولنو د پراختیایي مرکزونو (CDCs) ظرفیت جوړونه وکړي او له پورته نه ښکته د حساب ورکونې اړین ګامونه پورته کړي ترڅو یقیني شي چې زیانمن کېدونکي ډلې لکه ښځې، راستنیدونکي کډوال، په هیواد کې دننه بې ځایه شوي خلک، کونډې، او معلولین د پراختیا په پروسه کې شامل شوي دي.

## ولسی تړون به د خدمتونو لړ تر لړ معیارونه وړاندې کړي

تر ۲۰۲۶ زیږدیز کال پورې به دولت د ټولو خلکو لپاره د خدمتونو د اساسي خدماتو وړاندې کول تضمین کړي. په راتلونکو څلورو کلونو کې به یاد پروګرام ۱۲،۰۰۰ ټولنو له لارې په ټولو ۳۴ ولایتونو کې لاندې خدمتونه وړاندې کړي:

- په ملي سطحه پاکو اوبو ته لاسرسی، د ۲۰،۰۰۰ شاوخوا د اوبو د ترلاسه کولو ځایونو رامنځته کول
- په دولتي ښوونځیو کې د غوره کیفیت تعلیم، د ښوونکو له حاضرۍ او د زده کوونکو لپاره د زده کړې ساعتونه څخه ډاډمن کېدل

- د روغتیايي خدمتونو لومړنی بسته، په ټولو کلنیکونو کې ټاکل شویو خدمتونو، د عملیاتو حداقل ساعتونو، او د کار ګمارنې لمړنی غوښتنو په شمول

د ټولنې تر مشرۍ لاندې د لومړیتوبونو د ټاکلو او د توپیر د څېړلو پر بنسټ، ټولنې به له لاندې برخو څخه لږ تر لږه یوه یې ولري:

- په لرې پرتو سیمو کې له نویو کېدونکو سرچینو څخه د لومړنی کچې بریښنا تولید،چې د انرژۍ د سیستېم له لارې د رسیدو وړ نه وي.
- مارکېټ ته د کلیو د لاسرسۍ د زیاتوالي په موخه د داسې سړکونو جوړول چې سر و کال پرانستي وي.
- په ټیټه کچه د اوبو لګولو او د فاضله اوبو د وتلو زیربیناوې.

## ۳. د اغیزمنې حکومتولۍ پروګرام

په افغانستان کې امنیت، بې ثباتي او لږ پرمختګ له یو بل سره نه بیلیدونکې تړاو لري. د دولت مشروعیت او اغیزمنتیا رامنځته کول پخپله یوه مهمه موخه ده. یو مشروع او ثبات لرونکې دولت ته دغه پاملرنه په لومړي ګام کې د سولې په خبرو کښې پرمختګ، د سیاسي اجماع رامنځته کول، او دامنیت ټینګښت دي. د مالکېت د حقوقو روښتیا، په ځانګړې ډول د ځمکو لپاره چې د نفوسو د لوی شمیر لپاره یوه مهمه فزیکي شتمني ده، یوه مهمه موضوع ګڼل کېږي.د افغانستان د ځمکو خپلواکه اداره (اراضي) د ملي اداري د قبالي پروګرام په رامنځته کولو سره د یادې ستونزې د له منځه وړلو لپاره کار کوي.د لومړنیو خدمتونو لکه روغتیا او تعلیم په برخو کې، په ځانګړې ډول د ښځو او نجونو لپاره د لاس ته راوړنو خوندي ساتلو ته اړتیا لري ترڅو موږ د خلکو خوندیتوب، پخپل ټاکل شوي استازي باندې باور لرل او د خپلو کورنیو لپاره د کافي عوایدو ترلاسه کول، تضمین کړو.

### الف) د عامه سکټور سمون

د عامه سکټور بنسټیز اصلاحات به د اوسنۍ اداري د کاري دورې تر پایه پورې دوام ومومي. افغانستان د هغو پالیسیو او مقرراتوله بې کچې زیاتوالي څخه اغیزمن دی کوم چې په سمه توګه نه دي پلي شوي. د پلي کولو په برخه کې د اغیزمنتیا راوستلو لپاره موږ باید د مدیریت په سیستمونو کښې اصلاحات، څارنې او مکافات راولو. په راتلونکو دریو کلونو کې به په لوړو عوایدو او لګښتونو لرونکو وزارتونو کې د فعالیتونو د مدیریت اصلاحات راوستل شي. د ملکي خدمتونو او عامه اداري اصلاحات  د لوړ رتبه مدیرانو د وړتیا د لوړولو لپاره پلي شوي دي.

### د یوې اغیزمنې او ځواب ویونکې ملکي اداري  رامنځته کول

افغانستان باید یوه داسې د ملکي خدمتونو اداره رامنځته کړې چې د هیواد د ملي پرمختیایي غوښتنو ځواب ویونکې وي او د افغان نارینه او ښځینه  مساوي ګډون بهیر ته وده ورکړي. خو بیا هم یادې موخې ته د رسیدو لپاره موږ باید یو زوړ سیاسي میراث له منځه یوسو، چې د اداري فساد او غیر مشروع نفوذ له خوا خپور شوی، کوم چې د ملکي خدمتونو په بستونو کښې د لوی شمیر غیر مسلکي کار کوونکو ګمارلو سبب شوی. اصلاحات باید د هغه ناسالمو کړنو ریښې له منځه یوسي چې ډیرې ژورې شوي او غښتلي سیاسي څېرې یې قانع کړې دي. د ملکي خدمتونو مسلکي اداري رامنځته کول چې له لګښت څخه یې د ارزښت کچه ډیره وي د ټولو افغانانو په ګټه ده.

پورته یادي شوي موخې به د لاندي فعالیتونو له لاري تر لاسه شي:

- د نویو قوانینو په تصویب او د اوسنیو قوانینو په بیا کتنې سره چې په هغه کې د ملکې خدمتونو قانون هم شامل دی،د ملکي خدمتونو په برخه کې د اصلاحاتو راوستل.
- د مسلکېتوب رامنځته کول، ساتل او پیاوړي کول.
- د فعالیتونو پر بنسټ د ولاړ مدیریت پراخول.
- د ولسي ترون له لاري د خدمتونو د وړاندي کولو اغیزمنتوب زیاتول.
- د حساب ورکوني او روڼتیا پیاوړي کول، او
- د داسي لاربنود جوړول چې غوره خدمات وستایي او د فعالیت کموالی تنظیم کړي.

## ب) د اداري فساد د ریښو ایستل:

موږ په بشپړ هوډ سره د اداري فساد له منځه وړلو ته ژمن یو. د اداري فساد سره د مبارزي په برخه کې د ولسمشر عملي پلان، ستري محکمې او لویې څارنوالۍ کې د اداري فساد مخنیوی له قوي پروګرام او مناسبې رهبرۍ سره یو ځای شوی چې د معافیت کلتور به له منځه یوسي او مفسدین  به عدالت ته راکاږي. په داسي حال کې چې د امنیتي ستونزو له منځه وړل به سیاسي خبرو اترو او پوځې بریالیتوب ته اړتیا ولري، زموږ د خلکو باور لوړول په دې توګه چې موږ کولای شو د ښه کیفیت لرونکي خدمتونو په بې پرې ډول وړاندې کړو، د عامه ملاتړ پر کچه اغیزه وکړي.

## د اداري فساد پر وړاندي د حکومت د پلان عمده ټکي:

په افغانستان کې له بنسټیز اداري فساد سره د مبارزي لپاره د امنیت، اداري،اقتصاد، او حقوقي ادارو په برخو کې سترو اصلاحاتو ته اړتیا شته. هغه عمده اصلاحات چې مخکې له مخکې پر لاره اچول شوي دي په لاندي ډول دي:

- د عامه تدارکاتو بیا جوړونه، چې د ټولو لګښتونو ۲۰ سلنه جوړوي.
- د قانون د حاکمیت او اداري فساد پر ضد د مبارزي په برخو کې د عالي شورا رامنځته کول.
- د وزارت په سطحه د اداري فساد پر وړاندي د مبارزي د پلانونو ترتیبول چې پیل یې د مالیې، معدنونو او پطرولیم، سوداګرۍ او صنایعو، مخابراتو او معلوماتي ټیکنالوژۍ او ټرانسپورټ له وزارتونو څخه کېږي.
- د اداري فساد پر وړاندي د مبارزي عدلي مرکزڅخه ځانګړي ملاتړ تر څو د لوړې کچې اداري فساد وڅیړي او تر قانوني څار لاندي یې ونیسي.
- د قاضیانو او څارنوالانو د شاملیدو او بیا ځلي ازموینو په برخو کې د شرطونو اړین کول.
- د ۳۴ ولایتونو د قاضیانو تعویض او تبدیل.
- د کمپیوټری تادیاتو او الکترونیکي پلورني څخه په ګټه پورته کولو کې د زیاتوالی راوستل.

## ج) د سیمه ایزي حکومتولۍ پیاوړتیا

کله چې دولت کمزوری وي، خلک د خوندیتوب له نور ډولونو لکه غیرقانوني ملاتړ، وسله والي ملیشې او وسله والو شبکو څخه ګټه پورته کوي. موږ باید په ټولو ولایتونو او ولسوالیو کې فیزیکي او اداري شتون رامنځته کړو ترڅو عامه خوندیتوب او د امنیتي، قانوني او ټولنیزو خدمتونو وړاندې کوونکو ادارو له نظارت څخه ډاډمن شو. د سیمه ایز

حکومتونو له لارې د لګښتونو د کچې له زیاتوالي او تر ۲۰۱۹ زیږدیز کال پورې د ښاروالانو د ټاکنو په شمول د ټاکنو د پروسې له اصلاح سره یوځای دپانګونې پروګرام چې په ولسوالیو او ولایاتو کې د حکومت دایمي شتون ته پراختیا ورکړي چې دا به د ځايي حکومتولۍ د پیاوړتیا لامل وګرځي.

د ځايي حکومتولۍ د سیسټم د پیاوړیتوب او ملاتړ لپاره زموږ هڅې په لاندې ډول دي:

- د حکومت د ټولو کچو ترمنځ له ځايي ټولنې نیولې تر ملي کچې پورې د اړیکو ټینګول.
- د بودجې ترتیبولو، پلان جوړولو او پلي کولو په برخو کې د ملاتړ او همغږۍ زیاتول.
- د عوایدو ټولولو او خدمتونو وړاندې کولو په برخه کې د ښاروالیو د وړتیا لوړول.
- د ولسوالیو په سطحه د حکومت د شتون زیاتول، او
- د والیانو او ولسوالانو د ظرفیت لوړول.

## د) نشه يي توکو پر وړاندې مبارزه

افغانستان کښې د نشه يي توکو شته صنعت، د امنیت او پرمختګ په لاره پروت يو ستر خنډ دی. د نشه يي توکو ناقانونه سوداګري د بلواګرۍ د زیاتیدو سبب ګرځي او د دولت مشروعیت ته زیان رسوي. د نشه يي توکو له مصرف کوونکو هیوادونو څخه دوامداره غوښتنه او د ترانزیت په لار کې د پرتو هیوادونه له خوا د نشه يي توکو د لیږد د مخې نیولو اړوند ناکافي ګامونه، زموږ د نشه يي توکو پر وړاندې د مبارزې د تګلارې اغیزمنتیا محدوده کړې ده. د ۲۰۱۵ زیږدیز کال را په دې خوا موږ د نشه يي توکو ملي کاري پلان پلي کول پیل کړي چې د قانون پلي کول، تعلیم او عامه روغتیا یوه مسیر ته برابروي. د دې خبرې په پوهیدلو چې بریالي اصلاحات اوږد مهاله ژمنو ته اړتیا لري، په راتلونکو پنځو کلونو کې به موږ په داسې حال کې کروند ګرو ته د بدیل معیشت برابرول روان وساتو چې د پیسو مینځلو او نشه يي توکو د قاچاق پر وړاندې به قانون په جدي توګه پلي شي.

## ۴. دعدلي سکټور د رغولوپروګرام

زموږ خلک باید دا احساس وکړي چې دولت د قانون په بې طرفه پلي کولو سره عدالت رامنځته کوي. افغانستان باید د قانون د ونډې د یقیني کولو لپاره باید خپل سیستمونه له سره جوړ کړي، چې د هغه د نشتون له کبله به قراردادونه او د ملکیت حقوق خوندي نه وي او نه به شخړې د قضا او قانوني لارو حل شي. ستره محکمه او لویه څارنوالی دواړه د خپلو خدمتونو د مسلکي کولو او ټولو وګړو ته د حقوقي لاسرسي لپاره په لویه کچه داصلاحاتو پلان جوړوي.

### عدالت ته دټولو افغانانو لاسرسی:

افغانستان به یو عادلانه او منصفانه قضايي او د قانون د تنفیذ سیستم جوړکړي، چې د قواعدو او مقرراتو پر بنسټ عدالت وساتي او د نړیوالو معیارونو سره به سمون ولري. د قانون د پلې کولو سیستم به دا باوري کړي چې د قانون پر وړاندې بې له کوم تبعیضه ټول افغانان مساوي دي.

یاده موضوع به د لاندې ټکو څخه څرګنده شي:

- د هر افغان نر او ښځې لپاره عدالت ته د لاسرسي د حق تضمینول.
- د یوه روڼ او بې پرې حقوقي سیستم رامنځته کول چې د اساسي قانون او بشري حقونو نړیوالو کنوانسیونونو دقیق ډول په نظر کې نیولو سره رامنځته شوی وي.

- په هره کچه د قانون د پلي کوونکو پرسونل مسلکي ظرفیت لوړول.
- د عدلي او قانون پلي کوونکو ادارو کې د ښځو د شمیر زیاتول.
- د عدلي او قانون پلي کوونکو ادارو ترمنځ د همغږۍ زیاتول.
- له سترې محکمې څخه د اراضي خپلواکې  اداری ته د ځمکو د قضایاو د څیړلو د صلاحیت تقویض
- د قضایي ادارو په بیا جوړښت او د قضیو بریښنایي مدیریت سیستم په فعالولو سره د ځواب ورکونې او اغیزمنتیا لوړول.
- د بشري حقونو د ساتنې او د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي مخنیوې په برخو کې د جدي گامونو پورته کول.

## ۵. دکرنې د پراختیا هر اړخیز پروگرام

د افغانستان ناخالص ملي تولید د کرهنیز سکټور له فعالیتونو سره سم حرکت کوي، کوم چې د ۴۰ سلنې نفوس لپاره د کار زمینه رامنځته کوي او زموږ د اوسنیو صادراتو د پام وړ برخه جوړوي. په طبیعي ډول یو بې ثباته سکټور، لکه د افغان کرهنې د ودې مخه، د اوبو د سرچینو د پراختیا په برخه کې د لږې پانگونې، د ټیټ کیفیت لرونکو توکو لکه تخمونه او سرې، د طبیعي سرچنیو له منځه تلو، او د کورنې او صادراتي بازارموندنې لپاره کمزوري سیستم له کبله نیول شوې ده.  اقلیم د بدلون له کبله اوس درې اونۍ مخکې واوره اوبه کېږي، چې د پسرلې په لومړیو کې د ځمکې پر سر به د ډیرو اوبو د تولیدو سبب شي، او د سیلابونو د راوتلو او ځمکو د ښویدو خطر زیاتوي،او همدارنگه د وچ دوبې په میاشتو کې د کافي اوبو د نشتون ستونزه رامنځته کوي. اوسنۍ اورښت د ډیر باران اوریدلو په څیر ښکاري، نه د واورې، کوم چې د ډیرو اوبو دساتلو آسانتیاوو او د سیلابونو د مخنیوې پر وړاندې د اړینو گامونو پورته کولو اړتیا پیدا کوي.

د کرهنیزو تولیداتو د کچې لوړول به د اوبو لګولو په سرچینو، د اوبو په مدیریت، د نیالګې کېنولو پرمختللي موادو، او غوره لارو چارو په برخه کې د پام وړ څو سکټوریزه پانګونو ته اړتیا لري. د ارزښت زیاتولو کړۍ ته باید پراختیا ورکړل شي ترڅو پانګوالو ته د پانګونې لپاره ډیره انګیزه ورکړي. د غنمو او غلو زیات تولید، او کمو شویو رمو ته پراختیا ورکول به د هیواد لپاره د خوراکي توکو خوندیتوب تضمین کړي. پرمختللې ښاري او کلیوالي اړیکې چې کرهنیزو محصولاتو ته د پیرودلو، پروسس او ساتلو توکي تیاروي، د ښاري پرمختګ او د کلیو د روښانه پرمختګ سبب شي.

عامه پانګونه به په لومړیو کې کرهنیزو سکټورونو ته پاملرنه وکړي کوم چې د اقتصادي ودې لوړ قابلیت لري. اصلاح شوي تخمونه، غوره کرهنیزه ټکنالوژي، او ډیرې سرخونې او د سړیدو آسانتیاوې به له کوچنیو سهم لرونکو سره د خوراکي توکو د خوندیتوب په لوړولو او د کورنې او صادارتي بازارونو لپاره د تولید له وروستۍ کچې څخه مثبتې کچې ته د خوځښت په برخه کې مرسته وکړي. یو اوږد مهاله ظرفیت شتون لري ترڅو افغانستان له واردونکي او کرهنیز هیواد څخه په کرهنیز صنعتي صادراتي هیواد بدل کړي. یادې موخې ته رسیدل د کرهنیز صنعت پرمختګ، د کیفیت د کنټرول ښه والی، د سړیدونکو آسانتیاوو پراختیا، او د غوره بسته بندی معرفي کولو ته اړتیا لري، تر څو پورې چې د ضایع کېدو او خرابیدو څخه مخنیوی وشي.

## د کاري زمينې رامنځته کول، د حاصلاتو زياتول او کروندګرو لپاره د بازارونو پرانستل:

په راتلونکو پنځو کلونو کې به موږ:

- تر اوبو لاندې ځمکه له ۲،۲څخه ۲،۷ مليون هکتارو ته لوړه کړو
- د غنمو توليد له ۴٫۵ څخه ۵٫۹ مليون ميټريک ټنو ته لوړ کړو .

موږ به يادو موخو ته په لاندې ډول ورسيږو:

- د اوبو د اغيزمن مديريت په برخه کې د پانګونې له لارې به د ۱۰۰۰ څخه ډېرو اوبولګولو کانالونه جوړولو، د اوبولګولو نوو شبکو ته پراختيا ورکولو، او د اوبو واړه زيرمتونونو جوړول.
- د غنمو د ملي پروګرام پلي کول، ترڅو د حاصلاتو کچه ٪۲٦ لوړه شي، د ۱۱۰،۰۰۰ هکتاره تر کښت لاندې ځمکې زياتول، له حاصل اخستلو څخه وروسته په منځنۍ کچه د زيانونو راکمول، او د غنمو د زېرو د معياري بازار رامنځته کول.
- د څارويو په مديريت کې غوره والي راوستل، د (phytosanitary) د شموليت معيار او د نړيوال سوداګريز سازمان له خوا منظورشويو تعرفو ته رسيدل ترڅو زموږ له ورو سوداګرو سره په هيواد کې د شته توکو د معادلو وارداتي سيالانو د سيالۍ مخه ونيسي.
- د بنوالي ظرفيت له ۱۸۰،۰۰۰ څخه ۲۳۰،۰۰۰ هکتارو ته لوړول، د ارزښتونو لوړولو په زنځير(-value chains) کې له پانګونې څخه ملاتړ کول، د صادراتو د تصديق سند د طرزالعملونو رامنځته کول، او د بنځو له خوا پرمخ وړونکو کرهنيزو سوداګريو څخه د ملاتړ زياتول.
- د غلو د استراتيژيکي زيرمو بيا ودانول او د کروندګرو د ملاتړ لپاره د غلو د زيرمو د بورډ رامنځته کول.
- د ځنګلونو کرهنه او په ٦٠،۰۰۰ هکتارو کښې د ځنګلونو بيا ابينبودنه ، چې له چاپيريال ساتنې او د کروندګرو لپاره د عوايدو له رامنځته کولو څخه ملاتړ کوي.
- د کرهنې وزارت د بيا جوړښت، تر څو يو غير متمرکزه او کروندګرو ته ځانګړې شوې پاملرنې اداره رامنځته شي چې خصوصي پانګونه تنظيم کړي او وي هڅوي.

## ۷. دښاري پراختيا پروګرام

په ډېرو هيوادونو کې، ښارونه د جغرافيايي او نفوس د ګټو له کبله د ودې د رامنځته کېدو خوځنده مرکزونه جوړوي . افغان ښارونه لوی تاريخونه لري، ليکن اوس مهال بايد چې د ودې په محرکېنو باندې بدل شي. زموږ ښارونه د اوسيدو پر مرکزونو باندې اوښتي، چې د نوو اوسيدونکو، بې ځايه شويو خلکو، او راستنيدونکو مهاجرو لويې شميرې د جذب لپاره د اقتصادي بنسټونو له کمښت سره مخ دي. د ښاروالیو لپاره د مستقيمو ټاکنو سره چې د ۲۰۱۹ زيږديز کال لپاره پلان شوي، زموږ ښارونه به د ښاروالۍ او ښاري چارو د مديريت لپاره لوړو ظرفيتونو ته اړتيا ولري.

### خوځنده او د هستوګنې وړ ښارونه

ياد سکټور لپاره زموږ موخې په لاندې ډول دي:

- د خوځنده، خوندي، د هستوګنې وړ ښاري مرکزونو د يوې شبکې رامنځته کول
- د اقتصادي ودې په مرکزونو، کلتوري مرکزونو، او د ټولنيز يوځايوالي په مرکزونو باندې د ښاري شبکو بدلول

- د ښاري پلان جوړونې غیر مرکزي کول او د مشارکتي ښاري حکومتولۍ میکانیزمونو جوړول.

د ملي لومړیتوب ښاري پروګرام به:

- حقوقي او مقرراتي جوړښت کې غوره والی راولي، د واک لیږد به پلي کړي، او په ښارونو کې به د قانون حاکمیت ټینګ کړي.
- د ښاري زیربیناوو، په ځانګړي ډول ترانسپورټ او د اوبو ایستلو سیسټم به جوړ کړي
- ښاري پراختیایي پلانونو کې کلتوري میراث شامل کړي
- د ښاري ګاونډیتوب پرمختګ، د منطقه بندۍ یا زوننګ د اصولو رامنځته کول او پلي کول، او د مناسبو بیو کورونو ودانولو هڅول.
- د ځمکې د ملکیت د حقوقو خوندیتوب او تصدیقول، بیوزلو ته د ښاري خدمتونو په رسولو کښې د ښه والی، او په کاري فرصتونو کې د زیاتوالی راوستل.
- لویو اقتصادونو ته وده ورکول، د ښاري اقتصادي زونونو جوړول، ښارونو ته نیږدې سیمې په ښاري پراختیایي پلان کې ځای پر ځای کول.

## ۸. د انرژۍ پروګرام

زموږ د پرمختګ تګلاره د تولید کوونکو د ورتیا د لوړیدو سره تړلې ده ترڅو ښاري او نړیوالو بازارونو ته لاسرسی ومومي. د ترانسپورټ د دهلیزونو پراختیا د شخړو له کبله اغیزمنه شوې ده. خو، کمزوري ډیزاینونه (ډیر وخت د ګوګل له نقشې څخه اخیستل شوي) او د تړونونو کمزوری مدیریت دواړه په مساوي توګه ننګونکي پاتې شوي دي، چې د ټیټ کیفیت ودانیزو کارونو لپاره د لوړ لګښت سبب شوي. په راتلونکي کې له یادو ستونزو څخه د خلاصون په موخه، موږ به د سړکونو د جوړولو لپاره د تصدیق لړونکو شرکتونو د مخکې له مخکې امتیاز ورکونې پروسه پیل کړو. د ټرانسپورټ د چارواکو د اغیزمنتیا د لوړولو لپار د داسې سیسټمونو پر رامنځته کولو کار دوام لري چې دوی ته په هیواد کې د ترانسپورټ زیاتیدونکو اړتیاوو ته په ځواب ویلو کې د همغږۍ اجازه ورکوي. همدارنګه دغه هڅو کښې د سړکونو ځانګې، د سړکونو د مالي صندوق، او د ټرانسپورټ د انستیتوت جوړول شامل دي.

افغانستان د بریښنا د تولید او لیږد لپاره یو اوږدمهاله پروګرام پر لاره اچولی دی. د کاسا- ۱۰۰۰ او د ترکمنستان ۵۰۰ کیلو ولټه د بریښنا مزی کولای شي تر ۴۰۰۰ میګا واټه بریښنا ولیږدوي. د تاپي د طبیعي ګازو نللیکه له ترکمنستان څخه سهیلي آسیا ته د ګازو د لیږد په برخه کې پرمختګ رامنځته کوي. د سلما د څو موخیزه بند فعالول یوه لویه لاسته راوړنه ده او کولای شي د ترانسمیشن له پلورلو څخه د عوایدو د ترلاسه کېدو سبب وګرځي او په افغانستان کې د سوداګریزې او خصوصي بریښنا د شتون سبب شي.

د یوه ماسټرپلان په پلي کولو سره چې له کورنیو سرچینو څخه د پنځو کلونو په ترځ کې د۲،۳۰۰میګا واټه بریښنا په تولید سره او د خلورو لویو آبي بریښنا پروژو او ۶۰۰ میګا واټه له لمر، باد، او طبیعي ګاز له لارې چې دواړو پروژو ته د عامه او خصوصي ګډون له لارې پراختیا ورکړل شوې، د کورني تولید کچه مخ په زیاتیدو ده. د ۲۰۱۸ زیږدیز کال په پای ته رسیدو سره به افغانستان له نویو کورنیو سرچینو څخه تر هغه ډیره بریښنا تولید کړي چې د تیرو ۴۰ کلونو په ترځ کې د هیواد دننه تولیده شوې ده.لومړیتوب به په ملي شبکه کې پانګونې ته دوام ورکول وي، کوم چې د

سوداګريز يا صنعتي پرمختګ لپاره اساسي وړاندينی شرط دی، په داسې حال کې چې د استوګنې په انزوا شوو سيمو کې، د بيا توليد وړ بريښنا په برخه کې زياتيدونکې پانګونه په لومړيتوب کښې کرار لري.

## د زيربيناوو او انرژۍ د پراختيا لپاره د ملي لومړيتوب پروګرام

د بريښنا او انرژۍ سکټورونو لپاره زموږ موخې:

- د ښاري او کليوالي سوداګرۍ د پراختيا لپاره د ټرانسپورت د لګښت کمول
- د ۵۰۰ کيلو ولټه ملي شبکې بشپړول او د ۱۵ کلونو په ترڅ کې د انرژۍ له اړخه پر ځان بسيا کېدل.
- د مرکزي او سهيلی آسيا ترمنځ د انرژۍ له ليږد څخه د عوايدو ترلاسه کول.

يادو موخو ته د رسيدو لپاره افغانستان به:

- د خصوصي سکټور زيربيناوو پراختيا وهڅوي.
- خصوصي سکتور ته د ستراتيژيک لحاظه مهمو زيربيناوو پراختيا د چټکولو په موخه د حکومت له خوا دولتي ځمکه په اختيار کې ورکړي.
- د طرحي ترتيب او نوبت لرونکې تدارکاتو پروسه رامنځته کړي ترڅو د داوطلبۍ او بشپړيدو په وخت کې کمښت راولي.
- د زيربيناوو د انجينرانو او پروژو د مديرانو د کادرونو روزل.
- له طبيعي ګازه، نوي کېدونکې انرژۍ، او آبي بريښنا څخه په ګټې پورته کولو د کورني توليد کچه ۲،۳۰۰ميګا واټو ته لوړول.
- د کورنۍ انرژۍ د ليږد او ټرانسميشن پراختيا، په ځانګړي ډول دنوي کېدو وړ انرژۍ له لارې.
- په دې سکتور کې د نرخونو د ټاکلو او سبسايدي د جوړښت سمون .

## ۹. دکانونو او طبيعي سرچينودپراختيا ملي پروګرام:

د استخراجي صنايعو لکه کانونه او هايدرو کاربن پرمختګ به په زياتيدونکې توګه د اقتصادي ودې د محرک په توګه مهم رول ولوبوي. د رنې دواطلبۍ او اغيزمنې څارنې له لارې د هغوی دوامداره پراختيا موږ ته د ځانګړې اهميت وړ ده. وروستي راپورونه په ياد سکټور کې د دولت د قوې شتون اړتيا په ګوته کوي ترڅو د قاچاق او غيرقانوني پراختيا نورو ډولونو مخه ونيسي. له دې کبله، زموږ استراتيژيک پلان د (EITI) له بشپړ مطابقت سره د استخراجي پرمختګ د يوالي غوښتنه کوي او د دې ډاډ ورکوي چې ټول فعاليتونه به د افغانستان تاريخي ميراثونو په ساحو کې او يا دهغه ګرد چاپير د ساتنې اړوند د نړۍ غوره تګلارې وڅاري. لکه څرنګه چې حکومتولي پرمختګ کوي، موږ به د کان کېندنې برخه د نړيوالو پانګوالو پر مخ پرانيزو کوم چې د پانګې او مديريت مهارتونه وړاندې کوي ترڅو خپل بشپړ قابليت ته د رسيدو په برخه کې له ياد سکټور سره مرسته وکړي.

د کان کېندنې سکټور د عوايدو د توليد ډېر لوی قابليت لري. خو، يو کمزوری مقرراتي چاپيريال، د پانګونې د منظورۍ د ورو کېدو سبب ګرځي، او اداري فساد خو وار له مخکې په ياد سکټور کې د پرمختګ مخه ډب کړې ده او د منځنيو او ورو کانونو د رااېستلو له لارې يې د پام وړ عوايدو د ترلاسه کولو مخنيوی کړی دی. موږ به د خصوصي سکټور د پانګونو هڅونې په موخه د قانون جوړونې او مقرراتي جوړښت په برخه کې پرمختګ ته چټکتيا ورکړو. په اړينو زيربيناوو کې د پام وړ پانګونه، په ځانګړي ډول د ريل ګاډو د پټليو په برخه کې چې د کان کېندنې لويې پروژې

د بندرونو له آسانتیاوو سره تړي، او د انرژی پرمختللي ملي شبکو ته اړتیا ده ترڅو د کانونو له ظرفیت څخه پوره ګټه پورته شي.

روڼتیا او حساب ورکونه به د یاد سکټور د دوامداره پرمختګ لپاره لومړیتوبونه وي. موږ اټکل کولای شو چې غیري قانوني کان کېندنه په کال کې د ۳۰۰ ملیونه امریکایي ډالرو زیان، د شخړو د زیاتیدو، او د جرمونو د رامنځته کېدو سبب ګرځي. موږ به له (EITI) یا د استخراجي صنایعو د روڼتیا انستیتوت له غوښتنوسره برابروالی، د ګټور مالکېت د ښکاره کېدو لپاره نویو غوښتنو رامنځّته کېدل ډاډمن کړو او همدارنګه به له قانوني استخراج څخه د عوایدو تر لاسه کول یقیني کړو. د هایدورکاربن نقشه بندي او اکتشاف هم پیل شوی، خو د پام وړ سوداګریز پرمختګ به د تیلو او ګازو د نړیوالو قیمتونو لوړیدو ته انتظار باسي.

## د غوره اقتصاد لپاره د استخراجي سکټور پیاوړي کول

د کانونو او مینرالونو سکټور لپاره زموږ موخې په لاندي ډول دي:

- د منرالونو له استخراج څخه تر وروستي بریده د عوایدو لوړول،
- د کانونو د عوایدو ثبات او د وراندویني د وړتیا لوړول،
- د تیلو او ګازو د اکتشاف پراخول،
- او غیر قانوني کان کېندنو ته رسیدګي.

یاد سکټور لپاره زموږ لومړیتوبونه په لاندي ډول دي:

- د تړونونو اصلاحات او د سیمه ایزي حکومتولی مسلکي کول
- د کانونو پر سیمو باندي د حکومت د بشپړ کنټرول رامنځته کول
- له (EITI) له غوښتنو سره د کانونو د قانون مطابقت
- د لویو کانونو د را ایستلو لپاره د نړیوالو ګډونوالو را بلل
- په ترکمنستان او ایران کې له سیمه ایزو شبکو سره د ریل له لارې د بار او لیږد د نویو لارو جوړول.

## ۱۰. د بشري سرچینود پراختیا پروګرام

افغانستان کښې مهارتونه د بازار له غوښتنو سره په بشپړه توګه سمون نلري. دغه حالت به لا نور هم هغه وخت خراب شي چې د ودې تګلارې پلي کول دوام ومومي. په راتلونکي کې د بازار د غوښتنو د اټکل لپاره، به موږ په مسلکي زده کړو، انجینری، مدیریتي مهارتونو، د خدمتونو په صنعت، او په هغو اصلاحاتو چې افغان کاري ځواک لا نورهم انعطاف منونکي او ځواب ویونکې جوړوي، پانګونه وکړو. د مهاجرو او کورني بې ځایه شویو بیرته راستنیدل کولای شي خپله مثبته ونډه ولري، راوستل شوي مقرراتي اصلاحات به دوی ته د منځنیو او حرفوي زده کړو د ترسره کولو اجازه ورکړي. په جلا وطن کې لوی شوي افغان ځوان نسل لپاره دا اړینه ده ترڅو زموږ د کار په بازارونو کې مدغم شي. موږ به د پایلو پر بنسټ د ښووني د بیلګې په کارولو او د نصاب په بیاجوړولو، ارزوني، او په زده کړو کې د کړونو په راپور ورکولو سره د زده کړو کېفیت ډاډمن او د لوړو زده کړو موسسو د کېفیت تضمین لوړ کړو.

## د اقتصادي ودې د رامنځته کولو په موخه بشري سرچینو ته پراختیا ورکول

په یاد سکټور کې پانګونه به:

- د کاري ځواک د صادرولو په ګډون به موږ راتلونکي کښې د بازار د غوښتنو لپاره چمتو کړي
- د خصوصي سکټور له غوښتنو سره به د تعلیم کېفیت په غوره توګه برابر کړي
- د اوسنیو مهارتونو بنسټ به غښتلي کړي
- د وقایوي او معالجوي روغتیا په برخه کې پانګونه به د کاري ځواک کېفیت لوړ کړي

یادو موخو ته د رسیدو لپاره به موږ:

- د مسلکي روزنې له آلماني بیلګې څخه د ګټې په اخیستو سره به مهارتونو او تخنیکي زده کړو ته پراختیا ورکړو.
- د خصوصي مهارتونو د اکاډیمیو جوړول به وهڅوو؛
- د روزنې په پروګرامونو او د کار په بازارونو کښې د راستنیدونکو مهاجرو او په هیواد کې دننه بې ځایه شویو وګړو د جذب لپار آسانتیاوې په ګوته کړو
- دمعلولینو لپاره د عوایدو د ترلاسه کولو په برخه کې د ټولنې پر بنسټ رامنځته شویو کړنلارو څخه ملاتړ وکړو

## ۱۱. د ښځود اقتصادي پیاوړتیا پروګرام

موږ په ملي پراختیا کې د افغان ښځو بشپړ سیاسي، ټولنیز، او اقتصادي ګډون باوري کولو ته پوره ژمن یو. د ښځو د اقتصادي ځواکمنتیا لپاره د حکومت بودجه د ملګرو ملتونو د ۱۳۲۵ شمیره پریکړه لیک او ملي لومړیتوب پروګرام د پلي کولو په لګښتونو کې ځای پر ځای کړې ده.

د راتلونکو پنځلسو کلونو په ترڅ کې د بیوزلۍ د کمولو په برخه کې زموږ د ژمنو په پلي کولو سره به د ښځو د اقتصادي پیاوړتیا پروګرام کې تر ډېره کچې د ۲۵۰ ملیونه امریکایي ډالرو پانګونه وکړو. موږ به د اصلاحاتو یوه کړنلاره پلي کړو تر څو پورې چې د ښځو خوځښت زیات کړي، د جندر یا جنسیت د احصاییو په کېفیت کې ښه والی رواليې، او هغه قوانین چې پورونو او بازارونو ته د ښځو د لاسرسي مخه نیسي کم یا لرې کړي.

## افغانستان د جندر یا جنسیت تګلاره :

زموږ اساسي قانون ښځې ته د هیواد د یوې اوسیدونکې په څیر د مساوي حقوقو ضمانت کوي. لیکن موږ باید د بیوزلۍ  له دوران څخه د دوی د وتو لپاره د هغوی ټولنیز اقتصادي ګډون او له مارکېټونو سره د دوی د مشغولتیا زیاتول باوري کړو.

زموږ د جندر تګلاره پر پنځو ستنو ولاړه ده، چې هره یوه یې د حکومت په عملي پروګرام کې ځای لري:

- د بشري حقونو، امنیت، او د افغان ښځو لپاره له کورني تاوتریخوالي څخه د خلاصون په برخه کې زموږ د نړیوالو ژمنو پلي کول،
- د لوړو زده کړو په شمول، تعلیم او روغتیایي خدمتونو ته د پوره لاسرسي  ډاډمنول،
- د ښځو د اقتصادي پیاوړتیا د ملي لومړیتوب پروګرام پیلول،
- په بشپړ ډول د قانون پلي کولو له لارې د ښځو لپاره د اساسي قانون مطابق حقوقو خوندي ساتل،
- په حکومت او سوداګرۍ کې د ښځو د ونډې زیاتول.

# شپږم څپرکی

## په افغانستان کې د ژوند د وضعيت سروې

په ۱۳۹۵ کال کې په افغانستان کې د ژوند سروې د افغانستان د وګړو د اقتصادي او ټولنيز وضعيت په هکله د معلوماتو يوه جامع سرچينه ده چې د اروپايي ټولنې د عامه سکټور د انستيتوت ( ICON) په تخنيکي مرسته د افغانستان د اسلامي جمهوريت د احصايې د مرکزي اداري له خوا په ۱۳۹۷ کال کې خپره شوې ده.

په ۱۳۹۵ کال کې په افغانستان کې د ژوند سروې د احصايې د مرکزي اداري يو په زړه پوري او ګټور کار دی چې د دې سروې څو ګون خصوصيت د پاليسي جوړونکو او ټولو ملي او نړيوالو سازمانونو لپاره داسې يوه وسيله ګڼل کېږي چې په فرد باندې منحصره ده. د دې سروې خصوصيت دا دی چې د کوچيانو نفوس يې هم تر پوښښ لاندې نيولی او د هغه د پراختيايي شاخصونو او فصلي بدلونونو شننه او توانايي يې هم په نظر کې نيولې ده. همدارنګه د لايت په کچه د احصايې توليد او د دې سروې تداوم د پراختيايي شاخصونو ميلان هم لاسته راوړی دی.

په ۱۳۹۵ کال کې په افغانستان کې د ژوند سروې ۲۰ شاخصونه تر خپل پوښښ لاندې راوستلي چې له ۱۷ بنسټيزو موخو څخه يې ۱۲ موخې په خپله دايره کې شاملې کړې چې زياتره يې په دغه ګزارش کې وړاندې شوې دي. په افغانستان کې د ژوند سروې د کورنيو د نفوس، د کار د مارکېټ، فقر، غذايي مصوونيت، کرنه، روغتيا، ښوونه او روزنه، هستوګنځی، جنسيت او ګواښونه د خپل شموليت په دايره کې راولي چې افغان کورنۍ ورسره مخ دي. همدارنګه له يادو موخو سره د متقابلو ستراتيجيو او هغو لومړيتوبونو په هکله هم په دغه سروې کې يادونه شوې ده چې د انکشاف په موخه زموږ وګړي ورسره مخ دي.

## په ملي کچه د ژوند د وضعيت سروې :

| شاخصونه | ۲۰۰۷- ۰۸ | ۲۰۱۱-۱۲ | ۲۰۱۳-۱٤ | ۲۰۱٦-۱۷ |
|---|---|---|---|---|
| مساحت (sq.km) | ٦٥٢٨٦٤ | ٦٥٢٨٦٤ | ٦٥٢٨٦٤ | ٦٥٢٨٦٤ |
| د وګړو تجمع (په هر کيلو متر مربع کې د کسانوشتون) | ۳٥,۳ | ۳۹,۱ | ٤۰,۷ | ٤۲,٤ |
| د تړاو نسبت | ۱۰٥ | ۱۰٤ | ۱۰۰ | ۱۰۱ |
| د جنسيت نسبت | ۱۰٥ | ۱۰٥,۷ | ۱۰٥,۳ | ۱۰۳,۹ |
| د ځوانانو د سواد ميزان (۲۴-۱۵ کلن) (٪) | ۳۸,۹ | ٤٦,٦ | ٥۱,۷ | ٥۳,٦ |
| په ۱۵ کلنو يا له هغه څخه پورته کسانو کې د سواد ميزان | ۲٦,۲ | ۳۱,٤ | ۳٤,۳ | ۳٤,۸ |
| له ژېړون څخه مخکې د روغتيايي څارنو پوښښ (لږ تر لږه يوه کتنه) (٪) | ۳۲,۸ | ٥۱,۲ | ٦۳ | ۷۰,۲ |
| هغه ښځې چې د ماهر طبي پرسونل په شتون کې زېږون کوي (٪) | ۲۱,۸ | ۳۹,۹ | ٤٥,۲ | ٥۳,٤ |
| هغه ښځې د ۱۵ـ۱۹ کلنۍ عمر کې يې همدا اوس ودونه کړي دي(٪) | ۱۷,۹ | ۱۹,٥ | ۱۷,۹ | ۱٦,٤ |
| په ځوانانو کې د سواد جنسيتي توازن ( ۱۵ - ۲۴ کلن) | ۰,٤٥ | ۰,٥۲ | ۰,٥٥ | ۰,٥۷ |
| هغه متاهلې ښځې چې څو ځلې يې ودونه کړي دي له ۱۵ څخه تر ۴۹ کالو پورې (٪) | ۸,۱ | ۷,۳ | ۷,٤ | ۷,۸ |
| هغه وګړي چې د پروټين کموالی لري (٪) | ۱٥,۷ | ۱۹,٤ | ـ | ـ |
| هغه وګړي چې د پروټين او کالري کموالی لري (٪) | ٦,۱ | ۱۸,٥ | ـ | ـ |
| د روغو وګړو د تړاو نسبت | ٥,۷ | ٥ | ٤,۹ | ٥,٤ |
| د نفوس په نسبت بوختيا | ـ | ٤٥,۷ | ٤۲,۹ | ۲۳,۹ |
| د بوختيا لاندې ميزان (٪) | ـ | ٤۹,۸ | ٥٥,٤ | ۱٥,٦ |
| د بېکارۍ ميزان (٪) | ـ | ۸,۲ | ۲۲,٦ | ۳۰,۷ |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| د کاري ځواک د ګډون میزان (٪) | ـ | ٤٩,٨ | ٥٥,٤ | ٥٣,٩ |
| بې ګټې استخدام | ـ | ٢٥ | ٣٩ | ٣٩,٥ |
| په کرنه کې مشغول وګړي (٪) | ـ | ـ | ٤٤ | ٤٤,٣٢ |
| په تولید کې مشغول نفوس (٪) | ـ | ـ | ٢٢ | ١٨,٠٨ |
| په خدمتونو کې مشغول نفوس (٪) | ـ | ـ | ٣٤ | ٣٧,٥٩ |
| د فقر میزان (٪) | ٣٦ | ٣٦,٥ | ٣٩,١ | ٥٤,٥ |
| هغه نفوس چې په پرانیستې فضا کې ځواب چی کوي (٪) | ٢٤,٦ | ١٥ | ١٩,٢ | ١٣,٦ |
| هغه نفوس چې د سون له جامدو موادو څخه ګټه اخلي (٪) | ٨٣,٢ | ٧٩,٩ | ٧٥,٩ | ٧٤,٨ |
| هغه کورنی چې بریښنا لري (٪) | ٤١,١ | ٦٨,٩ | ٨٩,٥ | ٩٧,٦ |
| د کورنیو شمېر | ٧,٣ | ٧,٤ | ٧,٤ | ٧,٧ |
| هغه افراد چې په ګڼ مېشتو کورنیو کې ژوند کوي (٪) | ٣٣,٧ | ٤٣,٨ | ٤٢,٦ | ٤٣,٩ |
| په هرو سلو نفرو کې د مبایل تیلفون درلودونکو مجموعه | ٥,٨ | ١٤,١ | ١٧,٣ | ٢١,٢ |
| په هرو سلو کسانو کې د انټرنټ کاروونکي افراد | ٠,٢٧ | ٠,٥٠ | ١,٢٢ | ٢ |
| هغه کورنی چې اوبیزه ځمکه لري (٪) | ٤٠,٤ | ٣٧,٩ | ٣٦,٦ | ٣٧,٩ |
| هغه کورنی چې للمي ځمکه لري (٪) | ١٦,٤ | ١٦,٨ | ١٦,٣ | ١٩,٤ |
| هغه کورنی چې بڼ لري (٪) | ١٠,٣ | ١٢,٦ | ١٢,٦ | ١٣,١ |
| د کورنیو اړوند د اوبیزه ځمکو د اندازې اوسط (جریب) | ٦,٧ | ٦ | ٦,١ | ٤,٩ |
| د کورنیو اړوند د للمي ځمکو د اندازې اوسط (جریب) | ١٤ | ١٦,٤ | ١٣,٢ | ١٢,١ |
| د کورنیو اړوند د بنوالي ځمکو د اندازې اوسط (جریب) | ٢ | ٢ | ١,٩ | ١,٩ |

## د کابل ولایت د خلکو د ژوندانه د وضعیت په اړه ترسره شوي سروې

| شاخص ها | ۲۰۰۷- ۰۸ | ۲۰۱۱-۱۲ | ۲۰۱۳-۱٤ | ۲۰۱٦-۱۷ |
|---|---|---|---|---|
